OHCHR

UNAMA

# په افغانستان کی په خپل سر توقیف

## د عمل لپاره یوه غوښتنه



# لومړی برخه

## سپارښتونه او عمومی مطالب

د بشری حقونو څانګه، یوناما
کابل

UNAMA

OHCHR

# په افغانستان کی په خپل سر توقیف:

## د عمل لپاره یوه غوښتنه

# لومړی برخه

## عمومی مطالب او سپارښتونه

د بشری حقونو څانګه، یوناما

کابل

۲۰۰۹ کال جنوری

# فهرست

ډالۍ...................................................................................................... ب
د منني مراتب............................................................................................ج
د اجرااتو لنډيز .........................................................................................د
سپارښتنې ...............................................................................................و
۱- عمومی توضيحات...................................................................................۱
۲- په افغانستان کې د خپل سري توقيف تعريفول.............................................۴
۳- په افغانستان کې د خپل سري توقيف ډولونه ...............................................۶
٤- د ټاکل شويو نمونو اصلي علتونه ...........................................................۱۳
لومړۍ ضميمه: د ښکيلو ډلو له خوا سپارښتنې ...........................................۱۷
دويمه ضميمه: د لغاتو مجموعه ..................................................................۲۴
د صفحې د پای يادونه..................................................................................۲۵

# ډالۍ

دغه راپور زمونږ د پخوانی همکاری، اغلی کمالا جاناکیرام د یادګیرنې لپاره ډالۍ کیږي. اغلی کمالا د خپل ماموریت د پای ته رسیدو څخه وروسته په کولمبو کې د سفر په مهال ووژل شوه. د نوموړې ژمنه د دې اصل پر بنیاد چې افغانانو سره مرسته وشي تر څو د ښه ژوند خاوندان شي تر اوسه نومیالۍ ده او زیاته مننه ورڅخه کیږي.

# د منننې مراتب

یوناما غواړي چې د بشري حقوقو د ټیم څخه د هغه د زیار له امله کوم چې په دغې پروژه کې یې د ۲۰۰۶م کال د سپتمبر د میاشتې نه را په دې خوا کار کړی دی خپله مننه بیان کړي. د خپل سري توقیف د تفکیک کمپاین به پرته د هغوی د زیار، ژمنې او مسلکی کار څخه هیڅکله بریالی شوی نه و.

په ځانګړې توګه، د کیرستی فارمر، د ساجده باتول حسینی، او د داراکاتز کارونه د پروژې د بریالیتوب یوه منسجمه برخه وه. کیرستی د څارنی لومړی پړاو طرح کړ، او د دولتی او غیر دولتی همکارو موسسو ملاتړ یې ترلاسه کړ. ساجده د څارنې د دویم پړاو د مؤسساتی معلوماتو د مسوده جوړولو د پړاو یوه اساسی برخه وه. دارا دغې پروژې ته لارښوونه وکړه او د دغه راپور مسوده یې جوړه کړه.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواکه کمیسیون (AIHRC) او په ADVC کې د هغه مرستې، مشوره او ګډون د دغه راپور د تولید لپاره یوه ضروری برخه وه. همدارنګه، د کورونیو چارو د وزارت، د عدلیې د وزارت و د ستری محکمې ټینګ ملاتړ او همکاری د دغه راپور په جوړیدو کې یو بل مهم عامل و. د همکارو موسسو مرستې، لکه د نړیوالی پرمختیا او د قانون موسسې (IDLO)، د متحده ایالاتو دولتی دیپارتمنت د عدالت د سکتور د ملاتړ پروګرام (JSSP) او د بشری حقوقو د عالی کمشنری د همکارانو مرسته د ADVC دغه پروژه پیاوړې کړه. برسیره پردې، د یوناما د قانون د حاکمیت د څانګې دوامداره مرسته د دغې پروژې لپاره ډیره با ارزښته وه.

# د اجرااتو لنډيز

په ټول افغانستان کې افغانان د بيرونکي نظم په ترڅ کې د پوليسو، څارنوالانو، قاضيانو، او د توقيف د مرکز د رسمي چارواکو له خوا پخپل سري توګه بنديان کيږي. دغه ډول توقيفونه يو سيتماتيک بهير دی او په بيلابيلو بڼو رامنځته کيږي. پخپل سري توګه د افغانانو توقيفول د افغانستان د اساسي قانون او د نړيوالو بشري حقوقو د هغو معيارونو څخه تيری دی کوم چې افغانستان هغو ته ژمنه کړې ده. په ځانګړې توګه دغه ډول توقيفول د ټولو افغانانو د آزادۍ د حقوقو او د قانون څخه سرغړونه ده او همدارنګه د هغوی حيثيت ته سپکاوی دی. د خپل سري توقيفونو يوه بله ناوړه پايله دا ده چې د افغانستان د توقيف په مرکزونو کې د بنديانو ډيره زياته ګڼه ګوڼه رامنځته شوې ده. همدارنګه، پخپل سري توقيفونه د بنديانو کورنيو ته بې لزومه ټولنيز او اقتصادي ستونځې رامنځته کوي ځکه د هغوی عايدات او ټولنيز حيثيت له منځه ځي. په پراخه پيمانه پخپل سري توقيفونه د قضايي سيستم او د دولت په اړه د عامه خلکو ډاډ لمنځه وړي.

د دې لپاره چې دغه ډول توقيفونه بدلون ومومي، نو د افغانستان دولت ژمنه کړې ده چې د افغانستان په ټرون کې، د افغانستان د ملي پرمختيا په ستراتيژۍ کې او همدارنګه د ملي عدالت په پروګرام کې به سموونکي اقدامات رامنځته او پلي کړي.

په دغو زيارونو کې د دې لپاره چې د افغانستان د دولت سره مرسته وشي، د افغانستان لپاره د ملګروملتونو د مرستې ماموريت (يوناما)، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواکه کميسيون په همکارۍ په ټول افغانستان کې د کورنيو چارو د وزارت او دعدليې وزارت په توقيفونو کې د ۲۰۰۶م کال د نومبر د مياشتې نه د ۲۰۰۸م کال تر جولای پورې د بنديانو د وضعيت څارنه ترسره کړې ده. راپور د دغه څارنې څخه په استفادې سره د توقيفونو علتونه او نمونې څيړي او د هغو اقداماتو په هکله سپارښتنه کوي کوم چې د دغه راز توقيفونو په وړاندې په اغيزناکه توګه مبارزه وکړي. په دغه راپور کې هغه بنديان نه شامليږي کوم چې جګړې پورې اړه ولري او يا هغه بنديان چې د ملي امنيت د رياست يا د نړيوال نظامي ځواکونو له خوا نيول شوي وي.

لومړی، څارني و موندله چې ډير ځله افغانان پرته د حقوقي بنسټ څخه د اخلاقي جرمونو، د واده د ژمنو څخه د تيري، د کورنۍ د شخړو يا په خپلوانو باندې د فشار په پايله کې د اقرار اخيستلو له امله بنديان کيږي.

دويم، داسې نښې نښاني شته چې افغانان د دې لپاره بنديان کيږي ترڅو د خپلو و حقونو څخه تير شي، لکه په ځانګړې توګه د بيان آزادي او د ښځو ډيري بنسټيز حقونه.

دريم، افغانان پرته له دي چې د ضروري او مروجي ساتني څخه برخه مند شي توقيف کيږي، چې په دې توګه ډيرتوقيفونه پخپل سري کيږي.د دفاعې طرزالعملونو يو مهم هغه چي بايد د يوي نيوني د قونونيت په اړه چټکه او نوبتي څيړنه د يوي محکمي د لاري وسي، د افغانستان په قوانينوکي ځای نلري او نه هم د يو نيول سوی کس د نيوني د نه قانونيت په اړه د اعتراض د حق قانون سته. په دي ډول هغه خپلسري نيوني چي مخنيوی يي شونی و اجازه ورکړل سوي او ډير وخت دغه نيوني د يوه اوږده مهال لپاره وي

نورې مروجې ساتني چې موجود دي، لکه د خپل ځان پر ضد شاهدی نه ورکول او وکيل مدافع ته د لاس رسی حق دی درناوی نه دی شوی. د دفاعي سلاکار نه منل يا نشتوالي په ځانګړې توګه د دفاعي سلاکار ترلاسه کول يا شتون يوه ستونځه ده، او د دفاعي سلاکار برابرول د څارني يو حياتي ميکانيزم دی کوم چې د ډيرو پخپل سري توقيفونو مخنوی کوي او نورۍ ناوړه استفادې کموي. په څرګند ډول، د وخت محدوديت د توقيف څخه د مخه محاکمي لپاره، کوم چې د محاکمي حق پرته له ځنډ څخه تضمينوي يا بايد پريښودل شي، په منظم ډول نه رعايت کيږي، چې په پايله کې يو شمير زيات توقيفونه پخپل سري توګه ترسره کيږي.

په عمومي توګه، يوناما دې پايلې ته ورسيد چې دغه ډول توقيفونه په بنسټيزه توګه پنځو مهمو عواملو ته منسوبيږي – همدارنګه نور عوامل لکه منابع او مسلکي وړتيا هم په دې کې مهم رول لوبوي.

لومړي، په افغانستان کی د عدالت سياليزه اصول شته – لکه د عدالت رسمي سيستم، د عدالت غير رسمي سيستم، او فرهنګي او مذهبي

دودونه. دغه سياليزه اصول د احتمالي جنايت سبب ګرځي کوم چې د جنايي عدالت سيستم تر اغيزې لاندې راولي او دا په خپل وار سره د توقيف او د مروجو ساتنو د کار په هکله بيلابيلي پوهې رامنځته کوي او چارواکي تر نفوذ لاندې راولي ترڅو ځيني کسان توقيف کړي. دغه سياليزه اصول د دفاعي سلاکار په وړاندې عمومي دښمني ته لمن وهي او د ښځو په اړه د عدالت د بيلابيلو معيارونو د رامنځته کيدو سبب ګرځي.

دويم، د افغانستان حقوقي او برابرونکي چوکاټونه نا کافي دي او د چارواکو لپاره مهم حقونه يا لارښوونه نه شاملوي. دريم، د افغانستان د عدالت رسمي سيستم لا تر اوسه د پوهې، ظرفيت او وسائلو په برخه کې د مخ پر ودې مؤسساتو په توګه سيستماټيک کمزورتيا رامنځته کوي کوم چې د يو شمير پخپل سري توقيفونو سبب ګرځي. څلورم، د مجازاتو معافيت، اداري فساد او د څارني کمزوري ميکانيزمونه په ناسمه توګه د پخپل سري توقيفونو کړو وړو ته ادامه ورکوي. پنځم، د زده کړې او د ظرفيت د ودې پروګرامونه نا کافي دي چې نه شي کولای د افغانانو د عدلي پوهې او د عدالت په رسمي سيستم کې د لازمه معيارونو تر منځ اصولي نيمګړتياوې ليرې کړي.
دغه پايلې او تحليلونه د ښکيلو ډلو د يو لړ پراخ بنسټه سلا مشورو سره د يو لړ سپارښتنو بنسټ جوړوي چې څرنګه پخپل سري توقيفونه بايد اداره شي. دغه سپارښتني په بله برخه کې طرحه کيږي.

# سپارښتنې

دا لاندې سپارښــتنې د خپل ســري توقيفونو د مبارزې لپاره نورځانګړې وړانديزونه وړاندې کوي. د ANDS د ملی عدالت دســکتور ستراتيژي او د ملی عدالت د پروګرام د خپريدو په رڼا کې، د سپارښتنو ځانګړې او اړونده برخې توضيح کيږي.

## لومړی سپارښتنه

### سمدلاسه د حقوقی چوکات نوي کول ترڅو په بشپړه توګه د حقونو قانونی ساتنه ډاډه شي.

سپارښتنه کيږی چې د عدليې وزارت، د کورنيو چارو وزارت، ستره محکمه او پارلمان د نړيوالو موسسو په مرسته سمدلاسه د حقوقی چــوکات نــوی کول پيل کړي – په شــمول د جزا قانون او د لنډمهاله جنايي کړنــلاری قانون - ترڅو هغه نيمګړتياوې چې په دغه راپور کې تاکل شــوی دی د ملی عدالت د ســکتور د ســتراتيژی د دويم هدف د ترلاســه کولو د زيارونو د يوې برخې په توګه پوره او ډاډه شي. په ځانګړې توګه، د جنايي طرزالعملی قانون د مســودې د جوړولو کميټه چې مشــری يې د UNODC او JSSP په غاړه ده، د عدليې وزارت د تقنين رياست او پارلمان بايد دا لاندې تجديدونو ته لومړيتوب ورکړي:

**<u>د محاکمې څخه مخکې د توقيف په اړوند د قانونيت پريکړه: کړنلاره</u>**

- توقيف پورې اړونده پريکړې بايد د څارنوال څخه قضايي سيستم ته انتقال ومومي.
- جنايي پورې اړونده د توقيف قانونيت بايد د محکمې له خوا وروسته د دريو ورځو نيونې يا توقيف څخه تجديد شي.
- د محبوس حق ته بايد درناوی وشي ترڅو په محکمه کې د توقيف په وړاندې وننګوی او فيصله پرته د ځنډ څخه ترلاسه کړي. د دغه اصل د يوې برخې په توګه، د جنايي کړنلارې د قانون مسوده بايد دا غوښتنه وکړي چې محبوسينو ته سمدلاسه د هغو تورونو ، موضوعاتو او جرمونو په هکله خبر ورکړی کوم چې د دوی په مقابل کې بيان او دوسيه شوی وي.
- د توقيف د قانونيت دوره ای تجديد بايد مخکې د محاکمې د مودې څخه د محکمې له خوا وغوښــتل شــي (د بيلګې به توګه په هره مياشت کې يو ځلې)
- محکمې ته بايد روښــانه واک ورکړل شــي چې د محاکمې څخه مخکې په هر پړاو کې محبوس خوشــې کړې که چيرته جوته شي چې توقيف قانونی او معقول نه دی
- د محاکمې څخه د مخه د وخت حدود بايد تعديل شــي تر څو په معقوله وخت اود محبوســينو د حقوقو ســره سم د عملياتی تعادل په ترڅ کې ډيرې ښې محاکمې ډاډه او محبوسين د ډير کم ممکنه وخت لپاره توقيف شی.

د دغه نيمګړتياو د پوره کولو لپاره لازمه ده چې په عمومي توګه د جنايي کړنلارې په قانون کې، د بنديخانو او توقيفونو د مرکز په قانون کې، د محکمو په تشکيلاتی جوړښت کې او د پوليسو په قانون کې تجديدونه شامل شی.

**<u>د محاکمې څخه مخکې د توقيف په اړوند د قانونيت پريکړه: اساسي</u>**

- په روښانه توګه د هغو دلايلو لست په تفصيل سره توضيح کول کوم چې شکمن يا تورن کس ښايی د هغه له امله د محاکمې څخه مخکې توقيف شی او دا خبره بايد ډاډه شی چې نوموړی دلايل د بی ګناهې او ازادی په اړوند د اساسی قانون د تضمين او نړيوالو معيارونو سره سم وی. په ځانګړې توګه د ICPC د ځلورمې مادې تجديد بايد ډاډه شی څکه داسی ښکاری چې دغه ماده توقيف ته د جبری معلوماتو اخيستلو په موخه اجازه ورکوی.
- د CPC په نوې مسوده کې د ضمانت په مقرراتو باندې بيا کتنه تر څو د احتمالی بيګناهی د ICCPR د ۹ (۳) مادې سره سمون ولری او مالی تضمين تقويه کړی او همدارنګه نورې هغه سپارښتنې تطبيق کړی کوم چې د نړيوالو ميعارونو اوملی قانون سره سم د UNODC د حبس د بلې چارې د تطبيق د څانګې له خوا بيان شوی دی.

- د محکمــو لپــاره د مقرراتــو زیاتول تر څو د محاکمې څخه دمخه پړاو کې  مالی ضمانت او نورې چارې د توقیف په بدل کې په نظر کې ونیسی (د UNODC د راپور سپارښتونو ته مراجعه وکړی)

## د خپل سرې او ناقانونه توقیف د مخنیوی لپاره  نور تجدیدونه

- د جنایی کړنلارې د قانون په مسوده کې یوه داسې مقرره شاملول چې یوکس خپل په وړاندې باید شاهدی ورنکړای شی کوم چې د هغه د چپتیا او یا چپه خوله پاتې کیدو حق زیات شی.
- د جنایی کړنلارې د قانون په مسوده کې، د پولیسو په قانون کې، او نورو اړونده قوانینو کې د مقرارتو زیاتول تر څو په روښانه توګه د داسې توقیف مخنیوی وکړی کوم چې د جبری  معلوماتو د اخیستلو بر بنسټ  ترسره  کیږي.
- د حقوقــو لــه پلــوه د جنایی کړنلارې د قانون په مســوده کې د داســې مقرراتو پیاوړې کول کوم چې محبــوس دا حق ولری چې د پوښــتنو، اوریدلو او نورو تحقیقاتو  لکه د پولیس ، د څارنوالانو، او قاضیانو په الزاماتو کې دفاعی ســلاکار حضور ولری ترڅو محبوس ته د پوښتنو / اجرااتو د پیل په مهال خبر ورکړي.

## د خپل سرې او ناقانونه توقیف تشخیصول او اصلاح کول (د محاکمې څخه د مخه او د محکومیت څخه وروسته)

- د نړیوالو میعارونو ، ملی قانون  او د  UNODC د حبس د بلی چارې د تطبیق ځانګې  د سپارښتنو سره سم د حبس د بلې چارې د پیدا کولو لپاره د مقرراتو څیړل  او  پیاوړي کول.
- د محبوسینو د خوشې کولو د  حق به اړوند په قانون کې د لا روښانه، غښتلي او ځانګړي مقرراتو یوځاي کول  که چیرته (الف) داسې شواهد موجود نه وي چې د توقیف لپاره لار اواره کړي، (ب) د توقیف  اړونده کړنلارو په شمول د ټاکلي وخت څخه تیری شوی وي. په ځانګړې توګه دا لاندې اصلاحات باید راوستل شي:
  - o د پولیسو په قانون کې اصلاحات راوستل ترڅو داسې مقررات پکښې شامل شي چې پولیسو ته په روښانه توګه  صلاحیت ورکړل شــي چې هغه کســان خوشــې کړي چې په خپله یې توقیف کړي وي که چیرته داسې شواهد پیدا نشي چې د محبوس په هکله  بد ګمانې تایید کړي.
  - o د جنایي کړنلارې د قانون په مسوده کې د داسې مقرراتو شاملول  کوم چې دا ټکي روښانه کړي چې محبوسین باید سمدلاسه خوشې شي که چیرته نوموړي شرایط یعنی د شواهدو نشتوالی رامنځته شي، او
  - o د بندیخانې او د توقیف د مرکزونو د قانون په اړوند د ۲۰ (۴) مې مادې توضیح کول تر څو عدلیې وزارت محبوس خوشې کړي کله چې د توقیف څخه د مخه محاکمې  د وخت د حد څخه ســرغړونه وشــي، وروســته له دې چې په ســم وخت ســره محکمو، لوی څارنوالی او دفاعي سلا کار ته خبر ورکړل شوي وي.
- په قانون کې باید په روښانه توګه  بیان شي چې کومه موسسه ، او د کومې کړنلارې په واسطه پخپل سرې توقیفونه حل او فصل کړي، په شمول د دې ټکي چې څنګه د محکمې د امر په اساس د محبوس خوشې کول  کوم چې په مروجه توګه په نظر کې نه نیول کیږي.
- د هرې موسسې (د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی، محکمه) نه باید غوښتنه وشې چې د یو داخلي نظارت میکانیزم رامنځته کړي کوم چې داسې صلاحیت ولري چې د خپل سرې توقیفونو د مخنیوې او اصلاح لپاره لازمه اجرااات ترسره کړي، په شمول د داسې  معلوماتو برابرول چې د هغه په ترڅ کې به جنایي تحقیقات ترسره شي. د داخلي نظارت د میکانیزمونو کلنی عامه راپور باید پارلمان ته وسپارل شي.
- په اړونده قوانینو کې د مقرراتو زیاتول کوم چې داسې کسان خوندي کړي چې په خپل سر توقیفونه یې تشخیص کړی او د قانون له مخی یی پخپل سر توقیفیان هیله کړی او په قانوني توګه پخپل سرې توقیف شوي بندیان د ځورونې او بې اساسه اجرااتو څخه خلاصون په موخه هیله کړی.

## د جنایي عملونو په اړوند مقررات

- خپل سرې توقیف د جنایي عمل په توګه  تعریفول،
- د جزا په قانون او نورو اړونده قوانینو کې د جنسی تیری جنایت او بشري قاچاق د جنایتکاره د مرتکبینو په توګه باید تعریف شي نه د قربانیانو په توګه

## دویمه سپارښتنه

### د نظارت او حساب ورکوني توضیح او پیاوړي کول

**د مؤسساتو ترمنځ د نظارت میکانیزمونه**

- کابینه او ستره محکمه باید د مؤسساتو ترمنځ د نظارت میکانیزم رامنځته کړي تر څو د زیاتي مودې د خپل سري توقیفونو داسي قضیې حل او فصل کړي کوم چې تر اوسه د ولسوالی او ولایت په کچه نه دي حل شوي.
  د دغه کار د اجرا څخه مخکې، دا سپارښتنه کیږي چې:
  - o کابینه به د ستري محکمي په سلا د بندیخانو او د ولسوالي او ولایت په کچه د هغو کمیټو په هکله د عالي شورا قیمومیت، هدف او صلاحیت توضیح کړي کوم چې د عدلیې د وزارت د توقیف د مرکزونو په اداره باندې څارنه کوي، او دا تولې کمیټې د توقیف د مرکزونو او بندیخانو د قوانینو په ترڅ کې رامنځته شوي دي. په ځانګړې توګه دا ټکي باید جوت شي چې آیا دغه میکانیزمونه کولای شي چې پخپل سري توقیف شوي بندیان تشخیص کړي اویا یې خوشې کړي.
  - o د کورنیو چارو د وزارت په بندیخانو کې د خپل سري توقیفونو د هغو قضیو د حل لپاره چې باید بندیان د عدلیې وزارت بندیخانو ته انتقال شي، د عدلیې وزارت، د کورنیو چارو وزارت او لوی څارنوالی باید د نوموړو قضیو د حل لپاره صلاحیت او پروسه توضیح کړي.
- ترهغه وخته پورې چې نوموړی صلاحیت او پروسه توضیح کیږي او د ادارو ترمنځ د نظارت لازیات دایمی میکانیزم رامنځته کیږي، نو
  - o د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی، او د کورنیو چارو وزارت باید په ټینګه تشویق شي چې سمدلاسه او په ګډه توګه د توقیف د ټولومرکزونو، څارنوالانو او پولیسو څخه په هر ولایت کې غوښتنه وکړي چې یو غښتلی وضعي راپور دې د ټولو بندیانواو محبوسینو په هکله کوم چې د کورنیوچارو د وزارت او د عدلیې د وزرات په بندیخانو کې بندیان دي د یوې میاشتې په موده کې جوړ کړي، او کله چې ممکنه شوه مناسبه اصلاحاتي اجراات دې تر سره کړي.
    - ▪ په دغو راپورنو کې باید ټول باالقوه پخپل سري توقیفونه ذکر شي او تعقیبی اجراات یا د ځنډونو لیرئ کول باید ذکر شي.
    - ▪ راپور باید د عدلیې وزارت د محبس رئیس ته ، د کورنیو چارو د وزارت د بشري حقونو رئیس ته او د لوی څارنوال مرسیتال ته د څارنې او مناسبه مؤخذ په توګه د اجراااتو لپاره وسپارل شي.
    - ▪ د وضعیت پیاوړی راپور باید په هرو دریو میاشتو کې وسپارل شي تر هغه وخته پورې چې یو بل میکانیزم رامنځته کیږي.
  - o ستره محکمه باید په ټینګه و هڅول شي چې د ولسوالی او ولایت محکمو څخه غوښتنه وکړي چې د یوې میاشتې په موده کې داسې قضیې وټاکي چې د قانوني وخت د حد څخه زیاتې ځنډیدلي وي، او همدارنګه وروستني راپورونه دې په هرو دریو میاشتو کې وسپاري. همدارنګه ستره محکمه باید د اړونده محکمې په شمول د سترې محکمې څخه غوښتنه وکړي چې د حقوقي دعوا د ثبتولو په دفتر کې دغو قضیو او هغو قضیو ته لومړیتوب ورکړي کوم چې د وضعیت په پیاوړي راپور کې ټاکل شوي دي. همدارنګه سپارښتنه کیږي چې ستره محکمه د مراجعینو صورت حساب جوړ کړي او د هغه سره سم دې قضیو ته لومړیتوب ورکړي.

**د داخلي نظارت د پیاوړي کولو میکانیزمونه**

- په ټینګه سپارښتنه کیږي چې هره موسسه (د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی، ستره محکمه) باید د نظارت داخلي میکانیزمونه کوم چې جوړ شوي ارزیابي کړي او همدارنګه د هغوی اغیزناکتوب د خپل سري توقیفونو د ټاکنې، حل او فصل او مخنیوي په هکله د ۲۰۰۹م کال د مئ د میاشتو پورې و ارزوي، او د دغو ارزونو پر بنسټ د ۲۰۰۹م کال د جولای د میاشتې پورې دې یو داسې پلان رامنځته کړي کوم چې دغه میکانیزمونه پیاوړي کړي. په ځانګړې توګه، سپارښتنه کیږي چې د کورنیو چارو د وزارت د بشري حقونو افسران او د لوی څآرنوالی د څارنې څارنوالان او د سترې محکمې د نظارت ظرفیت باید ازماینت شي.

- د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت،او لوی څارنوالۍ باید په ټینګه خپلواړوندو د څارنې د توقیف داخلي میکانیزمونو(د بشري حقونو افسران، د توقیف د مرکز رئیسان، او د څارنې څارنوالانو ته دنده ورکړي چې په ترتیب سره د څارنې او راپور ورکولو دوره د قانوني وخت او د محدودیت او تنګوالي په نظر کې نیولو سره دې لږ تر لږه تر دوو اونیو پورې زیاته کړي.
- لکه څنګه چې په NJSS کې یادونه وشوه، سپارښتنه کیږي چې اخلاقي قوانین او مسلکي معیارونه باید رامنځته او د کورنیو چارو په وزارت، د عدلیې په وزارت، په لویه څارنوالۍ او په قضایي سیستم کې دې پیاوړي شي.

## دریمه سپارښتنه

### د ولسوالۍ، ولایت او ملت په کچه په ټولو مؤسساتو کې د همغږۍ د ښه والي لپاره کارکول

- په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د توقیف د مسائلو په اړوند د ولسوالۍ، ولایت او ملت په کچه د همغږۍ لپاره، ستره محکمه، د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت د بندیخانو او د توقیف د مرکزونو رئیسان،او لوی څارنوالي دې د عملیاتو په یوې معیاري کړنلارې باندې ترکومه ځایه چې ممکنه وي موافقه وکړي. په کړنلاره کې باید د مؤسساتو ترمنځ د دوسیو د انتقال په هکله پروتوکولونه شامل وي ، اجراات باید وشي کله چې دوسیه نامکمله وي یا ورکه وي، او څارنه دې په کړنلاره کې شامله وي کله چې د وخت د حدودو څخه تیرې کیږي.
- هڅه باید وشي چې پروژې باید په NJP کې شاملې شي کوم چې په نظر کې نیول کیږي چې د معلوماتو د اداري سیستم باید اصلاح کړي او وکړای شي چې د ولسوالۍ، ولایت او ملت په کچه پرته د ځنډ څخه د افغاني اړونده مؤسساتو له خوا پلي شي او په بشپړه توګه د کومکي ټولنه او ملګرو ملتونو له خوا باید تمویل شي. په دغه کارکې د قضې د اداري د سیستم د مسئولیت ټاکنه شاملیږي کوم چې اوس مهال د متحده ایالاتو د دولتي دیپارتمنت لپاره دعدالت د سکتور د مرستې پروګرام او د سکتور مرستندویه پروګرام یې ازمیښت کوي
- د کورنیو چارو وزارت او د عدلیې وزارت باید د نړیوالو تمویل کوونکو او مشورتي مرستې څخه په ټینګه د ګډ صلاحیت څارنیزه میکانیزمونه د رامنځته کیدو په موخه خپل فعالیت شروع کړي.

## څلورمه سپارښتنه

### د زده کړې او د ظرفیت د ودې د نوښتونو تعدیلول ترڅو د عدالت بیلابیل اصول او د لا ښو وسیلو د رامنځته کولو لپاره اړتیا په نظرکې ونیول شي.

په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د پولیسو، څارنوالي او قضایي سیستم زده کړه او د ظرفیت د ودې پروګرام دې د نړیوالو تطبیق کوونکو موسسو لکه JSSP, CSSP, UNODC, EUPOL له خوا پلي شي، او افغاني موسسات لکه د افغانستان د بشري حقونو خپلواکه کمیسیون (AIHRC ) یا دولتي موسسې په خپله باید زیاتې او تر پلان لاندې ونیول شي ترڅو چارواکي د نورو مسائلو تر ښه پوهه ترلاسه کړي:

- د عدالت اصول د رسمي عدالت سیستم او دهغوی متناسبوالي د غیر رسمي عدالت سره
- د توقیف رول او دنده او هغه حقوق کوم چې هغوی د درناوي او ساتنې په اړه مسؤولیت لري.
- د دفاعي سلاکار رول او دنده
- د قانون سره سم د ښځو د مساویانه حقوقو ساتنه او د چارواکو ژمنې د دغه حق د ساتنې لپاره او دکورنیوچارو د وزارت د کورنۍ د غبرګون د څانګو او د ښځو د چارو د وزارت رول په محلي کچه.
- د توقیف په اړوند دنده او د مروجو حقوقو محتویات
- د توقیف لپاره د نور تحقیقاتو او پوښتنو تخنیکونه،

- د خپل سري توقیف تعریف، او موجوده علاجونه
- د همغږۍ په هکله د عملیاتو معیاری کړنلارې (SOPs) او د قانون تطبیق،
- د داخلي نظارت میکانیزمونه

د بشـري حقونو دغه عملي برخې باید په معیاری لحاظ د پولیس، څارنوالانو، قاضیانو او د توقیف د کارکوونکو په پرمخ تللي زده کړه کې لازیات ښکاره شي.

د حقوقو فاکولتې په ټینګه باید وهڅول شي چې دغه مضمونونه په حقوقی تعلیم او روزنه کې یوځای کړي. همدارنګه، د حقوقو فاکولتې باید د توقیف او د توقیفیانو د حقوقو تعلیم او زده کړه منسجمه کړي.

د قانون مرســتندویه پروګرامونه باید د عدالت د ســکتور د مرســتې د پروګرامونو ســره کاروکړې تر څو د قانون جوړونکو او د هغوی د هغو کارکوونکو لپاره زده کړه رامنځته کړي کوم چې د مشــرانو جرګه او ولســي جرګه په مربوطه کمیټیو کې کارکوي. د زده کړې پروګرام باید دغه مضمونونه تر پوښــښ لاندی ونیســی خو باید داســې اصلاحات پکښې راوستل شي چې د قانون جوړولو مقررات او د پارلمان نظارتي مسئولیتونه هم پکښې شامل شي.

# پنځمه سپارښتنه

## د عامه خلکو، بندیانو او توقیفیانو لپاره د توقیف د اړونده حقوقو په هکله په ملي کچه د پوهې د زیاتوالي کمپاین پیلول

په ټینګه سپارښــتنه کیږي چې د عامه پوهاوۍ ملي کمپاین چې په NJSS کې تری غوښــتنه شــوی د توقیف د حقوقو په اړوند د اوســنیو توقیفیانو، محبوســینو او عامه خلکو لپاره کمپاین شــامل شي. د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی او ستره محکمه د افغانستان د بشري حقونو خپلواکه کمیسیون (AIHRC) او د نورو مؤسساتو په همکاری باید د دغه کمپاین څخه ملاتړ وکړي.

د پوهې د زیاتوالي وسیلې لکه د عدلیې د وزارت رساله د ښځینه محبوسینو د حقوقو په هکله کوم چې د UNODC او UNIFEM له خوا تمویلیږي باید په ټینګه حمایه او وده ومومي. د پولیس مامورینونه، د توقیف مرکزونه او د څارنوال دفترونه باید لاسي او نمایشي معلوماتی مواد ولری.

# شپږمه سپارښتنه

## د دفاعي سلاکارانو تعلیم او زده کړې حمایه او وده ورکول، د حقوقي مرستې ملي پلان او د حقوق دانانو روزل او تشکیل په هغو ولسوالیو او ولایاتو کې چې ورته اړتیا لري.

په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د عدلیې وزارت د حقوقي مرستې څانګه دی د ملی حقوقی مرستې یو سیستم رامنځته کړي لکه څنګه چې د NJSS او NJP تر قیادت لاندې غوښتل شوي دي.

- حقوقي مرســتیالان: د عدلیې وزارت د حقوقي مرســتې د څانګې، د خپلواکه مدافع وکیلانو د ټولنې او د عدالت د ســکتور د تمویل کوونکو لپاره د حقوقي مشاور سیستم باید په افغانستان کې لومړیتوب ولري. دا لاندې چارې باید په ټینګه وهڅول شي:
  - o نوي مقررات چې حقوقي مرستیالان د افغانستان په حقوقي سیستم کې رامنځته کوي باید د سیاسي او مالي له پلوه د افغانستان د دولت او د تمویل کوونکو هیوادونو له خوا یې ملاتړ وشي.
  - o د عدلیــې وزارت د خپلواکــه مدافــع وکیلانو د ټولنې په همکارۍ او د تمویل کوونکو په مرســته، بایــد یو پروګرام رامنځته

کړي زده کړه چټکه کړي او حقوقي مشاوران په هر ولایت کې توظیف کړي، او کله چې ممکنه شي د ولسوالیو مرکزونو ته دې هم وګماري. حقوقي مشــاورانو ته باید دســتور ورکړل شــي چې محبوسینو او د هغو کورنیو ته د هغوی د حقوقو او جنایي کړنلارې په هکله ســلا مشــورې برابرې کړي. (یوازې د مدافع د قانون تر قیادت لاندې یومدافع ســلاکار یا نږدې خپلوان کولای شــي چې د محبوس څخه اســتازیتوب وکړي). هغو ســاحوته چې یکې د مرستي حقوقي موسسې کار نکوي باید لومړیتوب ورکړل شي

- د مدافع ســلاکارانو شــمیر او د حقوقي مرســتو زیاتول. هغه زیارونه چې د هغه په ترڅ کې د مدافع سلاکارانو شمیر زیاتیږي باید لومړیتوب ورکړل شي.
  - o د خپلواکه مدافع وکیلانو ټولنه باید په جدي توګه خپل مقررات پلي کړي کوم چې د هغه په ترڅ کې راجستر شوی د دعوا وکیلان باید لږ تر لږه به هر کال کې د حقوقي مرستي دوه قضیې حل او فصل کړي.
  - o د عدلیې وزارت د حقوقي مرســتي څانګې باید تشــویق کوونکې امتیاز د هغو خلکو لپاره طرحه کړي کوم چې غواړي د مدافع ســلا کاران شــي، په ځانګړې توګه په لیرې پرتو ســیمو کې. تمویل کوونکي هیوادونه باید دغه ډول اجراات حمایه کړي.

# اوومه سپارښتنه

## د نوښتونو د تطبیق لپاره د لازمه بودجې او نورو منابعو بیلول

تمویــل کوونکــې هیوادونــه باید په ټینګه دې ټکي ته اړ شــي چې د NJSS او NJP تر قیادت لاندې ژمنــه وکړي چې د توقیف اړونده نوښتونو لپاره ترکومه ځایه چې ممکنه وی مالي وجهې ژرترژره برابرې کړي. همدارنګه، پارلمان او د مالیي وزارت باید دا خبره ډاډه کړي کله چې مالي وجهې ترلاسه شوې هغه باید په سم وخت سره تخصیص او تأدیه شي.

د دې لپاره چې د افغانســتان حکومت او قضایي سیســتم په بریالیتوب ســره د خپل سري توقیفونو په وړاندې مبارزه پیل کړي او د توقیف د مرکز څخه ګڼه ګوڼه کمه کړي، نو لازمه ده چې د دې لاندې برخو لپاره مالي وجهې برابرې شي:

- معاشونه او امتیازونه تر څو په کافي شمیر سره با کفایته قاضیان، څارنوالان، پولیسان، د توقیف د مرکز چارواکي او د محکمې اداري کارکوونکي پاتې شي.
- د دغو رسمي چارواکو لپاره زده کړه او د ظرفیت وده،
- د عامو پوهاوی ملي کمپاین،
- د نظارت لازمه میکانیزمونو فعاله کول.

# اتمه سپارښتنه

## انضباط او د تیری کوونکو سره قانوني دعوا کول

د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالي او ستره محکمه باید په چټکه اومناسبه توګه رسمي چارواکي په ټولو کچو کې او هــر هغــه کس کنترول کړي کوم چې د بندیانــو حقوقو، د وخت قانوني حدودو او نورو مقرراتو او حقوقي معیارونوته درناوی نکوي. په دغه انضباط کي قانوني دعوا شــاملیږي کله چې د جنایي مقرراتو څخه تیری وشــي. همدارنګه یو محرمانه میکانیزم هم باید رامنځته شی کوم چې د هغه په ترڅ کې څارنوالان، قاضیان، مدافع وکیلان، د محبوسینو خپلوان یا نور افراد وکړای شي چې د ممکنه خپل سري توقیفونو د قضیو راپور په محرمانه توګه ورکړي ترڅو دغه وړ ادعاګاني په مناسبه طریقې سره وڅیړل شي.

# ۱ـ عمومی توضيحات

## أ. پېژندګلوي

- *د کلي د مشـر د وژنـې په اړوند پوليـس د محمد په زوی باندې شکمن شو. پوليسانو محمد توقيف کړ ځکه پوليسانو د هغه زوی ونه موند.*
- *په ۲۰۰۰ م کال کې، يو سـړی د وژنې په پېښـه کې تورن او پـه درې کالـه بند باندې محکوم شـو. هېڅوک د هغه د قضيې دوسـيه نه شـي پيدا کولای ځکه هغـه پنځه کاله په بنديخانه کې محبوس دی وروسته له دې چې د هغه د جزا دوره پای ته ورسيده*
- *يوه نجلۍ د اکا د زوی سـره په زنا باندې تورنه شوه. هغه دوه مياشـتې مخکې توقيف شوه خو څارنوال لا تر اوسه د هغـې د جرم فيصله نه ده صادره کړې. د څارنوال ضرب الاجل د جرم د فيصله کولو او دوسيه کولو لپاره يو مياشت مخکې پوره شو. نجلۍ لا تر اوسه په توقيف کې پاتې ده.*
- *يو سـړی د والي سـره مخالف و. والي د ولايت په امنيه قومندان باندې امر وکړ چه هغه د پوليسـو په بنديخانه کې کوټه قلفي کړي ترڅو والي هغه لوست وروښيي.*

دا هغــه مثالونــه دي چې افغانان پخپل ســري توګه بنديان کيږي. همدارنګه دغه توقيفونه او نيونې:

أ. با اعتباره قانوني بنست نلري،

ب. دغه توقيفونه د دې لپاره ترسـره کيږي چې محبوس د خپلـو هغو اساسـي حقوقوڅخه تير شـي کوم چې د افغانسـتان د اساسي قانون يا د نړيوال قانو ن له خوا تضمين شوي دي، يا

ج. په داسـې طريقې سـره رامنځته کيږي چې د تضمين ضـروري کړنلاره نه رعايت کيږي له دې امله نيونه او توقيـف پخپل غيرقانوني شـکل اختيارکړی که څه هم په اصل[۱] کې قانوني وي

د افغانسـتان اساسـي قانون د قدرت[۲] څخه دغه ډول ناوړه استفاده منع کړې ده. دغه قانون هغه وخت توقيف ته اجازه ورکوي چې توقيف د قانون سـره سم، لازمی او معقوله وي او کله چې د ټولو معياري بهيرونو څخه پيروي وشي.

دغه اساسي قوانين او معيارونه لازمی دي ځکه د يو فرد توقيفول يو تيری کوونکی عمل او په باالقوه توګه يو له ضرر ناکه قدرتونو څخه دی چې د افغانستان دولت يې په واک کې لري.

هر ډول توقيف د دولت له خوا د محبوس ژوند په اغيزناکه توګه د مشکل سره مخ کوي او د محبوس کورنی ته ستونځه رامنځته کوي. د هر شـخص توقيفول د دې سـبب ګرځي چې د يو شـمير حقوقو څخه محروم شي، لکه د کورنی د ژوند حقوق، او د معيشت لاسته راوړل (په کوم باندې چې ښايي دکورنی غړي متکي وي). په ډيرو حالاتـو کې توقيف هم د، توقيفيانو محبوسـين او احتمالاً د هغوی کورنی د ناروغيو او نورو روغتيايي ستونځو[۳] سره مخ کوي.

### د خپل سري توقيف د مخنيوی اړتيا

کـله چه دولت په خپل سري توګه خلک توقيفـوی نو دا يوه لويه انديښـنه ده. پخپل سـري توقيفونه محبوسين د حيثيت او د عدالت د ترلاسـه کولو څخه محروموي. په ډيرو حالاتو کې پخپل سـري توقيفونه د دې سـبب ګرځي چې د نورو حقوقو څخه تيری وشي، لکه د تحقير، د سـپکاوي سـلوک يا د شکنجـې منع کول حق او د جبـری ورکيـدو رامنځته کيدنــه (کله چې ځينې کسـان په لوی لاس ورکيږي په داسـې حال کې د حکومـت په توقيف کې وي). برسـيره پردې، پخپل سـري توقيفونه کيدای شي چې د دې سبب وګرځي چې د محبوس د کورنی د حقوقو څخه تيری وشـي کله چې نوموړې کورنی ته مخنيونکی اقتصادي يا ټولنيزې سـتونځې د دغه راز توقيفونو له امله رامنځته شي.

### پخپل سري توقيفونه په افغانستان کې ادامه لري

له بده مرغه، په افغانستان کې پخپل سري توقيفونه په خواشينونکی نظم سره د ولسوالی، ولايت او مرکز په کچه ترسره کيږي. داسې قضيـې په کوم کې چې پوليسـو، څارنوالانو، محکمو او د توقيف مرکزونو پخپل سـري توګـه افراد توقيف کړي دي په انديښـمنه توګه ډير زيات تشخيص شوي دي. په افغانستان کې، پخپل سري توقيفونه د يوې جغرافيايي سـيمي يا د جنايي تور د ډول په اساس نـه جلاکيږي او نه دغـه ډول توقيفونه د جنايي مسـائلو په اړوند رامنځته کيږي.

په افغانسـتان کې ډير پخپل سـر توقيفونه په قسمي توګه د حقوقي او مقرراتي چوکاټ او د مؤسساتي لاربښوني او نظارت کمزورتيا ته منسـوبيږی. ځينـې توقيفونه د قانون څخه د سـترګې پټولو يا د ګنـاه د ګمان له امله ترسـره کيږي. ځيني پخپل سـر توقيفونه د مروجو ساتنو د نشتوالي له امله رامنځته کيږي، په داسې حال کې چې نور يې د قدرت څخه د ناوړه اسـتفادې له امله ترسره کيږي. لاتر اوســه هم يو شـمير پخپل سري توقيفونه د توقيف د چارواکو

د قانــون اوکړنــلارو څخه د غلط تصور یا غلط تفاهم په پایله کې ترسره کیږي.

**<u>د پخیل سري توقیفونو په وړاندې د مبارزې زیارونه په عمومي توګه تر اوسه پورې اغیزناکه نه دي.</u>**

ســره لــدې چــه د خپل ســري توقیفونو پــه وړانــدې د مبارزې د زیارونو لکه ښوونه او روزنه، مقررات، د پولیس ریفورم، او د اداري فســاد پر ضد کمپاینونه جریان لری، خو لاتر اوســه هم په خپل سري توقیفونه ادامه لري.

په اغیزناکه توګه د خپل ســري توقیفونو په وړاندې په مبارزه کې کمزورتیــا د دې ســبب ګرځي چــي د افغانانو ډاډ د حکومت په وړاندې کم شي او هغه زیارونه زیانمن کیږي کوم چې د هغه په ترڅ کې د قانون حاکمیت، د ښې اداري پراختیا او د بشري حقوقو ســاتنه رامینځ ته کوی. همدارنګه دغه کمزورتیا د افغانســتان د توقیــف په سیســتم کې ګڼه ګونــه زیاتوي او فزیکي فشــارونو او محدوده منابع د بندیانو حیثیت او عدالت ته دهغوی لاس رســیدنه لا زیات د خطر سره مخ کړیده.

لــه دې املــه، غښــتلو اقداماتو ته اړتیا شــته تر څو د خپل ســري توقیفونو په وړاندې مبارزه وشي.

**<u>د خپل ســري توقیفونو په وړاندې د مبــارزې لپاره د اغیزناکه اقداماتو د رامنځته کولو ژمنې</u>**

د افغانســتان دولــت په هغــه ضرورت باندې پوهیــږي چې باید د خپــل ســري توقیفونو په وړاندې مبارزه وشــي پــه دواړولکه. د افغانســتان دملي پراختیا په ستراتیژۍ کې او د افغانستان په تړون کې، د افغانستان دولت د خپل سري توقیف[4] په وړاندې د مبارزې لپــاره د حقیقي پرمختګ غوښــتنه کړې ده. د افغانســتان په تړون کې، د افغانســتان دولت ژمنه کړې ده چــې د ۲۰۱۰م کاله پورې بــه ســم اصلاحی اقدامــات خپل کړی چه د خپل ســري توقیف[5] د مختیوی لپاره طرح شوی دی. د ANDS د ملي عدالت د سکتور ســتراتیژي (NJSS) او د ملــي عدالــت پروګرام څــو اړخیزه ســتراتیژي طرحه کــړې ده ترڅو د عدالت بــا کیفیته خدمتونو ته لاس رســیدنه اصلاح کړي او د ۲۰۱۲ م کاله پورې خپل ســري توقیفونه کم شــي. ملګري ملتونه مســئولیت لري چې د افغانستان د دولت ســره د دغو اقداماتو[6] په پراختیا کې مرســته وکړي او د هغوی اغیزناکتوب[7] وڅاري.

## ب. د راپور هدف

د خپل سري توقیف د ستونځې د اوارولو لپاره د افغانستان د دولت د ژمنــو په نظر کې نیولو ســره، د یوناما د بشــري حقوقو څانګه دغه راپور د یوې وســیلې په توګه تیار کړ تر څو د افغانســتان د دولت ، د قضایي سیســتم او دهغوې د شــریکانو همکارو موسسو سره مرسته وکړي چې داسې پالیسی، قوانین، مقررات او عملیاتي کړنــلارې غــوره کړي چې د هــر راز تمرینونو مخنیوی وکړي کوم چې د خپل ســري توقیفونو سبب ګرځي. داسې انګیرل کیږي چې د افغانســتان دولت، قضایي سیســتم او د هغوی همکاران په دې پوهیدلي دي چې د پخپل سري توقیف چټک او منسجم اجراات ته اړتیالری.

## ج. د راپور جوړښت او پراختیا

د دغه راپور د تیارولو لپاره د توقیف د ۲۰۰۰ څخه زیاتو قضیو څخه اســتفاده وشــوه کوم چې د یوناما د بشــري حقوقو د ټیم او د افغانســتان د بشــري حقوقو د خپلواکه کمیسیون له خوا د ۲۰۰۶م کال د نومبر د میاشــتې نه د ۲۰۰۸م کال تر جولای پورې څارنه شویوه. دغه راپور:

۱. د خپل سري توقیفونو هغه اساسي ډولونه بیانوی کوم چې په افغانستان کې پیښیږي،

۲. دا موضوع لټوي چې ولې پخپل ســري توقیف ادامه لري (اصلي علتونه)، او د دغه تحلیل پربنسټ،

۳. سپارښتنې وړاندې کوي چې څنګه هڅې ښه والی وعمومي تر څو د خپل سري توقیف په وړاندې مبارزه وشي.

د غه راپور د محاکمې څخه د مخه او د محکومیت څخه وروسته د پړاو[8] په مهال د خپل ســري توقیفونو باندې تمرکز کوي کوم چــې د ولســوالی او ولایت په کچــه د کورنیوچارو د وزارت او د عدلیې وزارت په بندیخانو(په ترتیب ســره د پولیس نظارت خانه او د توقیف مرکزونه) کې تر سره کیږي. پاملرنه ددغی برخې د توقیف ته وشوه ځکه چه په افغانستان کې یوه لویه برخه د توقیفونو د کورنیــو چــارو وزارت او دعدلیــې وزارت پــه بندیخانوپورې اړونده توقیف جوړوی د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۸م کال د دســمبر د میاشتې را په دې خوا څه نا څه ۱۲۵۰۰ خلک د ټول افغانستان څخه د عدلیې وزارت په بندیخانو کې ساتل شوي و.

راپور په هغو توقیفونو باندې پلټنه نه کوي کوم چې د ملي امنیت د ریاســت له خوا ترســره شــوي وي او یا هغوی چــې د نړیوال نظامــي ځواکونو له خوا نیول شــوي وي. په داســې حال کې چې دغــه توقیفونه د اندیښــنې وړ دي، خــو د کورنیو چارو د وزارت او د عدلیــې وزارت د توقیفونو[9] په پرتله د ملي امنیت او نړیوالو ځواکونو پورې اړوند توقیفونه په پراخه پیمانه علناً راپور ورکړل

شوی دی. برسیره پر دې، د ملي امنیت او نړیوالو څواکونو پوري اړوند توقیفونه د څارنې لپاره یوه منظم ډېټا تیار نه و ځکه NDS او IMF یوناما او د هغه همکارو موسسو ته اجازه ورنکړه چې پرته د کوم قید و شرط څخه د بندیخانو څخه لیدنه وکړي.

## د. طریقه

دغه راپور د کورنیو چارو وزارت او دعدلیې وزارت په بندیخانو کې د توقیف د څارنې او پلټنې په اساس د ۲۰۰۶م کال د نومبر د میاشتې نه د ۲۰۰۸م کال د جولاي تر میاشتې پورې د یوناما د بشري حقوقو د ټیم له خوا د AIHRC په همکارۍ جوړ شوی دي . په دغه راپور کې ټول خوندي او دلاسرېدنې وړ ولسوالۍ شاملېږي[١٠] د کورنیو چارو وزارت، دعدلیې وزرات، لوی څارنوالۍ او د سترې محکمې د مشورې څخه وروسته دغه څارنه او پلټنه رامنځته شوه او په درېو پړاونو کې ترسره شوه.

په لومړي پړاو کې، د ۲۰۰۶م کال د نومبر د میاشتې نه د ۲۰۰۷م کال د مارچ پورې، یوناما او AIHRC په ګډه توګه منسجم شوی د څآرنې پروګرام تر سره شو په کوم کې چې ۱۰۸۹ مصاحبې د محبوسینو سره د ولسوالۍ او ولایت په کچه د کورنیو چارو وزارت او دعدلیې وزرات په بندیخانو[١١] کې ترسره شوې. کله چې ممکنه وه، هغه معلومات چې د توقیف د مرکز څخه راټول شوي و د څارنوالانو سره د مصاحبو او د محکمو د دوسیو[٢١] پلټنې له لارې مقایسه شول. پروګرام د همکارو موسسو لکه د بشري حقوقو د عالي کمیشنرۍ دفتر، د نړیوالې پر مختیا او قانون موسسه، د عدالت د سکتور مرستندویه پروژه او نورو متخصیصینو په سلامشوره او مرسته جوړ شو.

په دویم پړاو کې، د ۲۰۰۷م کال د مارچ نه تر سپتمبر پورې، معلومات راټول شول او تحلیلونه د ۹۴۳ اضافي قضیو په هکله ترسره شوه کوم چې څارنه یې د یوناما او AIHRC ساحوي او ولایتي دفترونو له خوا د بندیخانو د عادي څارنې او د نورمالو قضیو او اړونده چارواکو سره د مصاحبو په مهال ترسره شوې وه. د ۲۰۰۷م کال د مارچ نه تر جون پورې هغه ملاحظات چې د یوناما د حقوقي سیستم د ملاحظاتو پروګرام لخوا لودیځ، شمال ختیځ، مرکزي، ختیځ او شمالي سیموکې ترسره کړل، په دغه راپور کې منسجم شویدی. برسیره پر دې، د هغو قضیو پرمختګ چې د څارنې په لومړي پړاو کې تاکل شوې وې تعقیب او په دویم پړاو کې شاملې شوې .

دریم پړاو ، د ۲۰۰۷م کال د سپتمبر نه د ۲۰۰۸م کال تر جولای پورې، په هغو قضیو باندې تکیه وکړل کوم چې د یوناما دساحوي او ولایتي دفترونو له خوا په ټول افغانستان کې د عادي څارنې په مهال ملاحظه شوي و.

# ٢- په افغانستان کې د خپل سري توقيف تعريفول

## أ. د بشري حقوقو نړيوال قانون

د ملګرو ملتونو د بشـري حقوقو د کميټي سـره سـم، پخپل سري توقيفونه هغه توقيفونه نه دي چې د قانون خلاف وي، بلکه، پخپل سري توقيفونه هغه توقيفونه دي چې د دولت (په دغه قضيه کې د افغانستان دولت) له خوا تر سره کيږي او په هغه کې دغه عناصر لکه نامناسبوالی، بي عدالتي، د وړاندويني او د قانونی[١٣] پروسه نشتوالی شامليږی

د ملګـرو ملتونـو د پخپـل سـر توقيف کاري ګروپ د خپل سـر توقيف په وسيع ډول داسې تعريفوي چې:

(الف) با اعتباره قانونی بنست نلری،
(ب) د توقيـفـی و اساسـی حقوقوځخه بـد ضمن تيا کوم چې د داخلي قانون يا د نړيوال قانو ن له خوا تضمين شوي دي، ردشی، يا
(ج) پـه داسـي طريقـي سـره رامنځتـه کيږی چـې د تضمين ضـروري کړنلاره نه رعايت کيږي له دي املـه نيونه او توقيف پخپل سـري شـکل اختياروی، که څه هم په اصـل[١٤] کې قانوني وي

### د الف کټګوري

يـو توقيـف هغه وخت په خپل سـری ګڼل کيږي چـې د بيلګې په توګـه، پوليـس کوم شـخص دا چې د کوم ټاکلي قـوم وي توقيف کړی وي. داسې مقررات په قانون کې نشته چې د يوه قوم برخي لګيدل جرم وي.

### د ب کټګوري

د بيلګـي په توګـه، کله چې څارنوالان پوليس ته امر ورکړي چې کوم شخص يوازې د دې لپاره توقيف کړي چې داسې نظريه بيان يي کړي وی چې د هغوی خوښه نه وي، دا يو پخپل سری توقيف دی. دا ډول توقيـف پـدی موخه دی چه محبـوس د خپل د بيان د آزادي د حق څخه تير شي. دا ډول توقيف نه معقوله او نه لازمي وي (او اکثراً غير قانوني وي) که چيرته کوم شخص د خپل د بيان د آزادئ څخـه پـه هغو حدودو کې کار واخلي کوم چې د قانون له خوا ټاکل شوي وي.

### د ت کټګوري:

کلـه چـې يو توقيفی ونکړای شـي چـې خپل توقيـف د قانونيت وپوښـتي، نو دغه توقيف پخپل سـری شی. په داسې حال کې چې لومړي نيونه ښـايي موجه وي، خو کله چې محبوس ونکړای شي د توقيـف قانونيت تر سـوال لاندی راولي، نو پـه دغه حالت کې توقيف خپل سری وي.

دغه تعريفونه په پراخه پيمانه د سياسي او مدني حقوقو په هکله د نړيوال تړون د ٩مي مادې په اسـاس جوړ شـوي دي په کوم کې چې د افغانسـتان دولت ورته ژمـن دی/نړی توب لری. ٩مه ماده د افرادو د ازادئ او امنيت حق تضمينوي او پخپل سـري نيونه او توقيـف منع کوي. دغه مـاده بيانوي چې هيڅکوک د خپلي آزادئ څخه نشـي محروميدای (يا نشـي توقيفيدای) مګر دا چې دغه کار د مقرراتو سـره سـم او د هغو اصولو پر بنا وي کوم چې قانون وضع کړي دي. د سياسي او مدني حقوقو په هکله د نړيوال تړون (ICCPR) د ٧مـي او ١٤مي مادې سـره سـم، ٩مه ماده نوری داسـي مروجي سـاتني طرحه کوي کوم چې د غير پخپل سـري توقيـف لپاره لازمي دي (پـه دغې موضوع بانـدې به په دريمي برخي، دويم حصه کې لا زيات بحث وشـي)[٥١] (١٥). همدارنګه نور تړونونه په کوم کې چې افغانسـتان يو دولتي غړی دی پخپل سـري توقيفونه منع کوي، او په عمومـي توګه د ملګرو ملتونو د کاري ګروپ تعريف[٦١] تائيدوي.

## ب. د افغانستان قانون

د افغانسـتان اساسـي قانون په روښـانه توګه پخپل سـري او غير قانونـي توقيـف منع کوي. دغـه قانون په پراخـه پيمانه د ملګرو ملتونو د کاري ګروپ تعريف تائيدوي او عمومي اصول کوم چې د ICCPR په ٩(١) مه مادې کې طرحه شـوي منعکس کوي، د بيلګې په توګه د آزادئ څخه د يوه فرد محرميدل بايد د قانون په اساس او د حقوقي کړنلارو سره سم وي.

آزادي، کوم چې د افغانسـتان اساسـي قانون يـې توضيح کوي، د بشـريت يو طبعي حق دی او دولت بايد هغه ته درناوي وکړي او خوندي يې وساتي. اساسي قانون بيانوي چې د کوم شخص آزادي محدوديدای شـي که چيرته هغه د نورخلکو آزادي او عامه ګټې[١٧] متأثـره کـړي او يوازې په هغه حالت کې کلـه چې د قانون[١٨] په واسطه کنترول شي. همدا رنګه اساسي قانون بيانوي چې هيڅوک

پرته د قانونی[۱۹] مقرراتو څخه توقیفیدای نشي.

د افغانســتان نور قوانین دغه قانوني تضمینونه منعکس کوي او د قانوني توقیف لپاره اصول او کړنلارې تعریفوي. په دغو قوانینو کې دا لاندې اصول شاملیږي[۲۰]

- اصول:
  - o د جزا قانون ۱۹۷۶م کال[۲۱]

- کړنلارې:
  - o د جنایــي کړنــلارې لنډ مهــال قانــون (ICPC) (د عمومي کړنلارې چوکاټ، تر تجدید لاندې دی)[۲۲]
  - o د پولیس قانون (تفصیلي معیارونه د پولیسو د تمرین لپاره)[۲۳]
  - o د جنایي کړنلارې قانون ۱۹۶۵م کال، اصلاح شوی ۱۹۷۴ م کال[۲۴]
  - o د محکمو د تشکیل او جوړښت په هکله قانون[۲۵]
  - o د توقیف د مرکزونو او بندیخانو په هکله قانون (کوم چې ICPC پیاوړی کوي او هغه کړنلاره په تفصیل سره بیانوي کوم چې د توقیف قانونیت او شرایط باید تفتیش شي)[۲۶] او
  - o د ســاتن‌دوي نــو قانــون (د دفاعــي ســلاکار حق په تفصیل سره بیانوي)[۲۷]

## ج. د تعریف څخه استفاده

د افغانســتان قانــون د ملګــرو ملتونو خپل ســري توقیف د کاري ګروپ له خوا د خپل ســري د توقیف د تعریف ســره ســم په مطابقت کې دي. د دې ســره جوخت، د ملګرو ملتونو د کاري ګروپ د تعریف (د A, B او C کټګورۍ ګاني) څخه به استفاده وشي تر څو د دغه راپور لپار د خپل سري توقیف داسې تحلیل جوړ کړي کوم چې په افغانستان کې پیښیږي.

# ۳- په افغانستان کې د خپل سري توقیف ډولونه

## أ. د توقیف لپاره د حقوقي بنسټ نشتوالی (د الف کټګوري)

افغانان لا اوس هم پخپل سـري توګه پرته د کوم قانوني بنسـټ یا اصولو څخه توقیفیږي. دا لاندې د خپل سري توقیفونو د عمومي ډولونو په هکله عمومي نمونې تشـریح کوي کوم چې د څارنې په مهال تاکل شوي دي بیانوي.

### ۱- د مدني قانون اړوند شخړې د کوم لپاره چې قانون د توقیف اجازه نه ورکوي.

څارنــې ومونـدلــه چــې د څــو تیروکلونو پــه پرتله که څــه هم لږ کـم افغانـان لا اوس هم ښـایي د مدني قانون یـا د حقوقي ژمنو د سـر غړونې لپـاره توقیف شـي د کوم لپـاره چې نافـذه قانون[۲۸] د توقیف اجازه نه ورکوي. څارنه ورښیي چې د خپل سري په دغه ډول توقیفونو کې عمومًا لاندې مسائل شاملیږي:

- د کور، ځمکې یا شتمنی شخړې
- د پور لپاره خبرې اترې، معمولاً رسـمي چاراواکي د پور ورکوونکي څخه ملاتړ او د پور تأدیه تأمینوي[۲۹] او
- کورنی شخړې، چې په دې کې د واده مسائل هم شاملیږي (پـه عمومي توګه، دغه ډول مسـائل د شـرعی قوانین او مروجـو یـا د ټولنیزو تمرینـو څخه د سـر غړونې له امله منځته ته راځي).

د بیلګــې په توګه، د بدخشــان ولایت د شــهربزرګ په ولســوالی کې، پولیســو درې تنه سړي د ځمکې په هکله د شخړې له امله د ۲۰۰۷م کال د سپتمبر د ۷ – ۱۲نیټې پورې توقیف کړي دي. د ننګرهار ولایت د رودات په ولسوالی کې، پولیسو درې تننه سړي چې د ځمکې په شــخړه کې ښــکیل و د درې ورځو لپاره پردته د کوم تور څخه توقیف کړل او د ادعا له مخې هغوی وهل او ټکول شوي هم دي.

څارنــې د بامیانو او دایکندي په ولایاتــو کې د دغه ډول توقیفونو سیســتماټیکي نمونې کــوم چې د پولیســو اوڅارنوالانو له خوا تر ســره شــوې وې وموندلې. په دې وروســتیو ورځوکې د هیواد په ختیځ کې، یوه بله پیښــه ولیدل شــوه په کوم کې چې پولیســو یا د توقیف نورو چاراواکو د مدني مسئلې په اړه ښکیل اړخونه توقیف کړل تر څو رشــوت یا په جرګه کې د مســئلې په هکله یو موقف ترلاسه کړي.

### ۲- د هغه اعمال چې په قانون[۳۰] کې د جنایت په توګه نه دي ټاکل شوي

افراد ښــایي د جنایي کرنــلارې تر قیادت لانــدې د هغو عملونو لپاره په خپل سري توګه توقیف شي کوم چې د افغانستان په قانون کې د جنایت په توګه نه دي ټاکل شــوي. دخپل ســري په دغه ډول توقیفونو کې دا لاندې توقیفونه شاملیږي:

(الف) د عنعنوی/فکتوری شرعی قوانین[۳۱] څخه سر غړونه
(ب) د قانون څخه د غلطي استفادې په نتیجه کې افراد په جنایت تورن کیږي.

#### أ. د کلتوري یا شرعي قانون څخه سر غړونه

دغه ډول پخپل سری توقیف په غیر متناسبه توګه ښځې او نجونې متأثره کوي. څارنې په عمومي توګه د UNIFEM, UNODC[۳۲] او د ښــځو د چــارو د وزارت موندنې تائیـد کړي دي کوم چې یو شمیر محبوســین، په ځانګړې توګه ښځینه محبوسینې د مروج قانون یا شرعی څخه د سرغړونې (اخلاقي جنایت له امله توقیف کیږي (UNODC وموندله چې په توقیف[۳۳] کې څه ناڅه د ۵۰٪ ښځو قضیې دغه وړ وې).

- د کور څخه تیښــته: په ځانګړې توګه، هغه سړي، ښځې، هلــکان او نجونې چې د کور څخه د تیښــتې په جرم تورن کیــږي پــه وار وار توقیفیږي، او ځینــې وختونه تورن او محکومیږي، ســره له دې چې د کور څخه تیښته د جزا په قانون[۳۴] کې جرم نه دی. د ډیرو دغه ډول توقیفونو تشخیص په پــروان، هرات، کندز، بغلان، جوزجــان، بلخ او نورو هغــو ولایتونو کې شــوي کوم چې تفتیش شــوي[۳۵] دي. په ننګرهــار کې یو غټ شــمیر دغه ډول قضیې ټاکل شــوي دي. د هرات په ولایت کې، یوناما د ۲۰۰۸م کال د جولای پــه ۱۵مه نیټه یوه قضیه کشــف کړه په کــوم کې چې یوه ښــځه په زورســره د خپل لیوره ســره واده ته اړ شوې وه وروســته له هغه چې د هغې میره په حق ورسید. کله چې هغې پولیس ته شــکایت وکړ او طلاق یې واخیست، هغه د کور نه د تیښتې په تور محکومه شوه او د مرافعې محکمې په ۷ میاشتو حبس محکومه کړه.
- شــرعي محرم: ښځې د هغه سړي سره چې شرعي محرم (خلوت صحیحه) نه وي د یو ځای ګرځیدو په تور توقیف او محکــوم شــوې دي. په داســې حال کې چــې د حنفي په قانــون کــې دغه عمل د یو جرم په توګــه په نظر کې نیول

کیـږي، خو د جزا پـه قانون[36] کې جرم نــه دی. د بغلان ولایت په پلخمري کې، یوه امیدواره کونډه وروسته له دې چـې د هغې میره په حق رسـیدلی د کورنــۍ د یوه نارینه ملګري سـره په یوې خونه کې د شـتون په تور د ۲۰۰۷م کال د اپریل په ۲مه نیټه محکومه شوه.

### ب. د قانون څخه د غلطې استفادې په پایله کې یو فرد په جنایت تورن کیږي

افغان چارواکي د جنایت د قانون څخه د غلطې اسـتفادې په پایله کې داسې خلک توقیفوي چا چې جنایت نه وي ترسره کړی. د دې لپاره چې توقیف قانوني بڼه ولري نو د اجرا شوي عمل مشخصات باید د جنایت د تعریف سره سمون ولري. په دې بدعو حالاتو کې، چارواکي کوښـښ کوي چې اجرا شوي عمل د جنایت سره برابر کړي. په دې توګه، دغه توقیفونه پخپل سـري دي. د پخپل سـري ځیني توقیفونه ښایي د ملګروملتونو د پخپل سري توقیف د کاري ګروپ د تعریف سـره سـم د B تر کتګورۍ لاندې راشــي (کوم توقیف چې حق یا هغه آزادي چې د داخلي یا نړیوال قانون له خوا تصمین شوې محدودوي ).

کلـه چــې چارواکي د جنایـت د قانون څخه د غلطې اسـتفادې په اسـاس افراد توقیفوي، نو دغــه ډول توقیفونه دغو لاندینیو افرادو ته میلان کوي:

- هغه کســان چې داسې عمل ترسره کوي کوم چې د ټولنې، مذهب یا فرهنګ له پلوه نه منل کیږي
- هغه کســان چې په خپله د یوه جنایـت قربانیان وي (اکثراً ښځې)، یا
- هغه کسان چې د شخصي یا سیاسي له پلوه د بهره اخیستنې یا ناوړه کنټرول تابع دي.

خلک اکثراً د شریعت او مروجو یا ټولنیزو تمرینونو د سرغړونې له امله توقیفیږي چې په ظاهره توګه د جزا د قانون د مقرراتو په نظر کې نیولو سـره قانوني بریښي. د بیلګې په توګه، په ننګرهار کې د ۲۰۰۷م کال د فبرورۍ په ۷مه نیټه یوه ۱۶کلنه نجلۍ او یوه ۲۲کلنه ښځه د دې لپاره توقیف شول چې د ډزو له ویرې د قدم وهلو په مهال یو نږدې کور ته ولاړل. هغوی د زنا په تور تورن او محکوم شـول، سـره له دې چې تحقیقاتو وموندل چې کومه زنا پیښه شوې نه وه[37]

د جنســي تیرۍ (نارینه او ښـځینه)، کورنی تشدد، قاچاق، جبري واده قربانیان یا د ښـځو په وړاندې د خشـونت قربانیان اکثراً د جنایت په تور توقیفیږي، چې په دې توګه قربانیان په جنایت تورن کیږي. داسې ښکاري چې د جنسي تیرۍ ښځینه قربانیانو تورنول پــه زنـــا باندې یو معیـــاري تمرین[38] وي. دغــه ډول قضیې څه نا څه په هر ولایت کې د تفتیش په مهال پیدا شـوې دي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۷م کال د جنورۍ په میاشــت کې، د ننګرهار ولایت د ســرخرود د ولســوالۍ څخه یوه ۲۰ کلنه جنسي تیرۍ قرباني په زنا تورنه شـوه کله چې هغې ځارنوال ته د زبر زنا شکایت وکړ. د سمنګانو په ولایت کې، یوه ۱۵ کلنه نجلۍ د زنا په تور توقیف، تورنه او محکوم شوه وروسته له دې چې هغې پولیسوته شکایت وکړ چې د هغې سـره د هغې اکا زبر زنا کړې ده، او په پایله کې هغه امیدواره[39] شوی.

د بشري قاچاق قضیې د زبر زنا په پرتله ډیرې زیاتې نه پیښیږي، خو ورته نموني لري. د ننګرهار ولایت د اچین په ولســوالۍ کې، یوه ۲۲کلنه ښـځه په زنا تورنه شـوه وروسـته له دې چې هغه په څرګند ډول اختطاف شوه، بل سړي ته جبري واده شوه او د هغې ماشــوم ووژل شو. د کندز ولایت د قلعه زال په ولسوالۍ کې، یوه ۱۷ کلنــه نجلۍ کوم چې د کابل څخه قاچاق شــوې وه او یوه ۲۵ کلن ســړي ته جبري واده شــوې وه، د ۲۰۰۷م کال د اګســت په ۲۶مه نیټه د کور څخه د تیښــتیدو په تور محکومه شــوه (سره له دې چې د جزا په قانون کې داسې کومه مقرره نشته) او چارواکو تــه یې د خپل ځان په هکله د یــوې قرباني په توګه غلط معلومات ورکړل نه دا چې ووایي چې په بشري قاچاق کې ښکیله شوه.

همدارنګــه د جنایــي مقرراتو څخه غلطه اســتفاده کیږي کوم چې د هغــه په ترڅ کې افراد په جبري توګه د شــخصي ګټو تر لاســه کولو لپاره توقیفیږي (لکه د ځمکې د قضیې د شــخړې اوارول د کوم چا په پلوي[40] ترڅو د خبریالانو[41] او نورو سیاســي فعالیتونو مخنیوی وکړي.

## ۳- د تورن یا بد ګمانه خپل یا همکاره[42]

د خپل ســري یو بل ډول توقیــف کوم چې د تفتیش په مهال تاکل شــوي هغه د مشکوک ســړي د خپلوانو یا همکارانو توقیفول دي په ځای د دې چې مشــکوک یا تورن شخص توقیف کړي او یا په مشــکوکه یا تورن شخص باندې فشار وارد کړي ترڅو خپل ځان چارواکو ته[43] وســپاري. په داسې حال کې چې دغه ډول توقیفونه عمومًا دنژدې خپلوانو دي، خو داســې د تشخیص وړ نموني نشته چې د کوم جنایي تیرې لپاره دغه ډول توقیفونه ترسره کیږي.

کلــه چــې دغه ډول توقیفونه پیښــیږي، نو هغه د پولیــس په امر یا د ځارنوال په غوښــتنه ترســره کیږي. د بیلګې په توګه، د بغلان ولایــت د نهرین په ولســوالۍ کې، دوه تنه ســړي په ۲۰۰۷م کال کې توقیف شــول ځکه د هغوی زامن په جنایت تورن شــوي و او د ادعا له مخې د نوموړې ســاحې نه تښــتیدلي و. د بـلخ ولایت د شــولګرې په ولســوالۍ کې، څلورتنه ســړي د عدلیې وزارت په

بندیخانه کې توقیف شــول ځکه د هغوی خپلوان تورن شــول چې د ۲۰۰۵م کال[۴۴] د جــون پــه ۲۶مه نیټه درمــن ته ور واچوه. په جلال آباد کې، پولیســو د مشــکوکه غله مور او ښــځه د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر په ۶مه نیټه توقیف کړه وروسته له دې چې پولیسو ونکړای شو چې شکمن کس ونیسي. د یوناما مرستې د دواړو تنو خوشې کول تأمین کړه.

دغه ډول توقیفونه کیدای شي چې اوږدمهاله وي. د بیلګې په توګه، د بدخشان ولایت په شهر بزرګ ولسوالی کې، یو ۱۸ کلن سړی د ۷ میاشتو لپاره د عدلیې وزارت په بندیخانه کې توقیف شو، ځکه دهغه ملګری په وژنه تورن شوی و او پیدا کیدلای[۴۵] نشو.

پــه ډیرو کمو قضیو کې محکمو د تورن شــخص پر ځای خپلوان محکــوم کړي دي. یوه وروســتۍ قضیــه چې په هغه کــې یوناما منځګریتوب وکړه، د لغمان ولایت د مهترلام د ولســوالی څخه د یوه ســړي قضیه وه کوم چې زوی یې د یوې ۱۶ کلنې ښــځې په اختطاف کې تورن شوی و. محکمې نوموړی پلار په ۶ کاله بند د هغه د زوی د عمل په خاطر محکوم کړ. د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه، د مرافعې محکمې د ابتدایي محکمې اشتباه اصلاح کړه او پریکړه یې وګرځوله او نوموړی پلاریې خوشې کړ.

## ب. دا موضــوع جوته نــه ده چې آیا افغانان د دې لپاره توقیفیږي چې دخپلو هغو اساســي حقوقو څخه تیر شــي کوم چې د افغانستان په قانون کې تضمین شوي دي، که څه هم داســې نښــې نښانې شته چې دغه ډول توقیفونه ښایي پیښ شــي، په ځانګړې توګه د بیان د آزادۍ او د ښځو د حقوقو په اړه ( کتګورۍ)

کومه څارنه یا تفتیش چې اجرا شــو داســې طرحه شوی نه و چې هغه توقیفونه تشخیص یا یې تعقیب کړي چې هدف یې د اساسي حقوقو څخه تیریدل وی. خو بیاهم، داســې نښــې نښــانې شته چې

ځینې پخپل سري توقیفونه په افغانستان کې ښایي په دغې کتګورۍ کې راشــي، په ځانګړې توګه د بیان د آزادۍ او د ښــځو د حقوقو مربوط/اړوند.

د ۲۰۰۷م کال د وروســتیو څخه را په دې خوا، په ځانګړې توګه د خبریالانــود بیان د آزادۍ خپل ســري محدودیتونه په اړه مخ په زیاتیدونکې اندیښــنې شــته. د بغلان، مزار شریف، هرات او کابل[۴۶] په قضیو کې داســې توقیفونه شــته چې د یوې وسـیلې په توګه د بیان د آزادۍ د تیریدو لپاره کارول کیږي.

د کور څخه د تیښتې او د خلوت صحیحه په وجه د ښځو توقیفونه کیدای چې په دې توګه تعبیر او تفسیر شي چې ښځې د خپلو هغو حقوقو څخه تیری شــي کوم چې واده پورې تړاو لــري او د ظلم، تحقیر او ناوړه چالچند (د کورنی خشونت پورې تړاو لري) څخه آزاده شي.

خوبیاهم، داخبره ســتونځمنده ده چې دا نیت تشــخیص شی چې په اکثره ممکنه قضیوکې دغه ډول پخپل سري توقیفونه د دې لپاره دی چې شــخص د خپلو اساســي حقوقو څخه د سیاسي تحرکاتو، مذهبــی او ټولنیــز تمرینونو له امله تیرشــي لــه دې امله دا خبره ســتونځمنده ده چې په ډاډ ســره وویل چې دغــه ډول قضیې د B پــه کتګورۍ کې راځــي. دا ټکی باید جوت شــي چې د دغه ډول پخپل سري توقیفونو لپاره امکانات شته او ممکنه ده چې دغه ډول توقیفونــه د راتلونکــو ټولټاکنو په مهال پیښ شــي کله چې څوک وغواړي د خپل د بیان د آزادۍ او ملګرین څخه استفاده وکړي.

## ج. افغانان پر ته له دې چې د ضروري او مروجې ساتنې څخه برخه مند شي توقیف کیږي چې دغه رنګه که څه هم ټــول نه توقیفونه خپل سری دی ( کتګورۍ )

څارنې\تفتیــش وموندلــه چې ډیــري توقیفونه په افغانســتان کې د C د کتګــورۍ په توګه تصنیفدای شــي، ځکه ډیري ضروري او مروجې ســاتنې کوم چې د خپل ســري توقیفونو پر ضد دي یا په قانون کې نشــته او یا که په قانون کې هم وي، په اغیزناکه توګه نه عملي کیږي.

<u>ضروري او مروجې ساتنې</u>

- ICCPR په ۹مه او ۱۴ (۳) ماده هغه مروجې ســاتنې طرحه

کــوي کوم چې د خپل ســري توقيفونو د مخنيــوي لپاره ضروري دي. په نوموړي قانون کې دا لاندې ټکي شامل دي:

- محبوســين بايد سم لاســی د توقيف \ يا نيوني د دلايلو او هــر هغو تورونو څخه خبري شــي کوم چــي د دوی[47] پر ضد دي،
- که جنايي قضيه وي، توقيفي بايد په سم وخت کې د قاضي يا بل قضايي افسر[48] مخې ته راولي؛
- ټــول محبوســين بايد وکړای شــي چې د نيونــي او توقيف قانونيت د محکمي څخه دمخه وپوښتي او د خپلو قانونيت په هکله د محکمې پريکړه پرته له ځنډ[49] څخه تر لاسه کړي.
- محبوسين سمدستی د خپلو حقوقو څخه باخبره شي اووکړای شي چې په اغيزناکه توګه ي احساس کړی، چې په دې کې دا لاندې حقوق شامليږي:
  - o هغه حق چې دې ته اړ نشــي چې د خپل ځان پرضد شــهادت ورکړي او په ګناه بانــدې اقرار وکړي، په شمول دهغه حق چې چوپه خوله پاتي شي او د ناوړه چالچلند او سکنجې[50] څخه خلاص وي.
  - o د مدافــع وکيل حق اويا بايد وکړای شــي چې د خپل ځان څخه دفاع وکړي، او هغه وخت او آســانتياوې چې خپله دفاعيه[51] وړاندې کړي.

توقيفيــان بايد د تورونو په اړوند کــوم چې د دوي په مقابل کې بيان شــوي دي يوشــفافه محکمه او معقوله وخت پرته د ځنډ څخه ولري، که چيرته داسي نه وي هغوي بايد خوشې[52] شي.
دغه بايد د محکمې بند د امر په پاي کې خوشی شي[53]

برســيره پردې، ټول مروج تضمينونه بايد په اغيزناکه توګه برابر شي، يعني (الف) د قانون له خوا برابر شي، او (ب) داسي بايد کار وکړي لکه څنګه چې په نظر کې نيول کيږي. برسيره پردې، دغه تضمينونه بايد د هر بندي لپاره پرته له تبعيض[54] څخه موجود وي

البته، ځارني ومونډله چې ټولې مروجي ساتني په قانون کې نه دي ځای پر ځای شــوي او نه هم اکثره چه په قانون کې ځای پر ځای شويدی په سمه توګه نافذ او عملی شويدی.

**۱- په ســـم وخت کې د قاضي مخ ته د راوستلو حق بايد وکړای شي چې د يوې محکمې مخ ته د توقيف ننګوني حق:**

- د افغانستان قانون افغانانو ته دا لاندې حقوق نه ورکوي:
- د محاکمــې څخــه د مخــه توقيــف[55] د قانونيت پــه هکله د ابتدايي او دوره اي ځيرنې لپاره د يو قاضي[56] مخ ته په سم وخت کې راوستل، يا

د خپل توقيف د قانونيت په هکله پوښتل او په دغه باندې کوم چې د محکمي له خوا بيله ځنډه پريکړې درلو دل.

او نــه هــم دا خبره ډاډه شــوې چــې دغه حقوق پــه اغيزناکه توګه موجــود دي. د دې لپاره چې د غه حقوق په اغيزناکه توګه موجود شــي، د توقيف د قانونيت ځيرنه او د هغه اجراات بايد حقيقي وي نه مازی رســمي[57] .په دې مفهوم چې لومړی بايد محکمه يوازی خپــل حقيقي شــواهد په نظر کې ونه نيسي، بــلکــې د توقيف په ټولو شــرايطو کې قانونيت،اړتيا اومعقوليت هم په نظرولری – او د توقيــف قانونيــت بايــد وارزول شــي. دويم، د دې لپــاره چې په اغيزناکه توګه دغه حقوق فراهم شــي، محبوســين بايد محکمو ته لاس رســيدنه ولري ترڅو خپل توقيف په هکله وپوښتي[58]. د بندې نيونــه پرتــه د کوم افهام او تفيهم[59] څخه، د داســي توقيفولو مفهوم لري کوم چې محبوس ته اجازه نه ورکول کيږي چې د خپل توقيف په هکله د محکمو[60] په مخکې و پوښتي، يا د ټاکل شوي وخت څخه سرغړونه دا مفهوم لري چې دغه ساتني په اغيزناکه توګه نشته او په عمومي توګه د خپل سري توقيف مفهوم وړاندې کوي.

## د افغانستان قانون

أ. **د توقيف کنټرول ځارنوال ته ورکول کيږي نه محکمې ته**: د افغانستان قانون ځارنوال ته صلاحيت ورکوي چې د توقيف د قانونيت او د محبوس د خشوشي کيدو[16] پــه هکله پريکړه وکړي. خو بيــا هم، نړيوال قانون د دغــو مســائلو په اړه په ټينګه بيانــوي چې د قانونيت د ځيرنې چاروا کې بايد مســتقل، ناپيلې او د موضوع اړونــد واقعــی وی. د ملګرو ملتونو د بشــري حقوقو کميټــه خپله نظريه بيان کــړې ده چې يوازې محکمه دغــه معيارونــه[26] پوره کــوي. ځارنــوال، معمولاً د محاکمــې څخــه د مخه توقيف غوښــتونکی اړخ، او د عدليې وزارت د ســاتندويه توقيفونو لپاره مؤسساتي هــدف او لازمه ناپيلتــوب نلري تر څو وکړای شــي د يــوه قانونــي او پريکړه کوونکــي ارګان[36] په توګه اجراات وکړي. برســيره پردې، د ICCPR ۹ (۳) مــه او ۹ (۴) مــه ماده دا ټکــی ځانګړی کوي چې د غه ډول پريکړې يوازې د قاضي يا هغه افسر له خوا ترســره کيږي کــوم چې صلاحيت وکړل شــوی چې د قضايــي قدرت څخه کار واخلــي. قضايي چاروا کو ته په افغانســتان کې يوازې د قضا صلاحيت ورکړل شوی دی.

ب. **په ســـم وخت کې يــا په دوره اي توګــه د توقيف د قانونيت ځيرنه نــه برابروي چې د محکمې له خوا ترســره شــي**. لومړنی ځارنوال مسئوليت لري چې

د پولیس د نیونـې یا توقیف اجرأت پـه برخه کې په ۷۲ سـاعتونو (۳ ورځـو) کې تایید کړي. په داسـې حـال کې چې د څارنـوال څېړنه د توقیف په هکله په زغرده[64] ترسـره شـي، نو دغه ډول څېړنه د نړیوال معیار سـره سـمون نلري ځکـه د حقوقی لـه پلوه د محکمې له خوا نه ارزول کیږي. د افغانستان قانون د نیونې او توقیف قانونیت نه غواړي چې د محکمې له خوا وارزول شـي ترهغه وخته پورې چې د محکمې لومړۍ رسمی غونډه د نیونې څخه وروسته تر درېو میاشتو پورې جوړه نشي (د ICPC ۶مه او ۵۳ (۲) مـه د bمـاده )[65]

همدارنګه د افغانسـتان قانون نـه ایجابوي چې د توقیف دوره ای څېړنه د محکمې له خوا د محاکمې څخه د مخه موده کې ترسـره شــې. خو بیا هم، د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو کمیټه بیان کړې ده چې د توقیف د قانونیت یوازې یوه څېړنه د توقیف په پـیل کې نا کافی ده. د وخت څخه وروسـته، د توقیف کیفیت یا بنه ښـایی د قانونی توقیف نه پخېل سري توقیف ته بدلون ومومی. له دې امله، محکمـه باید توقیف په معقوله او منظمـو وقفوکې وڅېړی تر څو قضاوت ترسره یا محبوس خوشي[66] شي.

ج. **<u>په روښـانه توګه توقیفي ته حق نه ورکوي چې د توقیف د قانونیت په هکله وپوښـتي.</u>** د افغانسـتان قانون، د اساسي قانون په شمول، ښکاره مقرری نلري چې محبوس ته، که د محاکمې څخه مخکې یا ساتندویه توقیـف کـې وي، دا حـق نه ورکوي چـې د توقیف د قانونیـت په هکله وپوښـتي او د محکمـې د ځنډ څخه پرته د محکمی پریکړه ولري. همدارنګه د افغانسـتان قانون د دغه کار[67] لپاره کړنلاره نه برابروي.

د. **<u>نـــه غواړي چې محبوس د توقیف په اړونده اجرااتو کـې حاضر وي.</u>** د ICCPR ۹مه مـاده بیانوي چې محبـوس بایـد حاضـر وي کله چې محکمـه د هغه د توقیـف[68] قانونیت ارزوي. دغـه کار محبوس په دې توانـوي چـې د څارنوال یـا د توقیـف د چارواکي[69] اسـتدلال و څاري. لاتر اوسـه هم، په افغانستان کې، محبـوس یـا د هغه اسـتازی نه حاضـر وي او نۍ اجـازه ورکول کیـږي چې د محکمـې د پریکړې په هکله وپوښتی که چیرته څارنوال د توقیف قانونیت په ۷۲ ساعتونو کې تایید کړی یا کله چې محکمه پریکړه کـوي چې د جرم د اعلان وخت تر ۱۵ ورځو پورې وروسته د نیونې[70] څخه وغزوي.

ه. **<u>په کافی اندازې سـره لاربښوونه نه برابروي تر څو دا خبره ډاډه کړي چې د توقیف د قانونیت څېړنه په اغېزناکه توګه د اساسی قانون او نړیوال قانون سره سم تر سره شي.</u>** د دې لپاره چې توقیف قانونی شی، نـو یو توقیف باید یـوازې یو حقوقی بنسـټ ونلري، بلکې دا باید لازمی او معقول هم وی (همدارنګه[71] د شـواهدو له مخې ثبوت شي). ارزونه باید په عمومی توګه د داسـې اصولو څخـه پیروي وکړي کوم چې د محاکمې څخه مخکې توقیف باید عمومی قانون نشی، کوم چې د افغانسـتان په اساسـی قانون[72] کې تایید او همدارنګه په ICCPR[73] (۷۴) کې بیان شي.

که څه هم د افغانسـتان اساسـی قانون توقیف داسـې تعریف کړی چـې توقیـف باید معقول او لازمی وي کوم چې د نورو آزادۍ او عامـه ګټې[74] وسـاتی، خو دغه قانون روښـانه کړنلاري یا معیار نـه برابروي په کـوم باندې چې بایـد ارزونه وشـی، او کله چې دغه معیار پوره کیږي قانون یوازې ابتدایی لاربښونه[75] برابروي. همدارنګـه، دغه قانـون په عمومی توګـه د محاکمې څخه دمخه توقیفونو ده کمولو اصولو ته پراختیا نه ورکوي.

أ. د بیلګې په توګه، داسې لاربښوونه نشته چې د مشکوک جنایت په هکله توقیف باید د داسـې معقوله شـک په اسـاس وی کوم چې محبوس د تیری[76] مرتکب شوی وي.

ب. ځیني لاربښـووني چې پـه قانون کې شـته همدارنګه نـور حقـوق زیان مند کـوي. د بیلګې پـه توګه، هغه لاربښـوونه کوم چـې د محاکمې څخــه د مخه توقیف پــه ټینګه د لازمه شـواهدو د ټولولو او د ریښـتیا[77] د رامنځتـه کولو پـورې محـدود وي، دې اصل ته لار پرانیـزي چـې توقیف د جبـری معلوماتو، د جبری اقرارونـو لپاره وکارول شـي کـوم چې د محبوس د حقوقـو څخه به تیـری وی او ممکنه ده چې د خپل سری توقیف سبب وګرځي.

ج. نـورې لارې چـارې د ضامن یـا تضمین پـه بنه نا کافی وی، او کله چې دغه ډول تضمینونه برابرېږي، کیـدای شـی چې پـه محدود شـویو شـرایطو[78] کې وکارول شي.

برسـیره پردې، څارنې وښودله چې د محمکـۍ یا څارنوال لخوا د غیـر توقیفی لارو چارو د معقولیت یـا لزومیت ارزونې ډېرې زیاتې نه تر سره کیږی. بلکې د قضیې د شرایط د څېړلو په پرتله، چارواکـې افراد توقیفوی ځکه هغوی په داسـې جنایت تورن دي چې د محاکمې څخه د مخه توقیف لپاره لار اواروی یا به داسـې یو جرم محکوم شـوی وي چې باید په حبس باندې محکوم شـي. دغه موندنې ښـیي چې په قانون کې لازیاته روښانه لاربښوونې ته اړتیا شته.

په حقوقي ساتنه کې د دغو نیمګړتیاو په نظر کې نیولو سره، په افغانستان کې ډېرې نیونې او توقیفونه چې په اول سر کې ښایي قانوني وي د خپل سرې توقیف ماهیت ترلاسه کوي، لکه د جرم د اعلان څخه دمخه توقیفونه چې د وخت د هغه حدودو څخه زیاته ادامه مونډلې کوم چې په ICPC کې طرحه شوې دي. ډېرې توقیفونه کوم چې به لومړي سر کې پخبل سري وي اجازه ورکول کیږي چې ادامه ومومي، لکه هغه توقیفونه چې پورته پرې بحث وشو. د دغو توقیفونو عملي پایله دا ده چې توقیف په یوه عمومي قانون باندې بدلیږي او د توقیف په مرکزونو کې د یوشمیر داسې اشخاصو ګڼه ګونه جوړیږي کوم چې د هغوی توقیفونه په قانوني توګه مؤجه، معقول یا لازمي نه وي، په ځانګړې توګه د محاکمې څخه دمخه پړاو کې.

د یادونې وړ ده ان که چیرته دغه فرصتونه په قانون کې موجود وي، هغوی په اغیزناکه توګه نه برابریږي ځکه نور عوامل د هغوی کارول د خنډ سره مخ کوي. نوموړي عوامل دا دي: الف. محبوسین د توقیف د قانونیت په هکله پوښتنې، مدافع وکیل یا د ځان دفاع د حقوقو څخه ناخبره دي. (ب)اغیزناکه مدافع وکیل او لازمه معلوماتو ته کمه لاس رسیدنه ، او (ت) په وار وار سره د محکمې چیټیا او نا رضایتي د فعاله دفاعي سلاکارانو په وړاندې. یو بل شاخص کوم چې دغه حقوق په اغیزناکه توګه نه برابروي ان که هغوی تضمین هم شي هغه په وار وار سره د پولیسو[۷۹] او څارنوالانو[۸۰] د وخت حدودو او کړنلارو ته درناوی کې یا تیږوالی راټلل دي تر څو د توقیف قانونیت تر کنترول لاندې راولي.

## ۲ـ په معقوله وخت کې د محاکمې حق یا ازادېدل د بند په پای کې خوشې کیدنه په عمومي توګه نه رعایت کیږي.

د سم خوندیتوب څخه د محاکمې د فتوا په پای کې د خوشې کیدو د حق په توګه سرغړونه کیږي په کوم کې چې محبوسین باید د منصفانه محاکمې په هکله پرته د کوم ځنډ څخه او په معقوله وخت کې دخبل حق څخه مستفید اویا خوشې شي. په وراوارسره دغه سرغړونې د خپل سري توقیفونو سبب ګرځي، که چیرته ډیر زیات د محاکمې څخه مخکې توقیفونه موجود نه وي.

## د محاکمې څخه مخکې توقیف: د زماني چوکاټ ته تدریجي سرغړونه

څارنې په روښانه توګه وښودله چې د ډېرو محبوسینو لپاره چې مصاحبه ورسره شوې ده لږ ترلږه د محاکمې څخه د مخه توقیف د وخت د حدودو څخه کوم چې په ICPC کې طرحه شوې یو وار سرغړونه شوې ده، په دې توګه اکثریته توقیفونه د خپل سرې توقیفونو په توګه تفتیش شول ځکه هغوی نور قانوني بنسټ نه درلود. د زماني چوکاټ څخه چې سرغړونه کیږي د افغانستان لکه تعبیر ددې هکله ورښیي چې پرته د ځنډ څخه او په معقوله وخت کې د محبوس د محاکمې پروسه تطبیق د افغانستان د اساسي قانون[۱۸] غوښتنه کوي.

یوزیات شمیر محبوسین په توقیف کې د محکمې حکم ته سترګې په لار وه چې وخت یې د حقوقي زماني چوکاټ څخه چې په ICPC طرحه شوی تیر شوی دی. ډیرې وتلې قضیې هغه دي چې د سترې محکمې پریکړو ته سترګې په لار دي او د زماني چوکاټ[۲۸] د وخت نه یې پنځه میاشتې تیرې دي. دغه ډول ځنډونه اکثراً تر یوکال پورې ادامه مومي. د بیلګې په توګه، په کابل کې د ۲۰۰۷م کال په وروستیو کې، داسې محبوسین ومونډل شول چې د ۶ کلنو څخه زیات د سترې محکمې پریکړې ته سترګې په لار و. همدارنګه څارنې د مرافعې د محکمو د حکم په صادرولو کې اوږد او دوامداره ځنډونه ذکر کړي (چه دوی میاشتې داصلي حکم اعلان پورې لرې) او په ابتدایي محکمو کې (دوی میاشتې د تورونو دوسیه کولو څخه د فیصله کولوپورې لرې)[۳۸] .لا تر اوسه هم په ابتدایي محکمه کې د ځنډ کچه ثابته ده.
د بیلګې په توګه، د کابل، کاپیسا، پروان، لوګر، پنجشیر او وردګو په ولایاتو[۸۴] کې د هرې اړونده قضیې لپاره کوم چې د څارنې په لومړي پړاو کې څآرل شوي دي ددوو میاشتې د زماني چوکاټ څخه سرغړونه شوې ده. په محکمو کې ځنډونه دا معنې لري چې د محبوسینو وخت په توقیف کې د محکومیت د دورې یا د قانون له مخې چه د ګناته ورس ته ورکول کیږي زیات وي.

یوه بله خواشینونکې موندنه دا وه چې یو شمیر محبوسین د تورونو په مقابل کې برې الاذمه شوي و او پرأت یې اخیستي و خو بیاهم هغوی په توقیف کې پاتې و. په دغه برخه کې هغه دلایل چې وویل شول هغه دا و چې محکمې یا څآرنوالان د برأت د پریکړې او د خوشې کیدو د حکم په انتقال کې پاتې راغلل، او یا دا چې پریکړه تر لاسه شوې خو روښانه حکم د خوشې کیدو لپاره نه و، او یا داچې تضمین کوونکي د محبوس د خوشې کیدو لپاره حاضر نه و (سره له دې چې دغه ډول مقرره د محکمې په پریکړه کې نشته). د بیلګې په توګه، یوناما یوه قضیه ومونډله چې دعدلیې وزارت د توقیف د مرکز رسمي چارواکونه منله چې پنځه تنۍ ښځې کوم چې د تورونو څخه یې د څېړنې په اساس پرآت اخیستي و خوشې کړي ځکه چې هغو تضمین کوونکي نه درلود. په کابل کې د ۲۰۰۷م کال د جولای په میاشت کې، ۱۹ تنه محبوسین خوشې نشول ځکه هغوونکړاي شوچې تضمین کوونکي برابر کړي و یا د مالي تضمین لپاره پیسې تأدیه کړي.

## د محکومیت څخه وروسته توقیف: د محکومیت د مودې د بشپړیدو سره سم د محبوس په خوشې کولو کې پاتې والې:

په ټول افغانستان کې، د عدلیې وزارت د توقیف د مرکز رسمي چارواکو لزوماً هغه بندیان یې خوشې نکړل کوم چې د قانوني

جـزا[85] موده يې بشـپړه کـړې وه يا هغه بنديان چـې د جمهوري رياست د فرمان[86] له مخې د خوشې کيدو امر يې شوی و. د عدليې وزارت د توقيف د مرکز رسمي چارواکو او محبوسينو څارونکوته توضيح کړه چې ډيري محبوسين سره له دې چې د هغوی د جزا موده تيره شـوې وه خوشـې نشـول ځکه هغوی ونکړای شوچې تضمين کوونکی يا مالي تضمين[87] پيدا کړي. د سـترې محکمې عالي شورا د غه ډول شرايط د خوشې کولو لپاره رد کړل ځکه دا اساسي قانون [88] د ۲۷ مې مادې څخه سرغړونه ده.

## ۳- نـور مـروج تضمينونه: په عومي توګـه درناوی نه ورته کيږي – په ځانګړې توګه مدافع وکيل ته

څارنې وښـودله چې پوليس، څارنوالان او قاضيـان په دوامداره توګه د مروجو حقوقو درناوي نه کوي اويا د هغوی څخه ناخبره دي، ان که په روښـانه توګه د افغانسـتان په قانون[89] کې توضيح شوي هم دي.

### د دفاعي سلاکار د درلودلو حق يا د خپل ځان د دفاع کارول:

په عمومي توګه افغانانو د دفاعي سلاکار د درلودلو او يادځان دفاع کولو د حق څخه ناخبره دي او نه هم هغوی دفاعي سـلاکارته لاس رسی ولری او يا نشي کولای د خپل ځان دفاع[90] تياره کړي. ډيري محبوسين د مدافع وکيل د درلودلو څخه ګټه نه اخلي. په ټولو قضيو کې چې تفتيش شـوي دي يو محبوس د نيوني د وخت څخه بيـا په ټوله محاکمه[91] کې د مدافع وکيل د درلودلو څخه ګټه نه ده اخيسـتلې. د څارنې په لومړي پړاو کې دا موضوع روښـانه شوه چې ۹۳۱ تنه يا ۸۲.۵ ٪ مصاحبه کوونکو مدافع وکيل نه درلود. پـه دغه اړه توضيحات دا و: محبوسـين د دغـه حق څخه نا خبره و (۱۵.۶٪)،مدافـع وکيلان موجود نـه و (۳۶.۴۰٪)، يا محبوس نشـو کولای چې مدافع وکيل ته پيسـې تأديه کړي (۱۲.۸٪). دغه ډول نمونې په ټوله څارنه کې وليدل شـوې[92] . څارنې همدارنګه ومونډلـه چـې کله به مدافع وکيل په کار وګمارل شـو، هغوی به ښـايي د قضيـو د حذف پـه موخه د لوړ رتبـه چارواکو او دولتي مؤسساتو لکه د ملي امنيت رياست له خوا تهديديدل

### د خپل ځان په هکله د نه شهادت ورکولو حق، د چوپه خوله پاتې کيدلو په شمول

داسـې نه ښـکاري چې پوليس، څارنوالان او قاضيان د خپل ځان په هکله د نه شهادت ورکولو حق ته درناوی وکړي. په پايله کې، ځيني وختونه د محاکمې څخه مخکې توقيف د پوښتلو د وسيلې په توګـه کارول کيږي، نه دا چې د سـاتندويه يا وقايوي ميکانيزم په توګـه. د څارنې په مهال د جبري اقرارونو راپور ورکړل شـوی دی – څـه نا څه ۱۶۵ تنه مصاحبـه کوونکو (۱۵٪) د څآرنې په لومړي پړاو کې د دغه شان قضيو راپور د څارنې په ټوله موده[93] کـې ورکـړی دی. د ۱۹۹ قضيـو له ډلې څخه کـوم چې په کندز، بدخشـان، تخار او بغلان کې تفتيش شـوې، ۱۶۶ تنه محبوسـينو (۸۳٪) ته د چوپه خوله پاتې کيدو د حق په هکله خبر نه دی ورکړل شـوي. همدارنګه ورته نمونې په ټول هيواد[94] کې پيدا شـوي دي. برسـيره پردې، داسې ښکاري چې محکمې هم په دوامداره توګه د دغو حقوقو څخه ملاتړ نه کوي او نه هم هغه شواهد نا مطلوبه ګڼي کوم چې په جبري توګه ترلاسـه شـوي وي، په دې توګه، د تور يا محکوميت د ريښتيا والي په هکله شک موجود دی.

### د نيونې په وخت کې د توقيف د دلايلو او په سـم وخت کې د هر ډول تور په هکله د خبريدلو حق:

په نمونو کې د پاملرنې وړ اسـتثنائات چې ټاکل شـوي هغه دا دي چـې د نيونې په وخـت کې د توقيف د دلايلو او په سـم وخت کې د تورونو په هکله محبوس ته معلومات ورکړل شـي. په عمومي توګـه، توقيفي‌انـو د توقيف د دلايلـو او د هغو تورونو په هکله معلومات درلودل کوم چې د دوی پر ضد وارد شوي و. د څارنې په لومړي پړاو کې، څه نا څه ۸۶٪ محبوسين چې ورسره مصاحبه شـوې ده (۹۷۶ تنـه مصاحبـه کوونکي ) د هغوی پـه وړاندې د تورونـو او د توقيف پر دلايلو پوهيدل. يوازې ۵۸٪ (۶۵۸ تنه ) محبوسينو ته کوم چې د توقيف په دلايلو پوهيدل د نيونې په وخت کې خبر ورکړل شوي و. وروستنی څارنې په دغه اړه کوم بدلون ښکاره نکړ.

لاتر اوسـه هـم څارنې په روښـانه توګـه ومونډله چـې پوليس، څارنـوالان او تر يـوې اندازې پورې قاضيان پـه دوامداره توګه محبوسـينو ته د هغوی د حق په هکلـه معلومات نه دي ورکړي. ځيني څارنوالانو تفتيشانو ته وويل چې دوی په لوی لاس دغه کار نـه دی کړي ځکـه هغوي عقيده لري چې دغـه حقوق د ځيرنو[95] مخنيوی کوي.

پـه عمومـي توګه، څارنـې ومونډله چې د پوره انـدازې مروجو ساتنو نشتوالي د دې سبب کيږي چې د ډيري توقيفونو قانونيت تر سـوال لاندې راشـي. د قانون او د محبوسـينو د حق نه رعايتول، نـه يوازې د قانون حاکميـت او د بيګناهی انګيرنه متأثره کوي، بلکـې دا خبـره داړه کـوي چې پـه توقيف کې زياتي شـوی او په وار وار سـره پخپل سری وي.د مدافع وکيل ته درناوی نکول په ځانګړې توګه يوه ستونځه ده ځکه د مدافع وکيل درلودل او شتون يو داسـې حياتي ميکانيزم برابروي کوم چې د ډيري پخپل سـري توقيفونـو مخنيوی کوي او ناوړه اسـتفادې کمـوي. په عين وخت کې، دا خبره بايد تصديق شي چې د بشري او فزيکي منابعو، لکه قاضيان، څارنوالان، د فاعي سـلاکاران، محکمې او د محکمې د اداري کارکوونکـو کموالی چارواکي نه پرېږدي چې خپلې ژمنې پوره کړي.

# ٤ـ د تاکل شویو نمونو اصلي علتونه

## لومړی اساسی علت: د عدالت سیالیزه اصول

د افغانستان د عدالت په رسمي سیستم کې یو شمیر د عدالت سیالیزه اصول شــته چــې کارول کیږي: هغه اصول چې دعدالت رســمي سیســتم تائیــدوي، هغه اصول چــې د افغانســتان د عدالت په غیر رســمي سیستم، او مروج او مذهبي تمرینونه کې نغښتي دي. دغه اصول نابېره نه دي، ځکه د افغانســتان د جنایي عدالت رســمي سیتســم، او د نړیوالــو معیارونو کوم چــې د هغو په تعریف کې مرسته کوي چې څنګه هغوی کار کوي، په نسبي توګه د افغانستان د غیر رسمي عدالت د سیمستم ، مروجو او مذهبي تمرینونو سره مقایســه کیږي. پــه پایله کې، یو شــمیر زیات افغانان، پشــمول د هغوچې د جنایي عدالت رســمي سیســتم جوړوي لزوماً د رسمي عدالت د سیستم او دهغوی د معیارونو په هکله نه پوهیږي.

ســتونځه دا ده چې په داســې حال کې چې ځینې اصول د غیر رســمي عدالت د سیســتم څخه ســرچینه اخلي، او همدارنګه مروج او مذهبي تمرینونــه د رســمي عدالت سیســتم دغه اصــول پیــاوړي کوي، خو ځینې اصول شــته چې دهغو اصولو ســره مطابقت نکوي کوم چې د افغانستان په اساسي قانون او نړیوال قانون کې طرحه شوي دي. د دغو ستونځمنو اصولو کارول د رسمي عدالت په سیستم کې اکثراً د افغانانو مقام او عدالت ته لاس رســی د خطرســره مخ کوي او د خپل ســري توقیفونو او نورو تیریو ســبب ګرځي. په دغه بهیر کې، دغه اصول د رسمي عدالت د سیستم تمامیت او د قانون حاکمیت کمزوره کوي.

د دې لپاره چې اغیزناکه او اصلاح کوونکي اقدامات رامنځته شي، نو د عدالت د دغه اصولو ترمنځ توپیر باید وپیژندل شي او د پالیسی، قانون، کړنلارو او د پوهې د پیاوړتیا له لارې حل او فصل شي.

د دغــه برخې پاتې برخه د عدالت د اصولو ترمنځ د توپیر مهمې برخې توضیح کوی او د رسمي عدالت سیستم او هغه اصول چې د افغانســتان د غیر رســمی عدالت به سیســتمونو، بــه مروجو او مذهبی تمرینونو کې نغښتي دی تاییدوي.

### احتمالي جرم

د توقیــف د چــار واک (پولیــس، څارنــوال، قاضیــان)[96] لــه خوا خپریدونکی احتمالی جرم په ټول افغانستان کې کوم چې د څارنې[97] پــه مهــال ټاکل شــوی یوه غټــه اندیښــنه ده. احتمالی جرم په افغانســتان کې د ډیري پخپل سری توقیفونو لپاره تصوری بنسټ جوړوي. احتمالی جرم د جنایی عدالت سیســتم د محاکمې څخه د مخه د تورن توقیفولو خواته بیایی، د محبوسینو حقوقو ته درناوئ ورو ورو کموي او د غیر اغیزناکه مروجو ســاتنو ســبب ګرځي. احتمالی جرم د عمومي وضعیت په واســطه لاپسې زیاتیږي کوم چې د جرم مرتکبین، ان وروســته له دې د جزا موده بشپړه کړی د درنښت او عدالت مستحق نه ګڼل کیږي.

دغه ټول عوامل د دې سبب ګرځي چې قاضیان د محبوسینو د مدافع وکیل درلودل او دفاعیه وړاندې کول شی، د جبری اقرار په مؤجه کولو کې مرســته کوي، او لنډه دا چې د محبوس په خوښې کولوکې خنــډ ګرځی کلــه چې د بند موده یې پوره شــی او یا بــرأت واخلي. همدارنګه، دغه د توقیف دبدل یا دبندبلی چاره امکانات چه په نظر کی نیول شویدی هم د ګواښ سره مخامخ کوی او د بندیانو د جزا په پای کې د هغوی د نه خوښي کولو په برخه کې کومک کوی .

### د بندي او د توقیف د قصد او د اړونده مروجوساتنوبیلابیل تفاهم

ډیرپولیســان، څارنــوالان او قاضیان د توقیــف د خاص مقصد او اړونده مروجوساتنو په هکله کوم چې د رسمی عدالت د سیستم په حقوقی چوکاټ کې کارول شوي بیلابیل تعبیرونه لري. د رسمی عدالت د سیســتم او نړیوالو معیارونو تر قیادت لاندې، د محاکمې څخــه دمخه توقیف په عمومی توګه داســې یو میکانیزم دی چې د نورو حقوق یا شواهد ته زیان، او بدګمانی یا تور، یا د جنایت بیا پیښــیدنه مخ بندی وشــی او د بې ګناهي د انګیرنې په رڼا کې خپل اصغري حد ته ورسیږي.
اوس مهــال پــه افغانســتان کې چیرته چــې جرم انګیــرل کیږي، د محاکمې څخه د مخه د توقیف څخه د تحقیقاتو د وسیلې په توګه کار اخیســتل کیږي او د داســې طریقې په توګه چې تورن شوي کس ته جزا ورکړي. د محکوم شــویو خلکو لپاره، توقیف یوازې د جزا په توګه په نظر کې نیول کیږي نه د بیا رغونکې وسیلې په توګه تر څو د بند څخه د خوشــې کیدو پــه مهــال د لا زیاتو جنایی فعالیت څخه مخنیوی وشي. (د ICCPR ۱۰ (۳)مې مادې ته مراجعه وکړئ )

پــه عمومی توګه مروجې ســاتنې کاری ندی ځکه هغوی په وار وار ســره غیر لازمی یا د پلټنو په مقابل کې د خنډ په توګه په نظر کې نیــول کیــږی نه دا چــې د بیعدالتی، لکــه د بیګناه خلکــو د دوامداره توقیف په وړاندې د ساتنو په توګه. یوناما وموندله چې هغه پولیسان، څارنــوالان او قاضیان چې د محبوســینو د حقوقــو څخه با خبره دي اکثــراً پــه عمدي توګــه د اقرار اخیســتلو، د جرم یــا د محکومیت د پریکړې په اړوند د محبوســینو د حق څخه تیریږي. د توضیحاتو په توګه هغوی ادعا کوی چې بشري حقوق د هغوی د کار خنډ ګرځي.

### د مدافع وکیل په مقابل کې خصومت او د دود کموالی

د مدافع وکیل ګمارل په نسبی توګه په افغانستان کې یو نوی اصل دی. همدارنګه څارنې بربنده کړه چې د مدافع وکیل ګمارل د جرم د یــوې نښــې په توګه په نظر کې نیول کیــږي نه د قدرت څخه د

ناوړه استفادې یا د خپل سري توقیف په مقابل کې د مهمی ساتنی په توګه. د بیلګې په توګه، ډیرو محبوسینو څارونکو ته د هغې نظریی په هکله وویل کوم چې هغوی اړتیا نلري چې د مدافع وکیل په کار وګماری ځکه هغوی د کوم جرم مرتکب شوي نه دي. د جرم د احتمال سره جوخت، د مدافع وکیلانو د دندې او مقصد سره د بیړندګلوی نشتوالی دا ټکی منعکس کوی چې د مدافع وکیل د درلودلو حق په وړاندې د پولیسو، څارنوالانو اومحکمو له خوا خصومت رامنځته کیږي، لکه څنګه چې په دوامداره توګه بندیانو ته د هغو ی د حقوقو په هکله کوم چې باید مدافع وکیل ولري خبر نه ورکول کیږي او د مدافع څارنوال باندې باید محدودیتونه کیښودل شی چې څیړنو، رسمی راپورونو او اسنادوته ته دهغه لارس رسیدنه محدوده شی. د ستري محکمې عدالت، په داسې حال کې چې د مدافع وکیل د درلودلو حق تاییدوي کوم چې باید د قضاۍي غونډو[98] په مهال حاضر وی، همدارنګه د خبرو اترو په مهال یاودنه وکړه چې هغه کسان چې په ټاکلې کتګورۍ کې په جرم تورن دی (په اساسی توګه کوم چې د حکومت ضد فعالیتونو پورې تړاو لري) باید مدافع وکیل ته لاس رسیدنه ونلري.

په پایله کې، مدافع وکیل نشی کولای چې په اغیزناکه توګه کار وکړی یا د خپل سري توقیفونو مسایل حل او فصل کړي. ډیري په خپل سری توقیفونه لا اوس هم ادامه لری کوم چې باید د هغوی مخنیوی شوی و. دغه پخپل سری توقیفونه د مدافع وکیلانو د کموالي له امله د هیواد په ډیرو ولایاتو کې لاپسی زیات شوي دي.

## د ښځو د حقوقو پیچلی مفکوره او عدالت ته لاس رسیدنه

د ښځو او نجونو په اړوند، د عدالت په رسمی سیستم، د عدالت په غیر رسمی سیستم، او د عرفی او مذهبی تمرینونو د اصولو ترمنځ سیالی یو ډیر ستونځمند کار دی. ښځې اونجونې په وار وار سره د هغو اخلاقی جرمونو په تور توقیف کیږي کوم چې په رسمی عدالت کې جرم نه دی. همدارنګه هغوی کله چې د زبرزنا یا جنسی تیری قربانیانی وی اومحکومی شی توقیفیږي. دغه تمرینونه په عمومی توګه د عرفی او مذهبی تمرینونو او د عدالت اصول د ښځو او نجونو په اړه منعکس کوي.
څرنګه چې د افغانستان په غیر رسمي، عرفي او مذهبي سیستمونو کې د ښځو موقیف کمزوری دی همدارنګه د عدالت په رسمي سیستم کې هم کمزوری دی. ښځو ته په بشپړه توګه د هغوی حق نه ورکول کیږي او همدارنګه د سړیو سره مساوي په نظر کې نه نیول کیږي. د قانون د تطبیق او قضا ډیري چارواکي کوم چې د جنایي عدالت په سیستم کې فعالیت کوي نوموړي نظر تاییدوي او دهغوی دغه تایید د قانون[99] په کارولو کې منعکس کیږي. په پایله کې، ښځې د قانون د کافي ساتنې څخه برخه مندي نه دي او پخپل سري توګه توقیف کیږي

په وار وار سره قاضیانو او څارنوالانو دغه پخپل سري توقیفونه په دې پیان سره مؤجه کړي چې اخلاقی جرایم لکه د کور څخه تیښته جرایم دي د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰مه په اشاره سره وای چه دغه ماده کې ذکر شوي دي او د حنفي قانون (شریعت ) د کارولو اجازه ورکوي کله چې په قانون کې خالی ګاوي موجود وي. لکه څنګه چې پورته بحث وشو، ځینی چارواکي په قانون کې مقررات داسی تعبیر او تفسیروي کوم چې هغوی په دې وتوانوي چې عروفي او مذهبي نظریات کوم چې د عدالت په رسمي سیستم کې یو جرم ټاکي وکاروي. همدارنګه پولیس ورته کار تر سره کوي. د کورنی د ځواب څانګی داسې طرحه شوي دي چې په کورنیو پورې اړونده اجراات ترسره او د هغو ښځو او نجونو په استازیتوب وکالت وکړي کوم د تبعیضی اوجنسي تیري قربانیان شوي وي، کله چې کوم وخت دغه قربانیان بیرته مرتکپینوته (اکثراً کورنیوته) ورتسلیمی ږی هغوی احساس کوي چې د دوی سره تماس نیول د هغوی د بې حرمتی سبب ګرځی

هغه نمونې کوم چې د زبرزنا یا قاچاق په قضیوکې موندل شوي دي د دغه پریده او مشخصاتو ښکارندوی دي. داسې عمومي وضعیت شته چې داد ښځینه قرباني ګناه ده او هغې کورنی ته بې حرمتي کړيده، نه دا چې هغه د جرم د قرباني په توګه په نظر کې ونیسي. کله چې د زبرزنا تورونه جوړیږي، څارنوالان په دوامداره توګه تحقیق نکوي او نه څوک محکوموي کله چې په کافې اندازې سره شواهد موجود[100] و.

**د حل د لارې موندل**

د خپل سري توقیف پراخه او متداوله تمرین به بر هغه وخته اصلاح نشي ترڅو د غه مفکوری توپیرونه په بریالیتوب سره مطرح نشي د ځانګړی پام وړدی. د یوه بیګناه کس په مقابل کې د احتمالي جرم بدلون دی لکه څنګه چې د افغانستان په اساسي قانون(۱) او نورو قوانینو (۱) او همدارنګه په نړیوال معیارونو (۱) کې تقدیس شوي دي. همدارنګه اړتیا لیدل کیږي چې روش د دغو موندل شویو مجرمینو خوا ته بدلون ومومي. ددغو نویو اصولو او د هغوی د دلیل د توضیح کولو لپاره زده کړه، د ظرفیت لوړتیا د پوهاوی د زیاتولو پروګرامونه ضروري دي البته د دغو اصولو تطبیق د قانون، پالیسی او کړنلارو د تعدیلولو په واسطه او د هغو خلکو د مسئول ګڼلو په اساس کوم چې دغو اصولو ته درناوي نه کوي.
د دې لپاره چې تحرکات د ښځو اوتولنې په هکله بدلون ومومي د مذهبي مشرانو ملاتړ لازمي دي ځکه دغه ملاتړ به دا ټکي توضیح کړي چې آیا شرعی قوانین د هغو عملونود جنایت ګڼلوپه مخه استعمالیدلای شی کوم چې د اجتماعی ،کلتوری او مذهب له پلوه د ټولنی د ځینو عناصرو لپاره د منلو وړ نوي. ډیرو منسجمو زیارونو ته اړتیا شته تر څو د ښځو وضعیت او د هغوي مساوي حقوق د حیثیت او عدالت له پلوه پیاوړی شي. د زبر زنا، قاچاق د جنسیت تبعیض جنسي تیری او د هغوي قربانیان په هکله آزادمباحثه اوداچه پدی هکله خبری اتری څه شي اسلام بیان کړي دي کیدای شي چې ګټه ور وي.
همدارنګه، قربانیان ځایونو ته اړتیا لري چې خپل سرګذشت و وایي او ښځې او سړي د زېر زنا، قاچاق او کورني تیریو په ویجاړونکو اغیزو باندې پوه شي.ځینې نوښتونه، لکه د راډیو پروګرامونه په کوم کې چې ښځینه قربانیانی کولای شي خپلې تجربې شریکی کړي په تیر وخت کې ګټورثابت شویدي. دغه ډول نوښتونه چې د JSSP لخواپه مخ تللی دی د حقوقي بهیر له لارې د قربانیانو ملاتړ کوي او باید و هڅول شي تر څو قربانیان د قضایي بهیر په مهال د بیان حق ولري.

## دویم اساسی علت: ناکافي قانوني چوکاټ

پخپل سري توقیفونه تر یواندازې پورې ادامه لري ځکه اوسنی

قانوني چوکاټ د پام وړ نیمګړتیاوې او د مهمو مبهمو ساحو سره کوم چې پورته یې یادونه وشوه ناسمونوالی لري. په دغه چوکاټ کې دا لاندې کموالی شاملېږي:

- د وضاحت کموالی د دې ټکي په هکله چې آیا تاکلي عملونه جنایت دی او که نه، په ځانګړې توګه کله چې د شریعت تعبیر او تفسیر او عروفي او مذهبي تمرینونو پورې تړاو ولري.
- د طرزالعملي ساتنو کموالی، په ځانګړې توګه هغه حق چې محبوس د جنايي توقيفونو لپاره سم دستي د قاضي مخې ته راوستل شي او د یوې محکمې مخې ته د ټولو توقیفونو لپاره د توقیف قانونیت تر سوال لاندې راولي.
- په قانون[۱۰۱] کې د توقیف او بندیتوب لپاره ناکافي بله لاره چاره

برسیره پردې، پخپل سري نیول شوي بندیان ښايي په جبري توګه په توقیف کې پاتې شي ځکه چې قانون واضح نه دی چې کومه موسسه صلاحیت لري چې هغوی د حبس څخه خوشې کړي. د بیلګې په توګه، د عدلیې وزارت د توقیفونو لپاره، د عدلیې وزارت، څارنوال، محکمه او بیلابیلې کمیټې او شوراګانې صلاحیت لري چې د توقیف په بیلابیلو پړاوونوکې محبوسین خوشې کړي، خو دا چې څنګه د غه رسمي چاروا کې یو له بل سره مفاهمه او اجراات وکړي په قانون[۱۰۲] کې په څرګند ډول نه دي بیان شوي.

قانون په غیر لزومي توګه د قانوني پوهې او تفاهم د اوسنی کچې په رڼاکې پوره لارښوونه نه برابروي. یو توضیحي مثال دا دی چې پولیس په غیر لزومي توګه نه پوهیږي که چیرته هغوی څارنوال ته خبر ورنکړي، آیا هغوی دا صلاحیت لري چې نیول شوي بندي په خپل ابتکار سره په ۴۸ ساعتونو کې خوشې کړي که چیرته هغوی و نکړای شي چې داسې شواهد ومومي چې د توقیف دلیل تائید کړي. په پوهه کې دغه نیمګړتیا احتمال لري ځکه د خوشې کولو دغه صلاحیت کوم چې ضمني مفهوم لري د پولیس په قانون[۱۰۳] کې نه دی لیکل شوی.

د منلو په توګه، د قانون څخه په سمه توګه استفاده نکیږي. تر اوسه هم قانون په هغه اساس باندې کار کوي چې کومې ساتنې د خپل سري توقیف په وړاندې رامنځته شي کوم چې دا یو ستونځمند کار دی. د قانون تمایل توقیف خوا ته دی نه ساتندویه بلې لارې چارې خوا کوم چې دغه تمایل په سیستم کې احتمالي جرم (ګناه کار ګڼل) پیاوړي کوي. د قانون نیمګړتیاوې د سیستم کمزورتیا پیاوړي کوي او دغه نیمګړتیا د بندیانو د حقوقو د ساتنې لپاره ضرر رسوونکې ه.

**د حل د لارې موندل**

دا خبره لازمي ده چې قانون اصلاح او توضیح شي ترڅو د افغانستان د اساسي قانون سره سمون ولري، پشمول د ICPC، د جزا قانون، د بندیخانو او د توقیف د مرکزونو قانون.

## دریم اساسي علت: رسمي سیستم لاتر اوسه مؤسسات، پوهه، ظرفیت، او وسیلې نه رامنځته کوي

پخپل سري توقیفونه تر یواندازې پورې پیښیږي ځکه د عدالت رسمي سیستم لا تر اوسه پوهه، ظرفیت، وسیلې او هغو موسساتو ته وده نه ورکوي تر څو لازمه ساتنې د خپل سري توقیف[۱۰۴] په وړاندې ترسره شي. په داسې حال کې چې د هغه ظرفیت لوړیږي او قانونیت یې وده کوي، خو د عدالت رسمي سیستم هڅه کوي چې خپلې ژمنې په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې پوره کړي. ځینې لیرې پرتې ولسوالۍ پرته د ابتدایه محکمو یا څارنوالانو څخه پاتې دي. همدارنګه امنیتی مسائل د عدالت د ادارې په وړاندې خنډونه رامنځته کوي. د څارنوالانو او قاضیانو، ځینې وختونه د پولیسو غیابت ستونځه لاپسې زیاتوي.

د پولیسو، څارنوالانو او قاضیانو شمیر محدود دی، که څه هم تخنیکي او قانوني پوهه مخ په زیاتیدو ده. ډیری څارنوالان او قاضیان او همدارنګه مدافع وکیلان لازمه حقوقي تحصیلات نلري. همدارنګه، قانون په ډیری وختونوکې په دقیقه او بشپړه توګه نه پلي کیږي له دې امله پخپل سري توقیفونه پیښیږي.

افغاني پولیسان او څارنوالان د څیړنې او پوښتنې ډیر محدود تخنیکونه او وسیلې لري. په پایله کې، توقیف د جبري معلوماتو د ترلاسه کولو په اساس ترسره کیږي. په دې توګه د تورن، مشکوکه، خپلوانو او ملګرو د وامداره توقیفونو سبب ګرځي.

افغانستان لا تر اوسه با صلاحیته د قانوني تعقیب میکانیزم نلري، ان د ولسوالیو ترمنځ، یا د مالي ضمانت سیستم او یا د بلې لارې چارې د ضمانت سیستم نلري. په نتیجه کې، قاضیان په عمومي توګه دې ته اړ کیږي چې بندیان وساتي ان د برأت اخیستلو څخه وروسته تر څو د تینتې څخه مخنیوی وشي. په داسې حال کې چې د محاکمې د مخه توقیف لپاره د تینتې خطر یو غښتلی مؤجه دلیل دی، له دې امله یو اغیزناکه میکانیزم باید پکار واچول شی تر څو د احتمالی بیګناهی ته درناوی وشي او پرینږدي چې د محاکمې د مخه توقیف په یوه عمومی قانون بدل شي. پرته د دغوسې میکانیزمونو څخه، نه یوازې دا چې د توقیف په مرکزونو کې ګڼه ګونه پیدا کیږي، بلکې د توقیف ګواښونه خپل سري کیږي.

اداری نا کافی ظرفیت او د قضیې اداره نپریږدي چې څیرنه او قضیې په سم وخت سره ترسره شي، په دې توګه توقیف اوږدیږي او ډیرو پخپل سری توقیفونو ته لار اواروي. به عین حال کې، د پولیسو، څارنوالانو، محکمو او د توقیف د مرکزونو تر منځ په دوامداره توګه د کاری همکاری او همغږی نشتوالی پخپل سری توقیف یې د اداری اشتباهاتو له امله ممکنه کړی دی.
همدارنګه، په دغو مؤسساتو کې د داخلی نظارت د اغیزناکه میکانیزمونو نشتوالی پخپل سری توقیف ته دایمي بنه ورکړې

ده. د څارنې په موده کې، څارنوالانو په دوامداره توګه د محاکمې څخه د مخه محبوسینو او بندیانو د توقیف موده نه دې څارلې ترڅو د قانون[۱۰۵] سره سمونوالی ډاډه شي. د افغان پولیسو د بشري حقوقو افسران کوم چې مسئولیت یې دا دی چې د پولیس په توقیف کې کوټه قلفي ګانې[۱۰۶] وڅاري، دغه کاريي په دوامداره توګه نه دی ترسره کړی او نه هغوی ته صلاحیت ورکړل شوی چې د تیري[۱۰۷] په هکله اجراات وکړي. پایله یې یوازې د پخپل سرى توقیف ادامه نه ده، بلکې د قدرت څخه د ناوړه استفادې لپاره مساعده چاپیریال رامنځته کیږي چې دا پخپله پخپل سرى توقیف ته لار اواروي.[۱۰۸]

یو بل عامل دا دی چې د عدلیې وزارت د توقیف د مرکز رسمي چارواکي او نور څوک چې بندیان خوشې کوي کله چې د بند زماني چوکاټونه پای ته رسیدلي وي او یا د توقیف په مرکزونو کې د وخت د تیریدو د نا امیدی له امله د اله ګولې سره مخ شوي وي غندل کیږي، ځینې وختونه دوی پخپله زندان ته اچول کیږي. له دې املـه، د توقیف چارواکي د هغو محبوسینو یا بندیانو په خوشې کولو کې زړه نا زړه دي کوم چې پخپل سرى توګه پرته د څارنوالانو یا لوړ رتبه چارواکو د تائید څخه توقیف شوي دي، چې په دې توګه هغه خلک چې پخپل سرى توګه توقیف شوي وي په توقیف کې پاتې کیږي.
دغه مؤسساتي کمزورتیاوې باید حل او فصل شي ترڅو د خپل سري توقیفونو د یوې غټې برخې مخنوی وشی.

> **د حل د لارې موندل**
>
> د زده کړې او د ظرفیت د ودې پروګرامونه باید تعدیل شی تر څو د توقیف د چارواکو پوهه او ظرفیت ښه والی ومومي، پشمول د څیړنې او پوښتنې مهارتونه. د عملیاتو معیاری کړنلارې، مقررات او د مؤسساتو تر منځ موافقې باید ترسره او د ولسوالۍ ، ولایت او ملت په کچه په لار واچول شی ترڅو همغږي اصلاح او قانون په مناسبه توګه وکارول شي. نورې وسیلې، لکه د ضمانت غښتلی سیستم او د ګډ صلاحیت د قانونی تعقیب میکانیزمونه باید رامنځته شی. لنډه دا چې په مؤسساتو کې دننه فرهنګ باید بدلون ومومی ترڅو هغه چارواکي چې د قانون سره مطابقت لری پاداش ورکړل شي نه داچې غندنه یې وشي.

## څلورم اساسی علت: د مجازاتو څخه معافیت، اداری فساد او کمزورې حساب ورکونه

د قانونی چوکاټ سـمول یا د مؤسساتو، پوهې او ظرفیت پیاوړی کـول یوه محدوده اغیـزه لري که چیرتـه خپریدونکی د مجازاتو معافیت او اداری فساد حل اوفصل نشي. د با نفوذه خلکو استعداد دحکومت د مؤسساتو په دننه او بهر کې چې په مهارت سره د جنایی عدالت سیستم د خپلو ګټو لپاره اداره کوی – پشمول د دې چې نه پریږدي چې دوی پخپله د قانونی تعقیب لاندې راشـي – د پخپل سري توقیف د هڅولو سبب ګرځي. اداري فساد که د رشوت اخیستلو، مقام اخیستلو یا نفوذ په بڼه وي د جنایی عدالت په سیستم کـې نفـوذ کـړی دی. د تیرو او اوسـنیو اعمالو لپاره د رسـمي

چارواکو یا مشـرانو د مسئـول ګڼلو په برخه کې کمزورتیا پخپل سرى توقیف دایمي کړی دی.

پایله یې دا ده چې په افغانستان کې عدالت د ټولو افغانانو لپاره په مساوي توګه نه برابریږي. ټول هغه خلک چې په توقیف کې پاتې کیږي، که پخپل سرى توقیف وی یا قانونی، ډیر بیوزله خلک دي ځکه هغوی مالی منابع یا د خپل خلاصون لپاره نفوذ نلري.

د جنایـي عدالـت په سیسـتم کـې کمـزوری نظـارت او د مهمو مؤسسـاتو ترمنځ نا کافی همغږي د مجازاتـو د معافیت او اداری فساد د زیاتیدو او ادامې سبب ګرځې، او میلان لري چې خوارى کښ خلک په ځای د دې چې ترفع او پاداش ورکړل شـی هغوی ته جزا ورکړي او یایې لیرې کړی

> **د حل د لارې موندل**
>
> تر هغه وخته پورې چې د قانون حاکمیت په ټینګه رامنځته کیږي، نو دوامداره اضافی ریار ته د غښتلی نظارت په بڼه او د حساب ورکونې میکانیزمونو ته کوم چې اغیزناکه تطبیقی برخې ولري اړتیا شته تر څو د خپل سرى توقیف مخنیوی وشي. د دې لپاره چې د مجازاتو د معافیت او اداری فساد په مقابل کې مبارزه وشی او حساب ورکونه اصلاح شی، نو د ملی مشرانو او د نړیوالې ټولنې تائید شوی سیاسی ملاتړ یو شرط دی.

## پنځم اساسی علت: د زده کړې، د ظرفیت د ودې او د پوهاوی د ودې نا بشپړه پروګرامونه

د عدالت د رسـمي سیسـتم او هغو قوانینو په هکلـه کوم چې دغه سیسـتم جوړوی، ډیره زیاته هڅه د پولیسو، څارنوالانو، قاضیانو او د توقیف د رسمي چارواکو په زده کړه او د ظرفیت په وده کې تر سره شوې ده. لاتراوسه، لکه څنګه چې پورته پرې بحث وشو، چارواکي په وار وار سره په مهمو اصولو باندې نه پوهیږي، پشمول د توقیف د ندې او یا طرز العملی ساتنې. دغه اصل مونږته بیانوي چې د زده کړې او د ظرفیت د ودې نوښتونه باید بیا وارزول شی، ځکـه هغوی په اغیزناکه توګه دغه اصول یـا د بیلابیلو چارواکو مسؤلیت د عدالت په وړاندې کولو کې نه ترسره کوي.

یوبل عامل چې تر اوسه په روښانه توګه پرې بحث نه دی شوی هغه د رسـمي عدالت په سیسـتم کې د افغانانو د حقوقو په هکله د هغوی د پوهاوي کموالی دی. د دغې سې پوهې څخه پرته، افغانان نشي کولای چـې د خپلـو حقوقو ادعا وکړي او یایې وغـواړي. د پوهاوې د ودې پروګرامونه تر اوسه پورې په پراخه پیمانه محدود دي او د مهمو ونډه لرونکو تر منځ لکه AIHRC او NGOs همغږه شوي نه دي.

> **د حل د لارې موندل**
>
> د ملت په کچه، همغږه شوی د پوهاوې د ودې کمپاین به ګټور وی. په دغه کمپاین کې کیدای شي چې د راډیو پروګرامونه، ښاری غونډې، تیاتری ښوونې او هغه معلوماتی مواد شامل شی کوم چې د لوړو بی سوادود نسبت لپاره په نظر کې نیول کیږي. د پوهاوی د ودې وسیلې لکه د ښځینه محبوسینو د حقوقو په اړوند د عدلیې د وزارت رسالې (کوم چې د UNODC او UNIFEM له خوا تمویلږي ) باید ادامه ومومي.

# لومړۍ ضمیمه: د ښکیلو ډلو له خوا سپارښتنې

## د افغانستان دولت ته

### لومړی سپارښتنه

- په ټینګه سپارښــتنه کیږی چې د عدلیي وزارت (تقنین) د لوی څارنوالی، د کورنیو چارو وزارت، د ستري محکمې په مشــوره سمدلاســه د قانوني چوکات بیا کتنه پیل کړي – په شــمول د جزا قانــون او د جنایي کړنلارې د قانون د مســودې بیــا کتنه دې پیــل کړي تر څو هغــو تجدیدونو ته لومړیتوب ورکړل شــي کوم چې په لومړۍ سپارښتنه کې طرحه شوي دي.

### دویمه سپارښتنه

- کابینه او ســتره محکمه څخه غوښنه کیږی چه د مؤسساتو ترمنــځ د نظارت میکانیزم رامنځتــه کړي تر څو د زیاتې مودې د خپل سري توقیفونو داسې قضیې مطرح کړي کوم چې تر اوسه د ولسوالی په کچه نه دي حل شوي. د نظارت میکانیزم څخه مخکې دا لاندې چارې باید ترسره شي:
  - o کابینــه د ســترې محکمې په مشــوره باید د ســترې شــورا قیمومیت، هدف او صلاحیــت د بندیخانو او د ولســوالی او ولایت په کچه د هغو کمیټو په اړوند توضیــح کړي کوم چې د عدلیي د وزارت د توقیف د مرکزونو په اداره باندې څارنه کوي، او دا تولې کمیټــې د توقیف د مرکزونــو او بندیخانو د قوانینو په ترڅ کې رامنځته شوي دي. په ځانګړې توګه دا ټکې باید جوت شي چې آیا دغه میکانیزمونه کولای شــي چې پخپل سري توقیف شوي بندیان وټاکي اویا یې خوشې کړي.
  - o د کورنیــو چــارو د وزارت په بندیخانــو کې د خپل ســري توقیفونــو د هغو قضیو د حل لپــاره چې باید بندیــان د عدلیــي وزارت بندیخانو ته انتقال شــي، د عدلیــي وزارت، د کورنیــو چــارو وزارت او لوی څارنوالی باید د نوموړو قضیو د حل لپاره صلاحیت او پروسه توضیح کړي.
- تر هغه وخته پورې چې نوموړې پروسه توضیح کیږي او د ادارو ترمنځ د نظارت لازیات دایمی میکانیزم مشــخص کیږي، نو
  - o د عدلیي وزارت، لوی څارنوالی، او د کورنیو چارو وزارت باید په ټینګه تشویق شي چې سمدلاسه او

په ګډه توګه د توقیـف د ټولومرکزونو، څارنوالانو او پولیســو څخــه په هر ولایت کې غوښــتنه وکړي چې یو غښــتلي وضعي راپور دې د ټولو بندیانواو محبوسینو په هکله کوم چې د کورنیوچارو د وزارت او د عدلیــي د وزارت په بندیخانــو کې بندیان دي د یوې میاشــتې په مــوده کې جوړ کــړي، او کله چې ممکنه شوه مناسـبه اصلاحاتي اجراات دې تر سره کړي.

- ▪ په دغو راپورنو کې باید ټول باالقوه پخپل ســري توقیفونــه ذکــر شــي او د تعقیبــي اجــراات یا د ځنډونو لیږې کول باید ذکر شي.
- ▪ راپــور باید د عدلیي وزارت د محبس رئیس ته ، د کورنیو چارو د وزارت د بشري حقونو رئیس ته او د لوی څارنوالی مرســیتال ته د څارنې او مناســبه مؤخذ په توګه د اجرااتو لپاره وســپارل شي.
- ▪ د وضعیــت پیــاوړی راپــور باید په هــرو دریو میاشــتو کې وســپارل شــي تر هغه وخته پورې چې یو بل میکانیزم رامنځته کیږي.

- په ټینګه سپارښــتنه کیږي چې هره اداره (د کورنیو چارو وزارت، د عدلیي وزارت، لوی څارنوالی) باید د نظارت داخلي میکانیزمونه کوم چې جوړ شــوي ارزیابي کړي او همدارنګــه د هغوی اغیزناکتوب د خپل ســري توقیفونو د ټاکنــې، حــل او فصل او مخنیوي په هکلــه د ۲۰۰۹م کال د اپریــل د میاشــتې پــورې و ارزوي، او د دغــو ارزونو پــر بنســټ د ۲۰۰۹م کال د جون د میاشــتې پورې دې یو داســې پــلان رامنځتــه کړي کوم چــې دغــه میکانیزمونه پیــاوړي کړي. په ځانګړې توګه، سپارښــتنه کیږي چې د کورنیو چارو د وزارت د بشــري حقونو افسران او د لوی څآرنوالــی د څارنې څارنوالان اغیزمندتوب او د ســترې محکمې د نظارت ظرفیت باید ازمیښت شي.
- د کورنیــو چــارو وزارت، د عدلیــي وزارت،او لــوی څارنوالــی بایــد په ټینګــه خپلواړوندو د څارنــې د توقیف داخلي میکانیزمونو(د بشــري حقونو افســران، د توقیف د مرکز رئیســان، او د څارنې څارنوالان، په ترتیب ســره ) تــه دنده ورکړي چې د څآرنې او راپور ورکولو دوره دې زیاتــه کړي لږ تر لږه په هــرو دوو اونیو کې د مضبوطه وخت په حدودو کې.

- لکه څنګه چې په NJSS کې یادونه وشوه، سپارښتنه کیږي چې اخلاقي قوانین او مسلکي معیارونه باید رامنځته او د کورنیو چارو په وزارت، د عدلیې په وزارت، په لویه څارنوالۍ او په قضایي سیستم کې دې پیاوړي شي.

## دریمه سپارښتنه

- په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د توقیف د مسائلو په اړوند د ولسوالۍ، ولایت او ملت په کچه د همغږۍ لپاره، ستره محکمه، د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت د بندیخانو او د توقیف د مرکزونو رئیسان،او لوی څارنوالي دې د عملیاتو په یوې معیاري کړنلارې باندې ترکومه ځایه چې ممکنه وي موافقه وکړي. په کړنلاره کې باید د مؤسساتو ترمنځ د دوسیو د انتقال په هکله پروتوکولونه شامل وي ، اجراات باید وشي کله چې دوسیه نامکمله وي یا ورکه وي، او څارنه دې په کړنلاره کې شامله وي کله چې د وخت د حدودو څخه تیری کیږي.
- هڅه باید وشي چې پروژې باید په NJP کې شاملې شي کوم چې په نظر کې نیول کیږي چې د معلوماتو د اداري سیستم باید اصلاح کړي او وکړای شي چې د ولسوالۍ، ولایت او ملت په کچه پرته د ځنډ څخه د افغاني اړونده مؤسساتو له خوا پلي شي او په بشپړه توګه د تمویل کوونکو او ملګرو ملتونو له خوا باید تمویل شي. په دغه کارکې د قضیې د اداري د سیستم د مسئولیت ټاکنه شاملیږي کوم چې اوس مهال د متحده ایالاتو د دولتي دیپارتمنت لپاره دعدالت د سکتور د مرستې پروګرام او د سکتور مرستندویه پروګرام یې ازمیښت کوي
- د کورنیو چارو وزارت او د عدلیې وزارت د نړیوالو تمویل کوونکو د مشورتي مرستې سره باید په ټینګه د ګډ صلاحیت څارنیزه میکانیزمونه رامنځته کړي.

## پنځمه سپارښتنه

- د کورنیو چارو وزارت او د عدلیې وزارت، لوی څارنوالۍ، او ستره محکمه په مرسته د افغانستان د بشري حقونو خپلواکه کمیسیون AIHRC او نورو شریکانو ، لکه UNDP او JSSP څخه غوښتنه کیږی چه د عامه پوهاوی کمپاین چې په NJSS کی تری غوښتنه شوی د توقیف د حقوقو په اړوند د او سنیو توقیفیانو، محبوسینو او عامه خلکو په هکله کمپاین شامیلول هما یه کړي.
- د پوهې د زیاتوالي وسیلې لکه د عدلیې د وزارت رساله د ښځینه محبوسینو د حقوقو په هکله کوم چې د UNODC او UNIFEM له خوا تمویلیږي باید تمویل او وده ومومي. د پولیس ستیشنونه، د توقیف مرکزونه او د څارنوال دفترونه باید معلوماتي مواد ولري لکه لاسي او نمایشي مواد.

## شپږمه سپارښتنه

- په ټینګه سپارښتنه کیږي چې د عدلیې وزارت د حقوقي مرستې څانګه دې دملي حقوقي مرستې څانګه دې د ملي حقوق مرستې یو سیستم رامنځته کړي لکه څنګه چې د NJSS او NJP تر قیادت لاندې غوښتل شوي دي.
  - <u>**حقوقي مرستیالان:**</u> د عدلیې وزارت د حقوقي مرستې د یونټ، د خپلواکه مدافع وکیلانو د ټولنې او د عدالت د سکتور د تمویل کوونکو لپاره د شبه قضايي سیستم باید په افغانستان کې لومړیتوب ولري. دا لاندې چارې باید په ټینګه وڅول شي:
    - نوي مقررات چې شبه قضايي د افغانستان په حقوقي سیستم کې رامنځته کوي باید د سیاسي او مالي له پلوه د افغانستان د دولت او د تمویل کوونکو هیوادونو له خوا یې ملاتړ وشي.
    - د عدلیې وزارت د خپلواکه مدافع وکیلانو د ټولنې په همکاری او د تمویل کوونکو په مرسته، باید یو پروګرام رامنځته کړي چې زده کړه چټکه او شبه قضایي په هر ولایت کې توظیف کړي، او کله چې ممکنه شي د ولسوالیو مرکزونو ته دې هم وګماري. شبه قضايي ته باید دستور ورکړل شي چې محبوسینو او د هغو کورنیو ته د هغوی د حقوقو او جنایي کړنلارې په هکله سلا مشوري برابرې کړي. (یوازې د مدافع د قانون تر قیادت لاندې یومدافع وکیل یا نږدي خپلوان کولای شي چې د محبوس څخه استازیتوب وکړي). هغو ساحوته چې پکې د مرستې حقوقي موسسې کار نکوي باید لومړیتوب ورکړل شي.
- <u>**د مدافع وکیلانو او د حقوقي مرستیالانو د شمیر زیاتول.**</u> هغه زیارونه چې د هغه په ترڅ کې د مدافع وکیلانو شمیر زیاتیږي باید لومړیتوب ورکړل شي.
  - د خپلواکه مدافع و کیلانو ټولنه باید په جدی توګه خپل مقررات پلی کړی کوم چې د هغه په ترڅ کی راجستر شوی ددعوا وکیلان باید لږ. به هر کال کی د حقوقي مرستې دوه قضیې حل اوفصل کړیږد عدلیې وزارت د حقوقي مرستې یونټ باید تشویق کوونکی امتیاز د هغو خلکو لپاره طرحه کړي کوم چې غواړي د مدافع وکیلان شي، په ځانګړې توګه په لیرې پرتو سیمو کې. تمویل کوونکی هیوادونه باید دغه ډول اجراات تمویل کړي.

### اوومه سپارښتنه

- پارلمان او د مالیې وزارت څخه غوښــتنه کیږی چه باید دا خبره ډاډه کړي کله چې مالي وجهې ترلاسه شوې هغه باید په سم وخت سره تخصیص او تأدیه شي.
- د دې لپاره چې د افغانستان حکومت او قضایي سیستم په بریالیتوب ســره د خپل ســري توقیفونو په وړاندې مبارزه پیــل کړي او د توقیف د مرکز څخــه ګڼه ګوڼه کمه کړي، نــو لازمــه ده چې د دې لانــدې برخو لپــاره مالی وجهې برابرې شي:
  - o معاشــونه او امتیازونه تر څو په کافی شــمیر ســره با کفایته قاضیان، څارنوالان، پولیســان، د توقیف د مرکــز چارواکی او د محکمــی اداری کارکوونکی پاتې شي.
  - o د دغو رســمی چارواکو لپاره زده کړه او د ظرفیت وده،
  - o د عامو پوهاوی ملی کمپاین،
  - o د نظارت لازمه میکانیزمونو فعاله کول.

### اتمه سپارښتنه

- د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی او ســتره محکمــه باید پــه چټکه اومناســبه توګه رســمي چارواکــي په ټولو کچــو کې او هر هغه کس کنترول کړي کــوم چې د بندیانو حقوقو، د وخت قانونی حدودو او نورو مقرراتــو او حقوقي معیارونوته درنــاوی نکوي. په دغه انضبــاط کــې قانوني دعــوا شــامليږي کله چــې د جنايي مقرراتو څخه تيرئ وشي.
- همدارنګــه یــو محرمانه میکانیــزم هم باید رامنځته شــی کــوم چې د هغه په تــرڅ کې څارنــوالان، قاضیان، مدافع وکیلان، د محبوســینو خپلوان یا نور افراد وکړای شي چې د ممکنه خپل ســري توقیفونو د قضیــو راپور په محرمانه توګه ورکړي ترڅو دغه وړ ادعاګاني په مناســبه طریقې سره وڅیړل شی.

## د افغانستان قضا ته

### لومړۍ سپارښتنه

- ستره محکمه باید عدلیې ورارت (تقنین) ته مشوره برابره کړی ترڅو دغه وزارت سمدلاسه د قانونی چوکاټ نوي کول پیل کړي، په شمول د جزا قانون او د جنایی کړنلارې د قانــون د مســودی نوي کــول دې پیل کړي تــر څو هغو تجدیدونو ته لومړیتوب ورکړل شــی کــوم چې به لومړۍ سپارښتنه کې طرحه شوي دي.

### دویمه سپارښتنه

- ســتره محکمه او کابینه باید د مؤسســاتو ترمنځ د نظارت میکانیزم رامنځته کړي تر څو د زیاتې مودې د خپل سري توقیفونو داسې قضیې حل او فصل کړي کوم چې تر اوسه د ولســوالی په کچه نه دي حل شــوي. د نظارت میکانیزم څخه مخکې دا لاندې چارې باید ترسره شی:
  - o ســتره محکمه باید د کابینې ســره مشوره وکړي تر څو د بندیخانو او د ولسوالی او ولایت په کچه د هغو کمیټو په هکله د ســترې محکمې قیمومیت، هدف او صلاحیت توضیح کړي کوم چې د عدلیې د وزارت د توقیف د مرکزونو په اداره باندې څارنه کوي، او دا ټولــی کمیټې د توقیف د مرکزونو او بندیخانو د قوانینو په ترڅ کې رامنځته شــوي دي. په ځانګړې توګه دا ټکي باید جوت شي چې آیا دغه میکانیزمونه کــولای شــي چې پخپل ســري توقیف شــوي بندیان وټاکي اویا یې خوشې کړي.
- ترهغــه وختــه پورې چــې نومورې صلاحیت او پروســه توضیــح کیــږي او د ادارو ترمنځ د نظارت لازیات دایمی میکانیزم رامنځته کیږي، نو
  - o ســتره محکمــه بایــد پــه ټینګه تشــویق شــي چې د ولســوالی او ولایــت د محکمو څخــه وغواړي چې هر هغــه قضیه چې د قانوني وخــت د حدودو څخه د زیاتــې مــودې لپاره پاتې وي په یوه میاشــت کې وټاکــي او وروســته دې په هرو دریو میاشــتو کې راپــور برابر کړي. همدارنګه سپارښــته کیږي چې ســتره محکمه د اړونده محکمي، په شمول د سترې محکمــې څخه وغــواړي چې په پخپلو اســنادو کې د غــو قضیــو او هغو تــه لومړیتــوب ورکړي چې د ولایــت پــه وضعي راپــور کې ټاکل شــوي وي. همدارنګــه سپارښــتنه کیــږي چې ســتره محکمه د مراجعینو صورت حساب جوړ کړي او د هغه سره سم دې قضیو ته لومړیتوب ورکړي.
- په ټینګه سپارښــتنه کیږي چې ستره محکمه باید د نظارت د داخلي میکانیزمونو اغیزناکتوب د خپل ســري توقیفونو د ټاکنــې، حل او فصل او مخنیوي په هکله د ۲۰۰۹م کال د اپریل د میاشــتې پورې و ارزوي، او د دغو ارزونو پر بنسټ د ۲۰۰۹م کال د جون د میاشتې پورې دې یو داسې

پــلان رامنځته کړي کــوم چې دغــه میکانیزمونه پیاوړي کړي. په ځانګړي توګه، سپارښــتنه کیږي چې د ســترې محکمې د نظارت ظرفیت باید ازمیښت شي.

- لکه څنګه چې په NJSS کې یادونه وشــوه، سپارښــتنه کیږي چې اخلاقي قوانین او مسلکي معیارونه باید رامنځته او په قضایي سیستم کې دې پیاوړي شي.

## دریمه سپارښتنه

- په ټینګه سپارښــتنه کیږي چې د توقیف د مسائلو په اړوند د ولســوالی، ولایت او ملت په کچه د همغږۍ لپاره، ستره محکمــه، د کورنیــو چــارو وزارت، د عدلیــې وزارت د بندیخانو او د توقیف د مرکزونو رئیسان،او لوی څارنوالی دې د عملیاتــو پــه یوې معیاري کړنــلارې باندې ترکومه ځایه چې ممکنه وي موافقه وکړي. په کړنلاره کې باید د مؤسســاتو ترمنځ د دوســیو د انتقال په هکله پروتوکولونه شامل وي ، اجراات باید وشي کله چې دوسیه نامکمله وي یا ورکه وي، او څارنه دې په کړنلاره کې شــامله وي کله چې د وخت د حدودو څخه تیری کیږي.
- هڅه باید وشــي چې پروژې باید په NJP کې شــاملې شي کــوم چې په نظر کــې نیول کیږي چې د معلوماتو د اداري سیســتم باید اصلاح کړي او وکړای شــي چې د ولسوالی، ولایــت او ملــت په کچه پرته د ځنډ څخــه د افغاني اړونده مؤسساتو له خوا پلي شي او په بشپړه توګه د تمویل کوونکو او ملګــرو ملتونــو له خوا باید تمویل شــي. په دغه کارکې د قضیې د اداري د سیســتم د مســئولیت ټاکنه شــاملیږي کــوم چې اوس مهــال د متحده ایالاتو د دولتــي دیپارتمنت لپاره دعدالت د ســکتور د مرســتي پروګرام او د سکتور مرستندویه پروګرام یې ازمیښت کوي

## پنځمه سپارښتنه

- د عدلیې وزارت، د کورنیو چارو وزارت، لوی څارنوالی، او ستره محکمه د AIHRC او نورو شریکانو په همکارۍ ، لکه UNDP او JSSP باید په ټینګه و هڅول شــي چې د توقیف د حقوقو په هکله د عامه پوهاوی د هغه کمپاین شمولیت باید ملاتړ وکړي کوم چې محبوسین او عامه خلک تر پوښــښ لاندې راولی او دعامه پوهــاوې ملی کمپاین د NJSS د شمولیت غوښتنه وکړي.

## اتمه سپارښتنه

- د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لوی څارنوالی او ستره محکمه باید په چټکه اومناسبه توګه رسمي چارواکي پــه تولــو کچو کې او هر هغه کس کنتــرول کړي کوم چې د بندیانــو حقوقو، د وخت قانونی حدودو او نورو مقرراتو او حقوقــي معیارونوتــه درناوی نکوي. پــه دغه انضباط کې قانوني دعوا شــاملیږي کله چې د جنایی مقرراتو څخه تیری وشــي. یو محرمانه میکانیزم هم باید رامنځته شــي کــوم چې د هغه په تــرڅ کې څارنــوالان، قاضیان، مدافع وکیلان، د محبوســینو خپلوان یا نور افراد وکړای شي چې د ممکنه خپل ســري توقیفونو د قضیــو راپور په محرمانه توګه ورکړي ترڅو دغه وړ ادعاګانې په مناســبه طریقې سره وڅیړل شي.

# د افغانستان پارلمان ته

## لومړۍ سپارښتنه

- د پارلمان څخه غوښــتنه کیږی چه باید دا خبره داډه کړي چــې د جزا د قانون د کاری چوکاټ بیا کتنه په خپله اجندا کــې ځــای پر ځــای کړي او پــه هغه کــې تجدیدونه لکه څنګه چې په لومړۍ سپارښــتنه کې طرحه شوي دي تائید کړي.

## اوومه سپارښتنه

- پارلمــان او د مالیــې وزارت هڅول کیږی چه باید دا خبره ډاډه کړي کله چې مالي وجهې ترلاســه شــوې هغه باید په سم وخت سره تخصیص او تأدیه شي.
- د دې لپاره چې د افغانستان حکومت او قضای‌ي سیستم په بریالیتوب ســره د خپل ســري توقیفونو په وړاندې مبارزه پیــل کړي او د توقیف د مرکز څخــه ګنه ګونه کمه کړي، نــو لازمــه ده چې د دې لانــدې برخو لپــاره مالی وجهې برابرې شي:
  - o معاشــونه او امتیازونه تر څو په کافي شــمیر ســره با کفایته قاضیان، څارنوالان، پولیســان، د توقیف د مرکــز چارواکی او د محکمــې اداری کارکوونکی خوندی پاتې شي.
  - o د دغو رســمی چارواکو لپاره زده کړه او د ظرفیت وده،
  - o د پوهاوی ملی عامه کمپاین،
  - o د نظارت لازمه میکانیزمونو د چلولو لپاره.

# نړیوالې ټولنې ته:

## لومړۍ سپارښتنه

- د نړیواله ټولنه څخه غوښتنه کیږی چه د عدلیې د وزارت (تقنین) او پارلمان له خوا د جـزا د قانون د چوکاټ نوي کـول تمویل او ملاتړ یــې وکړي لکه څنګه چې په لومړۍ سپارښتنه کې طرح شوي دي.

## دویمه سپارښتنه

- نړیــوال تمویــل کوونکــي او د عدالــت، تصحیحاتــو اود پولیس د ســکتور تمویل شوي پروګرامونه په ټینګه هڅول کیږي چې د اداراتو ترمنځ دداخلی نظارت میکانیزمونه رامنځتــه کول همایــه کړي تر څو د خپل ســري توقیفونو مســائل د تخنیکی مشــورې او مالي مرستي له لارې لکه څنګه چې لازمه وي حل او فصل شي.
- نړیــوال تمویل کوونکي او عدالت، تصحیحاتو اود پولیس د ســکتور تمویل شوي پروګرامونه په ټینګه هڅول کیږي چې د داخلي نظارت د میکانیزمونو پیاوړتیا تمویل کړي کوم چې د پخپل سري توقیفونو په حل او فصل کې مرسته کوي.

## دریمه سپارښتنه

- نړیــوال تمویل کوونکي، ملګري ملتونــه او د عدالت او تصحیحاتــو تمویــل شــوي پروګرامونه پــه ټینګه هڅول کیږي چې د افغانســتان دولت تمویل او یوځای ورســره کار وکړي تر څو په چټکه توګه هغه پروژې تطبیق کړي کــوم چې په NJP کې شــاملې دي . او پــه نظر کې نیول شــوی چې د معلوماتو د اداري سیستم باید اصلاح کړي او وکړای شــي چې د ولســوالی، ولایت او ملت په کچه ښــه همغږي د موسســاتو ترمنځ رامنځته کړي. په دغه کارکې د قضیې د اداري د سیســتم ممکنــه لاری چاری پلټل دی کــوم چې اوس مهــال د متحده ایالاتو د دولتــي دیپارتمنت لپاره دعدالت د ســکتور د مرســتي پروګرام او د سکتور مرستندویه پروګرام لخوا ازمیښت کــیږي
- نړیــوال تمویل کوونکي او مرســتندویه مشــاورین باید په ټینګه وهڅول شي چې د ګډ صلاحیت تعقیبي میکانیزمونه رامنځته کړي.

## څلورمه سپارښتنه

- پــه ټینګه سپارښــتنه کیږي چــې د پولیســو، څارنوالی او قضایي سیســتم زده کــړه او د ظرفیت د ودې پروګرامونه کوم چې د نړیوالو تطبیق کوونکو موسســو لکه JSSP, CSSP, UNODC, EUPOL ، او افغاني موسســات لکــه د افغانســتان د بشــري حقونــو خپلواکــه کمیســیون (AIHRC ) یا دولتي دوایدو له خوا پلي کیږي باید زیات شــي او تر پلان لاندې دي ونیول شــي ترڅو چارواکي د نورو مسائلو تر څنګ ښه پوهه ترلاسه کړي:
  - o د عدالت مفکوره د رســمي عدالت سیستم او دهغوی متناسبوالی د غیر رسمي عدالت سره څرګندوی
  - o د توقیف رول او دنده او هغه حقوق کوم چې هغوی د درناوي او ساتني په اړه مسئول دي.
  - o د مدافع وکیل رول او دنده
  - o د قانون ســره سم د ښځو او نجونو حقوق د مساویانه ســاتني لپــاره او د چارواکــو دنــدی د دغــه حــق د ســاتني لپاره او دکورنیوچــارو د وزارت د کورنۍ د غبرګــون د یونټونو او د ښــځو د چارو د وزارت رول په محلي کچه.
  - o د توقیــف پــه اړونــد دنــده او د مروجــو حقوقــو محتویات
  - o د توقیــف د تحقیق تخنیک او پوښــتنو نورې لارې چارې ،
  - o د خپل سري توقیف تعریف، او موجوده علاجونه
  - o د همغــږۍ او د قانــون تطبیــق پــه هکلــه د عملیاتو معیاری کړنلارې (SOPs) ،
  - o د داخلي نظارت میکانیزمونه
- د بشري حقونو دغه عملي برخې باید د پولیس، څارنوالانو، قاضیانــو او د توقیف د کارکوونکو پــه معیاري او پرمخ تللي زده کړه کې لازیات ښکاره شي.
- د قانــون مرســتندویه پروګرامونه باید د عدالت د ســکتور د مرســتي د پروګرامونو ســره کاروکړي تر څو د قانون جوړونکــو او د هغوی د هغو کارکوونکو لپاره زده کړه رامنځته کړي کوم چې مشــرانو جرګه او ولســي جرګه په اړونده کمیټو کې کارکوي. د زده کړې په پروګرام کې باید دغه مضمونونه شامل شي خو باید داسې اصلاحات پکښې راوســتل شــي چې د قانون جوړولو مقررات او د پارلمان نظارتي مسئولیتونه پکښې هم شامل شي.

## پنځمه سپارښتنه

- نړیوال تمویل کوونکي او همکاره موسسې ، لکه UNDP او JSSP بایــد د توقیف په اړونــد د عامه پوهاوی د هغه کمپاین ملاتړ وکړي کوم چې په NJSS غوښــتنه شــوی

او اوسنی توقيفيان او محبوسين او عامه خلک تر پوښښ لاندې راولی. مرسته بايد مالي او مشورتي وي.

- د پوهاوی د ودې وسيلې لکه د عدليې د وزارت رساله د ښځينه محبوسينو د حقوقو په هکله کوم چې د UNODC او UNIFEM له خوا تمويلېږي بايد تمويل او وده ومومي. د پوليس ماموريتونه، د توقيف مرکزونه او د څارنوال دفترونه بايد لاسي او نمايشي مواد ولری.

## شپږمه سپارښتنه

په ټينګه سپارښتنه کيږي چې نړيوال تمويل کوونکي او تمويل شوي پروګرامونه د عدليې وزارت د حقوقي مرستې څانګه کومه چې د پرمختياي ملی حقوقي سيستم تمويلول لکه څنګه چې د NJSS او NJP تر قيادت لاندې غوښتل شوي دي رامنځته کړي.

- حقوقی مرستيالان: د تمويل کوونکو د عدالت سکتور او مرستندويه پروګرامونه په ټينګه هڅول کيږي تر څو په افغانستان کې د حقوقی مرستيالان سيستم ودې ته لومړيتوب ورکړي. دا لاندې چارې بايد په ټينګه وهڅول شي:
  - o نوي مقررات چې حقوقی مرستيالان د افغانستان په حقوقي سيستم کې رامنځته کوي بايد د سياسي او مالي له پلوه د افغانستان د دولت او د تمويل کوونکو هيوادونو له خوا يې ملاتړ وشي.
  - o نويکونکی، او د عدالت د همايه سکتور او حقوقی کومکی پروګرامونه بايد د عدليې وزارت او خپلواکه مدافع وکيلانو د ټولنې همايه کوی او د تمويل کوونکو په مرسته، بايد يو پروګرام رامنځته کړي ترڅو زده کړه ګړندۍ او حقوقی مرستيالان په هر ولايت کې توظيف کړي، او کله چې ممکنه شي د ولسواليو مرکزونو ته دې هم وګماري. حقوقی مرستيالان ته بايد دستور ورکړل شي چې محبوسينو او د هغو کورنيو ته د هغوی د حقوقو او جنايي کړنلارې په هکله سلا مشورې برابرې کړي. (يوازې د مدافع د قانون تر قيادت لاندې يو مدافع وکيل يا نږدې خپلوان کولای شي چې د محبوس څخه استازيتوب وکړي). هغو ساحوته چې پکې د مرستې حقوقي موسسې کار نکوي بايد لومړيتوب ورکړل شي
- **د مدافع وکيلانو او د حقوقي مرستو زياتول.** هغه زيارونه چې د هغه په ترڅ کې د مدافع وکيلانو شمير زياتيږي بايد لومړيتوب ورکړل شي.
  - o کومک کوونکي هيوادونه او دعدالت د سکتور مرستندويه پروګرامونه بايد د خپلواکه مدافع وکيلانو ټولنه وهڅوي چې په جدي توګه خپل مقررات پلی کړي کوم چې د هغه په ترڅ کې راجستر شوی د دعوا وکيلان بايد لږ تر لږه به هر کال کې د حقوقی مرستې دوه قضيې حل او فصل کړي.
  - o تمويل کوونکي هيوادونه هڅول کيږي چې د تشويق کوونکی امتياز طرحه او تطبيق د هغو لپاره وهڅوي کوم چې غواړي د مدافع وکيلان شی، په ځانګړې توګه په ليرې پرتو سيمو کې د عدليې وزارت د حقوقي مرستې د يونټ له خوا.

## اوومه سپارښتنه

- کومک کوونکی هيوادونه بايد په ټينګه دې ټکي ته اړشي چې د NJSS او NJP تر قيادت لاندې ژمنه وکړي چې د توقيف اړونده نوښتونو لپاره ترکومه ځايه چې ممکنه وی مالی وجهې هرڅومره چې ژرممکنه وی برابرې کړي.
- د دې لپاره چې د افغانستان حکومت او قضايي سيستم په بريالیتوب سره د خپل سري توقيفونو په وړاندې مبارزه پيل کړي او د توقيف د مرکز څخه ګټه ګونه کمه کړي، دا لاندې برخو لپاره مالی وجهې برابرې شي:
  - o معاشونه او امتيازونه تر څو په کافی شمير سره با کفايته قاضيان، څارنوالان، پوليسان، د توقيف د مرکز چاروکی او د محکمې اداری کارکوونکی پاتې شي.
  - o د دغو رسمی چارواکو لپاره زده کړه او د ظرفيت وده،
  - o د پوهاوی ملی عامه کمپاين،
  - o د نظارت لازمه ميکانيزمونو د چلولو لپاره.

# افغاني شريکانو ته

## څلورمه سپارښتنه

- د حقوقو فاکولتې په ټينګه بايد وهڅول شي چې دغه مضمونونه په تعليم او روزنه کې راټول کړي. همدارنګه، د حقوقو فاکولتې بايد د توقيف او د بنديانو د حقوقو تعليم او زده کړه غونډه کړي.

## پنځمه سپارښتنه

- **حقوقي مرستيالان.** د خپلواکه مدافع وکيلانو ټولنه، د عدالت د سکتور تمويل کوونکي او مرستندويه

پروګرامونــه بایــد د عدلیــې وزارت د حقوقــي مرســتې د څانګه ســره کار وکړي چې په افغانســتان کې د شــبه قضايي سيستم رامنځته کړي. دا لاندې چارې باید په ټینګه وهڅول شي:

- o د خپلواکــه مدافع وکیلانو ټولنه د تمویل کوونکو په مرســته هڅول کیږي چې د عدلیې وزارت سره کار وکړي ترڅو داســې یو پروګرام رامنځته کړي چې زده کړه ګړندۍ او حقوقی مرستیالان په هر ولایت کې توظیف کړي، او کله چې ممکنه شي د ولسوالیو مرکزونو ته دې هم وګماري. حقوقی مرســتیالان ته باید دســتور ورکړل شــي چې محبوســينو او د هغو کورنیو ته د هغــوی د حقوقو او جنایي کړنلارې په هکله سلا مشورې برابرې کړي. (یوازې د مدافع د قانون تر قیادت لاندې یومدافع وکیل یا نږدې خپلوان کولای شي چې د محبوس څخه استازیتوب وکړي).

هغو ســاحوته چې پکې د مرســتي حقوقي موسسې کار نکوي باید لومړیتوب ورکړل شي

- **د مدافع وکیلانو او د حقوقي مرستو زیاتول**. هغه زیارونه چې د هغه په ترڅ کې د مدافع وکیلانو شمیر زیاتیږي باید لومړیتوب ورکړل شي.
  - o د خپلواکــه مدافــع وکیلانو ټولنه باید په جدي توګه خپل مقــررات پلی کړي کوم چې د هغه په ترڅ کې راجســتر شوی د دعوا وکیلان باید لږ تر لږه په هر کال کــې د حقوقی مرســتې دوه قضیې حل او فصل کړي.

## شپږمه سپارښتنه

- په ټینګه سپارښتنه کیږي چې AIHRC او نورې همکاره موسســې د په توقیف پورې اړونــده د حقوقو د یو کمپاین شمولیت د پوهاوي په ملي او عامه کمپاین کې تمویل کړي لکه څنګه چې د NJSS تر قیادت لاندې غوښتل کیږي.

# دویمه ضمیمه: د لغاتو مجموعه

| | |
|---|---|
| AGO | لوي ځارنوالی |
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون |
| ANDS | د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتیژي |
| ANP | د افغانستان ملی پولیس |
| CSSP | د متحده ایالاتو دولتي اداره د مرستي د سکتور د تصحیحاتو لپاره |
| GoA | د افغانستان حکومت |
| HRC (UN) | د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو کمیټه |
| ICCPR | د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال تړون |
| ICPC | د جنایي کړنلارې لنډ مهاله قانون |
| ICRC | د سره صلیب نړیواله کمیټه |
| IMF | نړیوال پولي صندوق |
| JSSP | د متحده ایالاتو د عدالت د سکتور د مرستي د پروګرام دولتي اداره |
| LSOP | د یوناما د حقوقی سیستم د ملاحظاتو پروژه |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MoJ | د عدليي وزارت |
| MoWA | د ښځو د چارو وزارت |
| NDS | د ملي امنیت ریاست |
| NJP | د ملي عدالت پروګرام |
| NJSS | د ملي عدالت د سکتور ستراتیژي |
| OHCHR (UN) | د ملګرو ملتونو دفتر د بشري حقوقو د عالي کمشنرئ لپاره |
| UDHR | د بشري حقوقو نړیواله اعلامیه |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګروملتونو د مرستي ماموریت |
| UNICEF | د ماشومانو د ښووني او روزني لپاره د ملګرو ملتونو نړیوال وجهي صندوق |
| UNODC | د ملګرو ملتونو اداره د مخدره موادو او جنایاتو د منع په هکله |

# د صفحې د پای یادونه

١ د OHCHR ٢٦م شميرې فکت شيت ته مراجعه وکړئ. د پخپل سري توقيف په هکله کاري گروپ ترلاس رسی
//:htm http.fs٢٦/٢/www.unhcr.ch/html/menu٦ ,

٢ د افغانستان د اساسي قانون ٢۴مه او ٢٧ (٢)، او (٣) ماده

٣ Martin Schönteich ته مراجعه وکړئ. په ټوله نړی کې د محاکمې څخه د مخه د توقيف اندازه او ناوړه عواقب ،د عدالت نوښتونه. د محاکمې څخه مخکې توقيف ، د آزاده ټولنې د عدالت سيستم ، ٢٠٠٨م کال، ١١-۴٣مه صفحه ، د ټولنيز اقتصاد او د توقيف د عامه روغتيا اغيزې د يوې مباحثې لپاره

۴ د ملی عدالت سکتور ته مراجعه وکړئ، د ANDS عدالت او د قانون حاکميت. ١٣٨٧-١٣٩١(٢٠٠٧/٠٨-٢٠١٢/١٣) دويم ټوک، دويم ستون، ښه اداره، د افغانستان د ملی پرمختيا ستراتيژی، ٢٠٠٨م کال ، ٢١مه صفحه او د بشري حقوقو معيار، د افغانستان ترون، ٢٠٠٦

۵ د بشري حقوقو معيار، لومړی ضميمه: معيار او زمانی چوکاټ، د افغانستان ترون، ٢٠٠٦م کال د فبروری د مياشتې لومړی نيټه، ٨ مه صفحه

۶ د ملگرو ملتونو د امنيت د شورا پريکړه ١۶۶٢(٢٠٠۶), ١٧۴۶(٢٠٠٧), ١٨٠۶(٢٠٠٨).

٧ Supra, n ۵.-

٨ د محاکمې د مخه پړاو د تحقيق په مهال، صورت دعوا او د محاکمې پړاونه په کوم کې چې محبوس بايد بيگناه وانگيرل شی. (د افغانستان په قانون کې، د محاکمې د مخه توقيفونه د شرطی توقيفونو په نامه ياديږي. د جزايی اجرااتو د قانون ۶مه ماده ) د محکوميت څخه وروسته پړاونه وروسته له دې چې د منصفانه محاکمې په اساس توقيفی گناهکاره و پيژندل شی، هغه توقيفيږي يا بندی کيږي، البته د محکمې د حکم په اساس. (په عمومې توگه، دغه پړاو د حبس په نامه ياديږي نه د توقيف په نامه، او توقيفی د محبوس په توگه تعريف کيږي)

٩ د NDS او IMF د توقيفونو په اړوند د مباحثې لپاره، نړيوالې عفوې ته مراجعه وکړی. د افغانستان توقيفيان د سکنجې لپاره واستول شول. د آيساف بنديخانې؟ ٢٠٠٧م کال د نومبر مياشت.١١ASA/http://www.amnesty.org/en/library/asset/ASA١١/٠١١/٢٠٠٧en.pdf/١١٠١١٢٠٠٧en/dom-ASA, او په افغانستان کې IMF پورې اړونده بنديخانو په هکله، د بشري حقوقو،اول پخپل سری عدالت ته مراجعه وکړئ . د بگرام او گوانتانامو د توقيفيانو محاکمې په افغانستان کې ، ٢٠٠٨ م کال د اپريل مياشت.
arbitrary-justice-report.pdf-٠٨٠۴٠٩-http://www.humanrightsfirst.info/pdf/USLS ,

١٠ کومه څېړنه ترسره نه شوه تر څو د خپل سری يا غير قانونی توقيف دوره تعقيب کړي

١١ په لومړي پړاو کې د ٣۴ ولاياتو څخه ٣٠ شامل و، د نورستان، ارزگان، زابل او پکتيکا د ولاياتو څخه پرته، د امنيتی انديښنو له امله

١٢ ټولو ښکيلو کارکوونکو د داخلی قانونی معيارونو او کړنلارو، د نړيوالو معيارونو او پوښتنليکونو په هکله زده کړه ترلاسه کړه تر څو د څارنې معلومات ترلاسه کړي.

١٣ ١٩٩١/۴۵٨ شميره مفاهمه، A. W. Mukong v Cameroon (د ١٩٩۴ م کال د جولای په ٢١مه نظريات منل شوی)، د ملگرو ملتونو به سند کې، ۴٠/۴٩/GOAR, A (دويم ټوک)، ١٨١مه صفحه، ٩.٨ پاراگراف، تأکيد پرې وشو.

١۴ د OHCHR ٢۶م شميرې فکت شيت ته مراجعه وکړئ. د پخپل سري توقيف په هکله کاري گروپ
//:htm http.fs٢۶/٢/www.unhcr.ch/html/menu۶

١۵ د ICCPR ٩مه ماده بياناتو

١. هر څوک د آزادئ او امنيت حق لري. هيڅوک بايد پخپل سری توگه ونه نيول شي او يا توقيف نشي. هيڅوک بايد د خپل د آزادئ څخه محروم نشي په استثنا د هغه حالت چې د هغې کړنلارې سره سم وی کوم چې په قانون کې بيان شوي دي.

٢. هر څوک چې نيول کيږي بايد د نيونی په مهال د نيونی دليل ورته وويل شي او دغه په وړاندې د هر ډول تور په هکله په سم وخت کې خبر ورکړل شی.

٣. هر څوک چې د جنايت په تور نيول يا توقيفيږي بايد پرته د ځنډ څخه د قاضی يا نورو با صلاحيته چارواکو مخ ته دې راوستل شی تر څو د قضايي قوې څخه کار واخيستل شی او بايد په معقوله وخت کې د محاکمې يا د خوشې کيدو مستحق وي. دا بايد په عمومې قانون باندې بدل نشي کوم چې هغه اشخاص چې محاکمې ته سترگې په لار دي په توقيف کې وساتل شي، خو خوشې کيدنه يې بايد د ضمانت په اساس وي تر څو محاکمې ته د قضايي اجرااتو په هر پړاو کې مراجعه وکړي او د قضاوت د اجرا لپاره بايد فرصت رامنځته شی،

۴. هر هغه څوک چې د نيونې يا توقيف په اساس د خپل آزادئ څخه محروميږي بايد د دې مستحق وي چې رسمی راپور محکمې ته وړاندې کړي، ترڅو محکمه پرته د ځنډ څخه د توقيف د قانونيت په هکله بريکړه وکړی او يا هغه خوشې کړی که چيرته توقيف غير قانونی وي.

۵. هر څوک چې د غير قانونی نيونې يا توقيف قربانی شوی وی بايد د جبران مستحق وی او دغه جبران بايد د اجرا وړ وي.

١۶ ICCPR د خپل سري توقيف منع، ٩مه ماده، طرزالعملی ساتنی، ٧مه، ٩مه او ١۶مه ماده، د ماشوم د حقوقو په هکله ترون، ٣٧ (٢) مه ماده، د بشځو په وړاندې د تبعيض د ختمولو ميثاق غير تبعضی فقری ١۵ (١) مه ماده ، او د اساسی تبعيضونو د ټولو شکلونو د ختمولو ميثاق، ۵مه ماده. د يادونې وړ ده چې د عدالت نړيواله محکمه د يرغملونو په هکله چه په تهران کې وه کوم چې غير قانونی محروميت د آزادئ څخه د ملگرو ملتونو د فرمان د اصولو او UDHR سره سمون نلري، نوموړې قضيه په تهران کې د امريکا د متحده ايالاتو د ډيپلوماتانو او د کونسل د کارکوونکو په هکله وه (د امريکې متحده ايالات، تهران)، د ICJ راپورونه ١٩٨٠م کال ، ۴٢مه صفحه، ٩١م پاراگراف.

١٧ د افغانستان د اساسی قانون ٢۴ (١) مه او (٣) ماده

١٨ د افغانستان د اساسی قانون ٢۴ (١) مه ماده

١٩ Ibid - د افغانستان د اساسی قانون د ٢٧ (١) مادې په اساس لاپسې بياوړی کيږي کوم چې د جرم په توگه په نظر کې نيول کيږي او سند بايد لکه څنگه چې په قانون کې وي کې مخکې د تيرى څخه بايد جوړ شی.

۲۰ د افغانستان د اساسی قانون ۲۷ (۲) مه ماده
۲۱ په ټول راپور کې، په دغه قوانینو به مباحثه وشي او هغه ضمانت به تحلیل شی کوم چې د افغانستان په اساسی قانون کې ذکر شوي دي. خوبیاهم، نور قوانین توقیف کنترولوي او د راپور د وسعت له امله پرې بحث نکیږي. په دې کې دغه قوانین شامل دي: په جنایی موضوعاتو کې د نړیوالې همکارئ قانون، د مخدره توکو د منع قانون
۲۲ رسمي جریده شمیره ۳۴۷, ۱۹۷۶
۲۳ رسمي جریده شمیره ۸۲۰, ۲۰۰۳.
۲۴ رسمي جریده شمیره ۸۶۲, ۲۰۰۵
۲۵ رسمي جریده شمیره . ۲۶, ۱۹۶۵
۲۶ رسمي جریده شمیره۸۵۱, ۲۰۰۵
۲۷ رسمي جریده شمیره ۸۵۲, ۲۰۰۵.
۲۸ رسمي جریده شمیره۹۳۴, ۲۰۰۷.
۲۹ د افغانستان د اساسی قانون ۳۲مه ماده هغه پور ردوي کوم چې حبس ته لار آواره کړي، خو د مدنی قانون یا د قراردادی ژمني څخه سر غړوونه نه. په نړیوال قانون کې، ICCPR د قراردادي ژمنو د پوره کولو لپاره عدم توانمندی د توقیف د ژمنی په توګه ردوي.
۳۰ د پور لپاره حبس / توقیف په روښانه توګه د افغانستان د اساسی قانون په ۳۲مې ماده کې منع شوی دی.
۳۱ د افغانستان د اساسی قانون ۲۷ (۱) مه ماده دا خبره منع کړې ده چې یو عمل د جرم په توګه په نظر کې ونیول مګر دا چې په قانون کې بیان شوي وي. هغه قانون چې د افغانستان د اساسی قانون د ۹۴مې مادې سره سمون لری ، د ICCPR ۹ (۱) ماده دغه اصل تکراروي.
۳۲ د ستري محکمې له خوا پرته د تبعیض آمیزه تعبیر او تفسیر څخه، د شریعت یا عرفی یا ټولنیزو تمرینونو څخه سرغړونه کوم چې په جنایی قانون کې پیدا نشی د قانونی توقیف لپاره لار نه اواروي. د افغانستان د اساسی قانون ۲۷ (۱) ماده دا غواړي چې یو عمل هغه وخت د جرم په توګه په نظر کې باید ونیول شی چې په قانون کې مخکې له دې چې د تیرې ارتکاب وشی بیان شوی وی. دغه قانون په ۹۴مه ماده کې قانون داسې تعریفوی چې د ملی اسامبلې د دواړو جرګو له خوا تصویب او د دولت د رئیس له خوا لاسلیک شوی وي، مګر دا چې د اساسی قانون له خوا په بل ډول بیان شوی وي.
د ۹۴مې او ۲۷ (۱) مې مادې په لوستلو سره، اساسی قانون دا غواړي چې یو عمل باید په یوه قانون کې تدوین شی کوم چې د ملی اسامبلی او د دولت د رئیس له خوا د دې لپاره تصویب شی چې د جرم په توګه په نظر کې ونیول شی نو بیا د توقیف لپاره د جنایی کرنلارو تر قیادت لاندې قانونی بڼه غوره کوي. له دې امله د جنایی تیریو لپاره، نه شریعت او نه عروفی یا ټولنیز تمرینونه دغه معیار نه پوره کوي.
ډیر څارنوالان او قاضیان د دغه اصل سره موافقه نلري. هغوی څارونکو ته استدلال کړی چې په صورت دعوا او د محکمې په پریکړو کې د ۱۹۷۶م کال د جزا قانون په بشپړه توګه شریعت نه دی منعکس کړی، له دې امله نیمګړتیا باید د شریعت په واسطه ډکه شی. هغوی استدالال کوی چې د اساسی قانون ۱۳۰مه ماده دغه کار ته اجازه ورکوي.
۱۳۰مه ماده اجازه ورکوي چې د حنفی د فقې (د شریعت ښوونځی) څخه دې استفاده وشی که چیرته په قانون کې کومه نیمګړتیا وی تر څو عدالت په ښه توګه ترلاسه شی. کیدای شی چې دا ډول استدلال وشی چې حنفی فقه د توقیف او د جرم او جزا د تعریف لپاره د قانون په توګه په نظر کې ونیول شی. خوبیاهم، داسی بریښی چې (۱)۲۷مه ماده دغه اصل ته اجازه نه ورکوي. حنفی فقه قانون نه بیانوي.
د جنایی توقیف لپاره د ۱۳۰مې مادې کارول داسې ښکاري چې د نړیوالو معیارونو سره مطابقت نلري، د بیلګې په توګه، د نړیوال قانون سره سم، یو عمل باید د هیواد په داخلی قانون کې باید د جرم په توګه تعریف شي مخکې له دې نه چې نوموړی عمل ترسره شی. ( ۱۹۹۶/۷۰۲شمیره مفاهمه، .C McLawrence v. Jamaica (د ۱۹۹۷م کال د جولای په ۱۸مه نیټه نظریات ومنل شول) د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې ۴۰/۵۲/A، ۲۳۰-۲۳۱ مه صفحه، ۵,۵ پاراګراف. د ICCPR ۹(۱)مې او ۱۵ (۱) مې مادی ته مراجعه وکړی )
۳۳ UNODC ، افغانستان: ښځینه محبوسیني او د هغوی ټولنیز بیا میشته کیدل، ۲۰۰۷م کال، مارچ.
http://www.unodc.org/pdf/criminal_justice/Afghan_women_prison_web.pdf
۳۴ د UNODC فکت شیت، د حبس بله لاره چاره، د ۲۰۰۸م کال د دسمبر په لومړي نیټه د یوناما په مطبوعاتي کنفرانس کې وویشل شوه.
۳۵ UNODC, supra n ۳۳ ته مراجعه وکړی، ۲۲مه صفحه. معمولاً دغه قضیې د هغو نجونو او ښځو سره تړاو لري کوم چې د جبری واده یا د کورنی خشونت او یا دخپل ملګری سره تښتیدلی کله چې اړونده کورنیو اجازه نه ده ورکړې (په ساحوی دفترونو کې د ملاحظاتو او قضیو پر بنسټ، همدارنګه د ښځو چارو د وزارت، د ښځو په وړاندې د خشونت لومړی دیتابیس ۲۲-۳۳مې صفحې ته مراجعه وکړی کوم چې پایلې یې د پخپل سری توقیف او منظمو څارنو څخه ټولې کړي دي. )
۳۶ د بیلګې په توګه، په شبرغانو کې، یوه ۱۹ کلنه ښځه د کور څخه د تیښتې په جرم د ۲۰۰۷م کال د اپریل په ۲۶مه نیټه توقیف شوه او د AIHRC د مداخلې څخه وروسته خوشې شوه
۳۷ UNODC, supra. ۲۲
۳۸ د ریاست جمهوری د فرمان له مخې یوه ۲۲کلنه ښځه خوشې شوه او د توقیف څخه د ۲۰۰۷م کال د اکتوبر په ۲۰مه نیټه آزاده شوه. د یوې ۱۶ کلنې نجلۍ جزا تر اوو میاشتو پورې کمه شوه.
۳۹ د څارنې برسیره، UNODC, supra n ۳۳. pp ۲۱-۲۲ ته مراجعه وکړی.
۴۰ هغه د ۲۰۰۷م کال د جون په دویمه نیټه محکومه شوه. هغې د توقیف په مهال یو ماشوم وزیږاوه او د دوه کلونو بند جزا ورکړل شوه. د هغې اکا تورن او محکوم شو، او همدارنګه په نقدي جریمه ۱۲۰۰ افغانۍ یا ۲ کاله حبس محکوم شو. په یوه بله قضیه کې، یوه ۱۵ کلنه نجلۍ د کامې د ولسوالۍ څخه په زنا تورنه شوه او په ننګرهار کې د عدلیې وزارت په توقیف کې د ۲۰۰۷م کال د اپریل په ۱۵مه نیټه توقیف شوه. د کامې د ولسوالۍ ملي پولیسو د ۲۰۰۷م کال د اپریل په ۱۰مه نیټه راپور ترلاسه کړچې هغه د دوو تنو سړیو له خوا اختطاف شوه او زبر زنا ورسره وشوه. کله چې قضیه د کامې ابتدایه محمکې ته ورکړل شوې نو هغه چا چې د ده سره زبر زنا کړې وه توقیف شول. د ۲۰۰۷م کال د مې په ۱۶مه نیټه، زبر زناکوونکي په ضمانت خوشې شول چې په پایله کې تورونه ترې لیرې شول. نوموړې نجلۍ د ۲۰۰۷م کال د سپتمبر د میاشتې تر ۱۶مه نیټې پورې په توقیف کې پاتې شوه.
۴۱ د هرات د ولایت د اوبې په ولسوالۍ کې، یو ۶۵کلن سړی د بې حرمتی په تور باندې توقیف شو، حقیقتاً مسئله د ځکمې د شخړې په سر د ملا او محبوس

تر منځ وه.

۴۲ د ننګر هار ولایت د رودات په ولسوالی کې یو خبریال د پولیسو له خوا توقیف شو په داسې حال کې چې هغه د تریاکو د کښت په اړه د مظاهرو راپور جوړووو.

۴۳ د افغانستان قانون د تورن شوي یا مشکوکه کسانو د خپلوانو یا ملګرو توقیف د هغه د جرم له امله منع کړي دي (د افغانستان د اساسي قانون ۲۶مه ماده ) او یا په تورن شوي یا په مشکوکه کس فشار راوستل چې تسلیم شي یا اقرار وکړي (د افغانستان د اساسي قانون ۲۶ - ۲۷مه ماده). همدارنګه د دغې وروستی موضوع په هکله د بشري حقوقو کمیټې دغه ډول توقیفونه وموندل چې پخپل سري و: ۱۹۷۷/۱۶ شمیره مفاهمه Monguya Mbege et al. v. Zaire، زایر (نظریات د ۱۹۸۳م کال د مارچ په ۲۵مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو د GAOR, A/۴۰/۳۸, p. ۱۴۰, para. ۲۰-۲۱په راپور کې

۴۴ تضمین کوونکی هم توقیف شوي دي کله چې تورن کس ونه کړای شو چې خپلې ژمنې پوره کړي. دغه ډول یوه قضیه په ۲۰۰۷م کال کې د کاپیسا ولایت د لومړي کوهستان په ولسوالی کې پېښه شوه، کله چې تورن کس ونه کړای شو چې د بانک څخه اختلاس شوې دری میلیونه افغانۍ بېرته تادیه کړي او دهغه ځای څخه وتښتیدو.

۴۵ څلور تنه د څارنوال په امر د ۲۰۰۶م کال د نومبر په ۳۰ مه نېټه توقیف شول او د ۲۰۰۷م کال د جنوری په ۱۷مه نیټه د یوناما له خوا ورسره مصاحبه وشوه.

۴۶ د ترلاسه شویو راپورنو له مخې، سړی د توطئه کوونکي په توګه تورن نه شو یا داچې په وژنه کې ښکیل دی.

۴۷ د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۸م کال د جولای په میاشت کې د امنیت ملي ریاست یو خبریال په کابل کې ونیوه او توقیف یې کړ چاچې د کرزي د اداري په هکله مهمه څیرنه خپره کړې وه . په احتمالي توګه، خبریال د افغانستان څخه بهر د پناه ګاه په لټه کې شو دهغې ویرې له لاسه چې ژوند یې د ګواښ سره مخ و. هممدارنګه، د ۲۰۰۸م کال د جولای په میاشت کې، د ملي امنیت ریاست یو بل خبریال د دوه تنو د وژلو په اړه د راپور جوړولو لپاره د غزني په ولایت توقیف کړ. د ادعا له مخې د طالبانو له خوا ترسره شوی و. د محلي مشرانو او یوناما د مداخلې څخه وروسته هغه خوشې شو. په ۲۰۰۷م کال کې یو تن خبریال په بغلان کې او بیا په ۲۰۰۸م کال کې د هغې مقالې لپاره ونیول شول کوم د کرزي د اداري په هکله یې لکیلې وه. په لومړي مثال کې، خبریال د ادعا له مخې وروسته د دې خوشې شو چې دهغه وزیر څخه یې معذرت وغوښت کوم چې نوم یې په مقاله کې لیکل شوی و. په دویم مثال کې، د مرافعې محکمې د ابتدایي محکمې محکومیت د داخلي او بهرني امنیت د قانون د ۷مې مادې په اساس وګرځاوو. د پرویز سید کمبخش قضیه چې یو زده کوونکی خبریال د مزار شریف څخه و په کفر ویلو تورن و، ، همدارنګه ښایي د هغه زیار سره تړاو ولري کوم چې د هغه اونورو د بیان د آزادۍ څخه انکار شوی و. د قضیې د سیاسي او مذهبي پیچلو شرایطو داخبره ستونځمنده کړې ده چې پریکړه وشي که چیرته دا یو اصلي نیت وئ او یا ان که یو بل وئ.

۴۸ د ICCPR ۹ (۲) او ۱۴ (۳) مه ماده

۴۹ د ICCPR ۹ (۳) مه ماده

۵۰ د ICCPR ۹ (۴) مه ماده

۵۱ د ICCPR ،۷ ۱۰(۱) او ۱۴ (۳) مه ماده، او دسکنجې په مقابل کې تړون

۵۲ د UDHR ۱۰ ماده ، د ICCPR ۹(۳)، (۴) او ۱۴ (۳) (b) (d) او مه ماده ، برسیره پردې، غیر منل شوي نړیوال اسناد لازیات تضمین برابروي، پشمول د اصولو ۱۱(۱) ماده، په هر ډول توقیف کې د ټولو بندیانو د ساتنې لپاره د اصولو مسئولین، ۱۹۸۸.

۵۳ د ICCPR ۹ (۳) او ۱۴ (۳)(c) مه ماده

۵۴ د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مه او ۲۷ (۳) ماده او د ICCPR ۹ او ۱۴ مه ماده

۵۵ د افغانستان د اساسي قانون ۲۲مه ماده او د ICCPR ۱۴ (۱)او ۲۶ مه ماده د ، ICCPR ,۵(a) مه مادهCERD او مفاهمې ۱۹۹۶/۶۹۴ شمیره، Waldman v. Canada (نظریات د ۱۹۹۹م کال د نومبر په ۳مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو د GAOR په راپور کې A/۴۰/۵۵ (vol. II), pp ,۹۷۰۹۸ para. ۱۰

۵۶ د ICCPR ۹ (۳) مه ماده

۵۷ د ICCPR ۹ (۳) مه ماده، دوره اې بیا کتنه: د مفاهمې ۱۹۸۸/۲۹۱ مه شمیره M. Torres v. Finland ، (نظریات د ۱۹۹۰م کال د اپریل په ۲مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو سند د GAOR په راپور کې A/۴۰/۴۵ (vol. II), pp ,۱۰۰-۱۰۹ para. ۷,۳. د نور ترمنځ

۵۸ د مفاهمې ۱۹۸۸/۲۹۱ مه شمیره M. Torres v. Finland ، (نظریات د ۱۹۹۰م کال د اپریل په ۲مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو سند د GAOR په راپور کې A/۴۰/۴۵ (vol. II), pp ,۱۰۰-۱۰۹ para. GAOR, A۴۰/۴۵/۷,۳ (para ,vol. II) ۷,۳.,۱۹۸۹/۳۷۳ L. Stephens ، د ملګرو ملتونو سند د v. Jamaica نظریات د۱۹۹۵ کال داکتوبر۱۸ ومنل شول . GAOR, A/۴۰/۵۱ (vol. II), p ,۹ para. ۹,۷,

۵۹ د مفاهمې . ۱۹۸۱/۸۴ مه شیمره، H. G. Dermit دH. G. Dermit Barbato And H.H. Dermit Barbato G. I. په استازیتوب (نظریات د ۱۹۸۲م کال د اکتوبر په ۲۱مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې A/۴۰/۳۸, pg. ۱۳۳, para. ۱۰

۶۰ L. Stephens v. Jamaica, supra.

۶۱ د R.۹/۲, E.D. Santullo Valcado v. Uruguay مفاهمې ته مراجعه وکړی (نظریات د ۱۹۷۹م کال د اکتوبر په ۲۶مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې

A/۳۵/۵۰, p. ۱۱۰, para. ۱۲, and Communication No. R ۱/۴, W. T. Ramirez v. Uruguay (Views adopted on ۲۳ July ۱۹۸۰), p. ۱۲۶, para. ۱۸

همدارنګه د یادوني وړ ده که چیرې یو محبوس یا حقوقي نماینده (مدافع وکیل) ونکړای شي چې د موقع څخه استفاده وکړي ترڅو توقیف تر سوال لاندې راولی، نو د بشري حقوقو کمیټه و نه کړای شی چې پریکړه وکړی که چیرته د بندي د دغه حق څخه انکار وشی. L. Stephens v. Jamaica راپورته مراجعه وکړی (نظریات د ۱۹۹۵م کال د اکتوبر په ۱۸مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې A/۴۰/۵۱ (vol. II), p ,۹ para. ۹,۷

۶۲ د ICPC ۳۳-۳۴ مه ماده. وروسته، د افغانستان قانون په عمومي توګه لومړنی څارنوال ته مسؤلیت ورکړ چې د توقیف قانونیت وڅاری (د زمانی چوکاټونو سره د مطابقت په شمول پرته د محکمې د وروستیو پریکړو څخه) او د خوشې کیدو امر ورکول کله چې پخپل سری توقیف وي ICPC and Articles ,۸۴ ,۳۶ ,(۲)۳۴ ,(۴)۸ ,(۳)۶ and ۲۲ ۵۱ او د بندیخانو او توقیفونو د قانون

۶۳ د Kulomin v. Hungary د مفاهمی ۱۹۹۲/۵۲۱ (نظریات د ۱۹۹۶م کال د مارچ په ۲۲مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کی A/۵۱/۴۰ (vol. II), p. ۸۱, ۱۱,۳ para and Torres v. Finland, supra n ۵۸, para. ۷,۲

۶۴ د Saimijon and Bazarov v Uzbekistan. د مفاهمی ۲۰۰۰/۹۵۹ شمیره (نظریات د ۲۰۰۶م کال د جولای په ۱۴مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو په سند کې CCPR/C/۸۷/D/۹۵۹/۲۰۰۰ (۲۰۰۶), para. ۸,۲

۶۵ د M. Freemantle v. Jamaica د مفاهمي ۱۹۹۵/۶۲۵ شمیره (نظریات د ۲۰۰۰م کال د مارچ په ۲۴مه نیټه ومنل شول) ، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې
A/۵۵/۴۰ (vol. II), pg. ۱۹, para. ۷,۴ او د Stephens v. Jamaica مفاهمه۱۹۸۹/۳۷۳ supra n.۶۱, para ۹,۶ د نورو ترمنځ

۶۶ جنایی توقیف د نیوني څخه وروسته تر ۱۵ ورځو پورې د قاضی تر کنترول لاندې نه راوستل کیږي. ان تر هغه وروسته، محکمې ته هدایت نه ورکول کیږي چې د توقیف قانونیت و ارزوي (د ICPC ۳۶مه ماده)

۶۷ Torres v. Finland, supra n.۵۸, para. ۷,۴

۶۸ د ICPC ۳۳مه ماده (د نیوني او توقیف په اړوند د څارنوال تصدیق)، ۳۶مه ماده (د صورت دعوا د وخت د غځیدو په هکله) یا ۳۸مه ماده (د مدافع وکیل د موجودیت په هکله ) بندي یا مدافع وکیل ته هدایت یا اجازه نه ورکوي چې حاضر وي او د پریکړو په وخت کې د څارنوال څخه وپوښتي. په حقیقت کې، یوتن کولای شي چې استدلال وکړي چې په ۳۸مه ماده کې د دغو رسمی اسنادو د مؤخذ حذفول په اغیزناکه توګه مدافع وکیل منع کوي (او همدارنګه محبوس) چې نیونیې یا توقیف د قانونیت په هکله وپوښتي.

۶۹ دواړه مادې ، ۹(۳) او ۹(۴) د محبوس موجودیت غواړي. په ځانګړي توګه ۹(۳) مه ماده بیانوي چې محبوس د قاضی مخ ته باید راوستل شي.

۷۰ د بیلګې په توګه د Dudko v. Australia ۲۰۰۵/۱۳۴۷ شمیري مفاهمي ته مراجعه وکړی (نظریات د ۲۰۰۷م کال د جولای په ۲۲مه نیټه ومنل شول) CCPR/C/۹۰/D/۱۳۴۷/۲۰۰۵, ۲۹ August ۲۰۰۷, para. ۷,۴، د G. I. او H.H. Dermit Barbato په استازیتوب د H. G. Dermit . ۱۹۸۱/۸۴ شمیره مفاهمه (نظریات د ۱۹۸۲م کال د اکتوبر په ۲۱مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې A/۳۸/۴۰, pg. ۱۳۳, para. ۱۰)R. and Communication No. b.۷/۲۸), Weisenberger v. Urugua. L

۷۱ د ICPC ۳۳مه ماده (د نیوني او توقیف په اړوند د څارنوال تصدیق)، ۳۶مه ماده (د صورت دعوا د وخت د غځیدو په هکله) یا ۳۸مه ماده (د مدافع وکیل د موجودیت په هکله ) بندي یا مدافع وکیل ته هدایت یا اجازه نه ورکوي چې حاضر وي او د پریکړو په وخت کې د څارنوال څخه وپوښتي. په حقیقت کې، یوتن کولای شي چې استدلال وکړي چې په ۳۸مه ماده کې د دغو رسمی اسنادو د مؤخذ حذفول په اغیزناکه توګه مدافع وکیل منع کوي (او همدارنګه محبوس) چې نیونیې یا توقیف د قانونیت په هکله وپوښتي.

۷۲ د M. and B. Hill v. Spain ۱۹۹۳/۵۲۶ شمیره مفاهمه، (نظریات د ۱۹۹۷م کال د اپریل په ۲مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو د GAOR په سند کې
A/۵۲/۴۰ (vol II), p. ۱۷, para. ۱۲,۳

۷۳ د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مه او ۲۵ ماده

۷۴ د ICCPR ۹ (۳) مه ماده

۷۵ د افغانستان د اساسي قانون (۱)۲۴مه ماده

۷۶ د افغانستان د اساسي قانون ۲۴مې مادې ، د ICCPR ۴ او ۳۴ (۲) مې مادې او ۴۹مې مادې او ۴۹مې مادې پورې ضمیمه شوي جدول، د جنایی قانون د کړنلارې اتم فصل، په ۱۹۷۴م کال کې د جنایی قانون د کړنلارې اصلاح شوي قانون ته مراجعه وکړی

۷۷ د The Netherlands Hugo van Alpen v ۱۹۸۸/۳۰۵ شمیره مفاهمه (نظریات د ۱۹۹۰م کال د اګست په ۱۵مه نیټه ومنل شول)، د ملګرو ملتونو په سند کې. CCPR/C/۳۹/D/۳۰۵/۱۹۸۸, para. ۵,۸

۷۸ د ICCPR ۴مه ماده

۷۹ د لازیاتو معلوماتو لپاره د UNODC د حبس لپاره د بلې لارې چارې د تطبیق او نړیوالو معیارونو او ملی قانون ته مراجعه وکړی، ۲۰۰۸م کال د می میاشت

۸۰ معمولاً دغه سرغړونه د دوه ورځونه تر ۲ اونیو پورې ده. دغه عدم مطابقت اکثراً دې ټکی پورې تړاو لري چې د پولیسو د غفلت په پرتله د ولسوالې څارونوالان یا حاضر نه وي او یا ځنډیږي. په حقیقت کې، د توقیف د ټولو چارواکو څخه، پولیس اکثراً د قانونی وخت حدودوته درناوی کوی، او په ځینو سیمو کې د پولیس ریفورم شرایط اصلاح کړي دي. خوبیا هم سرغړونه پیښیږي. د ۲۰۰۸م کال د جولای په ۱۴مه نیټه، یوناما ومونده چې د هرات ولایت د پولیسو په کوټه قلفی کې ۵۲ تنه مشکوک خلک ساتل شوی و، ۴۰ تنه د قانونی وخت یعنې ۷۲ ساعتونو څخه زیات تر ۴۰ ورځو پورې توقیف شوي و. د ډایکندی ولایت د کیټی او میرامور په ولسوالیو کې پولیسو مشکوک خلک د ۷۲ ساعتونو څخه زیات ساتلی و کله چې څارنوال څوک چې په ولسوالی کې نه و او وي نکړای شو چې د توقیفیانو سره په ټاکلی وخت کې مصاحبه وکړي. په نورو قضیو کې، پولیسو توقیفیان د زیاتې مودې لپاره پرته له دې چې د توقیف څارنوال ته خبر ورکړي ساتلی و. د ورث په ولسوالي کې، پولیسو څارنوال ته د یوه سړی د توقیف به هکله کوم چې په یوې وژنه کې مشکوک و تر لسو میاشتو پورې خبر ورنکړ، او وروسته بیا AIHRC مداخله وکړه

۸۱ څارنوالان په منظم ډول دهغه وخت د حدودو سره په مطابقت کې پاتې راځی کوم چې په قانونی توګه ټاکل شوي دی البته د هغو توقیفیانو په اړوند د چا سره چې مصاحبه شوې ده او صورت دعوا د هغوی په مقابل کې جوړه شوې ده. څارنوالان باید د توقیفیانو سره د ۴۸ ساعتونو په موده کې مصاحبه وکړی، التبه د هغه وخت څخه وروسته چې خبر ورکول کیږي (د ۳۴(۱) ICPC مه ماده)، بلکې د ۷۲ ساعتونو څخه زیات ځنډ پیښ نه شی وروسته د نیونی څخه (د ICPC ۲۱(۱) مه ماده). کله چې د نیونی او مصاحبې دواړه نیټې جوته وي، څارني وموندله چې څارنوالان د ټاکل شوی وخت د حدودو سره سمون نلري، اکثراً تر څو اونیو پورې د توقیفیانو سره مصاحبه نکوي او په ډیرو جدي قضیو کې ان تر میاشتو پورې. معمولاً د دغه ځنډونو لپاره مؤجه دلیلونه موجود نه وي. د څارني په لومړي پړاو کې، دغه ټکې وموندل شو چې څارنوال په ۱۰۳۸ څارل شویو قضیو کې ۹۷٪ د وخت د حدودو څخه تیری کړی دی او دغه دوره د ښځو او سړیو لپار یو شان وه. همدارنګه، څارنوالان د ۱۵ او ۳۰ ورځو د زمانی چوکاټ څخه کوم چې په ICPC کې طرحه شوی دی سرغړونه کوی او همدارنګه د دوسیه جوړولو او صورت دعوا په جوړولو کې پاتې راځی (د ICPC ۳۶ مه او ۳۹مه ماده). د ستري محکمی عالي شورا د ۲۰۰۶م کال د جولای د ۱۷ مې نیټی په خپل ۷۲۰م شمیری یاداشت کې بیانوی چې دغه سرغړوني یوه ستونځه ده.

۸۲ د افغانستان د اساسی قانون ۳۱(۲) مي مادی يوه تورن ته (که توقيف شوی وی او که نه) دا حق ورکړی چې د محکمې مخ ته په هغه وخت کې راوستل شی کوم چې په قانون کې ځانګړې شوي دي

۸۳ د ICPC ۶(۲) مه ماده. د بيلګې به توګه، يوناما وموندله چې د بلخ، سرپل، جوزجان اوفارياب په ولاياتوکې د پنځو مياشتو په زمانی چوکاټ کې د ۲۰۰ ځخه زياتې قضيې د سترې محکمې پريکړې ته سترګې په لار دي، او د ۲۰۰۷م کال د مارچ د مياشتې د ۳۱مې نيټې نه راپه دې خوا د کابل، پروان، لوګر، کاپيسا، پنجشير او وردکو په ولاياتوکې ۳۳۸ قضيې د ټاکلی وخت څخه زياتې پاتې دي. د ځارنې په لومړي پړاو کې، په کندز، بغلان، بدخشان، او تخار په ولاياتو کې ۴۲ تنه توقيفيان د ۵ مياشتو ځخه زيات د سترې محکمې پريکړې ته سترګې په لار دي. او د ۲۰۰۷م کال د دسمبر تر مياشتې دغه شمير تر ۱۸۷ تفکيک شويو قضيو پورې زيات شوی دی (۶۲ په کندز کې ، ۱۵ په بغلان کې، ۳۲ په بدخشان کې ، ۳۸ په تخار کې). به کابل کې، يو سړی په وژنه تورن شو او دوسيه يې په ۲۰۰۶م کال کې مرافعې ته ولاړه لاتر اوسه د محکمې پريکړې ته سترګې په لاره دی. د سترې محکمې د پلټنې پلاوی د ۲۰۰۷م کال د اګست په مياشت کې غور ولايت ته ولاړ او ۲۰ قضيې يې وټاکلی چې د سترې محکمی له خوا زياتې مودې لپاره ځنډو ل شوې وې. د توقيفيانو قضيې ملاحظه شوې او هغوی خوشې شول. د غزنی د ولايت ځخه يو ديرش کلن سړی دومره نيکمرغه نه و. هغه د خپلې جزا په پرتله لس مياشتې زياتې په توقيف کې پاتې شو، د سترې محکمې پريکړې ته سترګې په لار دی.

۸۴ د ICPC ۶(۲) مه ماده. د هيواد په شمال ختيځ کې شرايط ډير ويجاړ دي، چيرته چې ۸۰٪ (د ۴۷ځخه ۳۸) قضی د ټاکلی وخت ځخه د زياتې مودې لپاره پاتې دی. د ۲۰۰۷م کال د اپريل په مياشت کې، د بغلان ولايت د عدليې وزارت په توقيف کې د بنديانو شمير ډير زيات شو ځکه د هغوی دوسيې د زياتې مودې لپاره په مرافعه کې ځنډيدلې وې. همدارنګه د لوړې اعتصاب په ۲۰۰۸م کل کې د پلچرخی (د ۲۰۰۸م کال د مارچ د مياشتې د ۱۸ – ۲۳ مي پورې) او د کندهار په توقيف کې رامنځته شو. د ځارنې په لومړي پړاو کې، د قضيو ۶۰٪ وځارل شوې کوم چې په مرکزي سيمه کې (کابل، پنجشير، پروان، کاپيسا، لوګر او وردګ) د مرافعې پريکړې ته سترګې په لار وې او د دغو دوسيو د قانونی وخت ځخه تر ۲ مياشتو پورې سرغړونه شوې وه. په هغه قضيه کې چې د خوست په ولايت کې وټاکل شوه، يو سړی چې په وژنه کې تورن شوی و تر ۲ کالو پورې د خوست د مرافعې محکمې پريکړې ته سترګې په لار و. دغه ډول قضيې کوم چې د هغوی د زمانی چوکاټ ځخه سرغړونه شوې ده په هر سيمه او د ځارنې په پړاو کې وموندل شوې.

۸۵ د ۳۴ قضيو له ډلې ځخه کوم چې د ابتدايه محکمې په کچه په کندز، بغلان ، بدخشان او تخار په ولاياتو کې د ځارنې په لومړي پړاو کې ټاکل شوي دی د ۱۹ قضيو (يا ۵۶٪) وخت تيرشوی دی. د هيواد په جنوب ختيځيه سيمه کې (پکتيا، پکتيکا، خوست، او غزنی په ولاياتوکې ) د ځارنې په لومړی پړاو کې د زياتې مودې پاتې شوې قضی ټاکلی شوې دی. په نورو ځارنو کې ډير کم بدلون وموندل شو. د بيلګې په توګه، د پروان په ولايت کې دوه سړی په وژنه تورن و کوم چې د ۲۰۰۷م کال د مارچ په ۲۷مه نيټه ونيول شول، د هغوی لپاره صورت دعوا په سم وخت سره جوړه شوه ، خو د ۷ مياشتو ځخه زيات محاکمې ته سترګې به لار و.

۸۶ د بيلګې په توګه، د خوست په ولايت کې، ځارونکو وموندله چې دوه سړي کوم چې د اداری فساد باندې محکوم شوي و ۴ مياشتې زياتې د ټاکل شوې جزا د تيريدو ځخه په توقيف کې پاتې و.

۸۷ نور بنديان نه خوشې کيږي ځکه هغوی نشي کولای چې نقدي جريمه د جزا د يوې برخې په توګه تأديه کړي. دغه ډول قضيه د يوه ۲۶ کلن سړي وه کوم چې په تخار کې د غلا په تور محکوم شوی و. د سترې محمکې د پريکړې سره سره کوم چې د جزا موده يې پوره شوې وه هغه خوشې نه شو، ځکه هغه ونه منله چې د جزا نقدي جريمه تأديه کړي. همدارنګه يوه ورته قضيه په کندز کې پيښه شوه په کوم کې چې يو ۵۸ کلن سړي د جزا د مودې ځخه زيات په توقيف کې پاتې شو سره له دې چې د ځارنوال له خوا د خوشې کيدو سند موجود و، ځکه هغه ونکړای شو چې نقدي جريمه د محکمو د جزا د يوې برخې په توګه تأديه کړي. د اوسنې قانون په شرايطو کې، کيدای شي چې د حبس شرايط تر ۹۰ ورځو پورې اوږده شي که چيرته محبوس نقدي جريمه د هغه د جزا د يوې برخې په توګه تأديه نکړي. کيدای شي چې د حبس موده تر ۹۰ ورځو پورې اوږده شي که چيرته محبوس د محکمې فيسونه تأديه نکړي. له دې امله کيدای شي چې د حبس موده په قانوني توګه تر ۶ اضافي مياشتو پورې اوږده شي که چيرته د مناسبې کړنلارې او امرونو ځخه پيروي وشي. د کړنلارو او امرونو ځخه تل پيروي نکيږي، او نه هم زماني حدود رعايت کيږي.

۸۸ يوناما د ۲۰۰۷م کال د جولای په مياشت کې په کابل کې د دغو سې بنديانو يولست سترې محکمې ته د اجرااتو لپاره ورکړ، خو د سترې محکمې له خوا کوم اجراات تر سره نشول. د ۲۰۰۸م کال د اپريل \مې د مياشتې په پلچرخي کې د اله ګولې ځخه وروسته، يوه کميټه چې د ICRC, CSSP, MoD او MoJ جوړه شوه هغه بنديان خوشې کړل کوم چې نې شو کولای چې يو تضمين کوونکي برابر کړي ځکه داسې داسې يو قانوني بنسټ نه وچې هغوی بنديان شي. يوه ورته نموده د پروان په ولايت کې هم پيدا شوه.

۸۹ د سترې محکمې د عالي شورا يادابنت، ۹۹۰م شميره، د ۲۰۰۶م کال د فبروری ۲۹مه

۹۰ د افغانستان د اساسي قانون ۲۹ – ۳۱ مادې ، د ۵(۵-۷), ۳۱, ۵۳(ICCPR ,(g مادې، د نورو ترمنځ

۹۱ د ځارنې په لومړي پړاو کې، ۷۸٪ (۸۷۹ تنه د مصاحبې ځواب ورکوونکي ) راپور ورکړ چې هغوی ته چا د مدافع وکيل د درلودلو د حق په هکله خبر نه و ورکړی، او ۵۴.۵٪ (۶۱۵تنه د مصاحبې ځواب ورکوونکي) راپور ورکړ چې هغوی ته چا د دې حق په هکله خبر ورنکړ کوم چې هغوی کولای شي د خپل د ځان دفاع وکړي. دغه پايلې په عمومي توګه د وروستنی ځارنې په واسطه تائيد شوې که څه هم ځينې اصلاحات په ختيځه سيمه کې ملاحظه شول. په هغو مثالونو کې کله چې بنديانو ته د دغه حق په هکله خبر ورکړل شوی هغه په وار وار سره د محکمې له خوا په لومړي رسمي غونډه کې ترسره شوی دی، نه دا چې د پوليسو يا ځارنوال له خوا خبر ورکړل شي د دې سره سره چې د هغوی ځخه غوښتنه کيږي چې دا کار وکړي. (د ۵(۷)ICPC مه ماده )

۹۲ د بيلګې په توګه، د ۲۰۰۷م کال د نومبر په مياشت کې راپور ورکړل شو چې ۱۰ تنه بنديانو د هرات او بادغيس ځخه راپور ورکړ چې هغوی ته د مدافع وکيل د درلودلو د حق په هکله معلومات ورکړل شوي دي، ۵ تنو بنديانو مدافع وکيلان درلودل کوم چې د پوليس د پوښتنو په مهال حاضر و خو يوازې ۳ تنو بنديانو مدافع وکيلان درلودل چې د محاکمې په مهال حاضر و. معمولاً د پوليسو او ځارنوالانو د پوښتنو په مهال کوم مدافع وکيل حاضر نه و. هغو بنديانو چې د لومړی ځارنې په مهال مدافع وکيلان در لودل، يوازې ۱.۴٪ ( ۱۶ تنه د مصاحبې ځواب ورکوونکي) وويل چې مدافع وکيلان د پوليس د پوښتنو په مهال حاضر و، او ۲.۷ (۳۱ تنه د مصاحبې ځواب ورکوونکي) وويل چې مدافع وکيلان د ځارنوال د پوښتنو په مهال حاضر و. په محکمه کې، مدافع وکيلان به ډير زيات نه حاضريدل. هغه سيمی چې د ملاحظاتو د قانوني سيستم په پروژه کې يې ګډون کړی و دا پايله تر لاسه شوه چې په عمومي توګه د نيمايي ځخه کم محبوسينو د خپلو محاکمو په مهال مدافع وکيلان درلودل. د ۲۶ قضيو ځخه چې په کندز، تخار، او بغلان کې تفتيش شوې، يوازې په ۶ قضيو کې (۲۵٪) مدافع وکيلان حاضر و. په هرات، بادغيس، لغمان، او کندهار کې مدافع وکيلان څه ناڅه په نمايي وخت کې حاضر و. د ځارنې په لومړي پړاو کې، بياهم، يوازې ۵۱ تنو د مصاحبې ځواب ورکوونکو (۴،۵٪) راپور ورکړ چې مدافع وکيلان د محاکمې په مهال حاضر و. وروسته د پاملرنې وړ بدلون رامنځته نه شو. (لطفاً

يادابښت کړئ چې په ډيري سيموکې کوم چې محاکمې د LSOP په مهال ځارل کيدلې حقوقي او مؤسساتي قضيې وې. ډيري وختونه د قانوني مرستې مؤسسات د معلوماتو ډاډمنه منبع ده دا چې کوم وخت رسمي غونډې جوړيږي. د دغه اصل په نظرکې نيولو سره، د LSOP په مهال د مدافع وکيلانو ارقام غټ ورښودل شوي دي.

۹۳ البته په هغو ولاياتو کې چې د قانوني مرستې مؤسسات فعاليت ترسره کوي، لکه په کندز کې (نړيوال قانوني فونډيشن، په مزار شريف کې (ميديکا منديال او د همکارۍ مرکز د افغانستان د ښځو لپاره)، په هرات او غزني کې (قانون غوښتونکي )، ډير زيات احتمال لري چې بنديان مدافع وکيل ولري. د قانوني سيستم د ملاحظاتو د پروژې (LSOP) پايلې به دغه لاسته راوړنه وي. چيرته چې د مرستې قانوني مؤسسات ظرفيت درلود او موحود وې، نو د مدافع وکيلانو موحوديت ډير ښه و. د ۳۱ څخه زياتې قضيې کوم چې په ننګرهار او لغمان کې ملاحظه شوي دي (د قانوني مرستې مؤسسات فعاليت تر سره کوي)، مدافع وکيلان په ۱۹ قضيو کې موجود و. په هرات او بادغيس کې، مدافع وکيلان د ۳۷ قضيو له ډلې څخه کوم چې ملاحظه شوي په ۱۶ قضيو کې حاضر و

۹۴ دا لاندې يو څو مثالونه وړاندې کيږي. د بدخشان ولايت د فيض آباد په دريمه ناحيه کې، يو سړی په غلا تورن شو، د ادعا له مخې د ۲۰۰۷م کال د فبرورۍ په مياشت کې دوه تنو پوليسانو د هغه لاسونه د ټوپک په باروتو وسوځول ترڅو په جبري توګه اقرار ترې واخلي. د ۲۰۰۷م کال د سپتمبر په ۶مه نيټه، د پوليسو د ادعا له مخې دوه تنه چې په غلا تورن و د کندز ولايت د امام صاحب په ولسوالۍ کې ووهل ترڅو جبري اقرار ترې نه واخلي. يو نظامي څارنوال د ډايکندي ولايت د نيلي په ولسوالۍ کې اقرار وکړ چې دوه تنه محبوسين کوم چې هغه يې د سکنجې لپاره تورن کړ په څپيړه ووهل تر څو په جبري توګه ترې اقرار واخلي البته د هغې وژنې په اړه کوم چې د ۲۰۰۷م کال د جون په ۲۴مه پيښه شوې وه. د کندهار ولايت د ډند په ولسوالۍ کې، د ۲۰۰۷م کال د جون په ۱۵مه نيټه ۳ تنه سړي د دولت ضد عناصرو سره د تړاو له امله ونيول شول، د دې لپاره چې په جبري توګه اقرار ترې واخلي، هغوی د پوليسو له خوا د ټوپک په قنداق ووهل شول، او ګواښ يې ورته وکړ چې امريکايي ځواکونو ته به يې وسپاري، او بيا د کندهار د ۳مې ناحيې د پوليسو له خوا ووهل شول مخکې له دې نه چې د ۲۰۰۷م کال د جون په ۱۶مه نيټه د کورنيو چارو د وزارت توقيف ته واستول شي.

۹۵ کوم توپير لرونکي عوامل و چې د دې سبب شول چې بنديانو ته د دغه حق په هکله خبر ورنکړي. د بيلګې په توګه، په جنوب ختيځه سيمه کې، په داسې حال کې چې معمولاً پوليس نه شو کولاي چې محبوسينو ته د دغه حق په هکله معلومات ورکړي، څارنوالانو او محکمو هم دغه کار ترسره کړ. په شمالي سيمه کې، نه پوليسو او نه څارنوالانو بنديانو ته د دغه حق په هکله خبر ورکړ، په داسې حال کې چې په لويديځه سيمه کې پوليس، څارنوالانو او قاضيانو بنديانو ته د دغه حق په هکله خبر ورنکړ

۹۶ د ۲۰۰۷م کال د نومبر په ۷مه نيټه، د AIHRC-UNAMA ګډ غبر ګون د معلومات د غوښتنې لپاره د شمالي سيمې له خوا

۹۷ دغه انګيرنه، په داسې حال کې چې د غير رسمي عدالت په سيستم کې نه وړاندې کيږي، نو په احتمالي توګه د هغه عدالت څخه سرچينه اخلي کوم چې په عمومي توګه د ټولنې په کچه وړاندې کيږي چيرته چې مرتکبين په چټکۍ سره ټاکل کيږي

۹۸ د پوليسو، څارنوالانو او محکمو دواړه اعلاميي او تمرينونه دغه انګيرنه ورښيي چې شته او مخ په خپريدو ده. بيانيې لکه، بشري حقوق زمونږ کارته ځنډ پيښوي او تمرينونه لکه دا پريکړه چې بنديانو ته د هغوی د حق په هکله خبر ورنکړای شي، د مدافع وکيلانو ګوښه کول يا هغوي ته ځنډ پيښول دغه انګرينه ورښيي

۹۹ Ibid

۱۰۰ د لازياتې مباحثې لپاره لطفاً د ښځو د چارو وزارت، د ښځو په وړاندې د تيري لومړنی ډيتابيس او د افغانستان UNODC ته مراجعه وکړئ: ښځينه بندياني او هغوی ټولنيزه بيا ميشته کيدنه، ۲۰۰۷م کال د مارچ مياشت په افغانستان کې د ښځو د وضعيت په هکله د لازياتې مباحثې لپاره

۱۰۱ د قضيو لپاره دريمې برخې د A(۲)(b) سکشن ته مراجعه وکړی.

۱۰۲ د نړيوال معيارونو او د ملي قانون سره يوځای د حبس لپاره د UNODC د بلې لارې چارې د تطبيق ځانګې ته مراجعه وکړئ.
http://www.unodc.org/documents/justice-and-prison-reform/Afghanistan_Implementing_Alternatives_Imprisonment.pdf

۱۰۳ کله چې دواړه يوځای امتحان شول، نو ICPC او د بنديخانو او توقيفونو قانون د څارنې لومړني صلاحيت د عدليې په وزارت کې او په لوی څارنوالی کې توقيفونو ته ورکړ. د عدليې وزارت د توقيف د رسمي چارواکو څخه غوښتنه کيږي چې توقيفيان او بنديان خوشې کړي کله چې د وخت قانوني حدود کوم چې په ICPC کې طرحه شوي دي يا د جزا وخت ختم شي (د توقيف څخه د مخه محاکمې \ برأت لپاره د بنديخانو د قانون ۲۰(۴) او ۴۹ مادې). له بلې خوا، د افغانستان د اوسني قانون تر قيادت لاندې، لوی څارنوالي (په ځانګړې توګه ابتدايي څارنوال او د څارنې څارنوال) مسئوليت لري چې د توقيف قانونيت او د خوشې کيدو حکم وڅاري کله چې پخپل سری \ غير قانوني توقيف پيښيږي او همدارنګه د زماني چوکاټ سره سمون ورکړي او د محکمې ورستی پريکړې اجرا کړي ( د ICPC ۶(۳), ۸(۴), ۳۴(۲), ۳۶, ۸۴ مادې او د بنديخانو او توقيفونو د قانون ۲۲مه او ۵۱مه ماده). د اوسني قانون تر قيادت لاندې، محکمه ښايي د خوشې کيدو امر صادر کړي مګر د محکمې لپاره روښانه مقررات نشته تر څو د دغه امر اجراات ډاډه شي، که څه هم، کيدای شي چې دغه صلاحيت وانګيرل شي. د افغانستان د جنايي عدالت په سيستم کې د حقايقو په نظر کې نيولو سره، دغه صلاحيت بايد واضح شي.

۱۰۴ د هغو خبرو اترو په اساس کوم چې د ۲۰۰۸م کال د نومبر په ۳۰مه نيټه د يوناما – يونوکا په ورکشاپ کی د پخپل سري توقيف او د مجازاتو د معافيت په هکله ترسره شوې.

۱۰۵ د عدالت د موسساتو د وضعيت په هکله د مباحثې لپاره د ANDS د ملي عدالت د سکتور ستراتيژۍ ته مراجعه وکړئ.

۱۰۶ د بنديخانو او توقيفونو د قانون ۵۱مه ماده

۱۰۷ د پوليسو په اجرااتو، دندو کې د بشري حقوقو د ساتنې په هکله د کورنيو چارو د وزارت ۰۲۰ شميري د امر لومړی، ۴ (a) او (b) ماده او د ولايت د پوليسو د مرکزي دفتر افسرانو صلاحيتونه د بشري حقوقو په هکله، ۲۰۰۵م کال د نومبر د مياشتې ۳۰مه نيټه.

۱۰۸ د څارنې په ټوله موده کې د توقيف د رسمي چارواکو او څارنوالانو سره خبرو اترو وښودله چې په داسې حال کې چې ځينې څارنوالانو د توقيف مودې ملاحظه کړې، خو دغه ډول څارنه په ټول افغانستان کې منظمه يا ثابته نه وه. د ANP د بشري حقوقو افسرانو دې پايلې ته ورسيدل چې خپل ځان او د هغوی همکاران بايد لازيات د قيموميت سره آشنا کړي، مګر تر يو اندازې پورې يې څارنه هم کوله. خوبياهم، دغه کار روښانه نه و که چيرته د امنيې قومندانان د هغوی پايلې په مناسب ډول نه وې اصلاح کړې.



UNAMA

OHCHR